

# ځوانانو ته لنډ پیغامونه

## رسائل سريعة إلى الشباب


لی[illegible]ل
شیخ عبدالحمید جاسم البلالي

[illegible]نی به
بشير احمد الحنفي


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

## د کتاب پېژندنه

**د کتاب نوم:** ځوانانو ته لنډ پيغامونه (رسائل سريعة إلى الشباب)

**ليکوال:** شيخ عبدالحميد جاسم البلالي

**اعتنى به:** بشير احمد الحنفي

**مراجعه او ډيزاين:** ابو خالد محمد نبي الدين

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library


## مننه او ستاينه

بسم الله الرحمن الرحيم

**الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وآله وصحبه ومن والاه.**

**اما بعد:**

موږ د قدرمن روزونکي، شيخ عبدالحميد جاسم البلالي، مننه کوو چې د «ځوانانو ته لنډ پيغامونه» کتاب يې ليکلی دی؛ هغه کتاب چې د صلاح او اصلاح لاره ښيي.

الله تعالی فرمايي:

﴿إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴾ (هود: ٨٨).

ژباړه: «زه تر خپله وسه پرته له اصلاح بل څه نه غواړم؛ زما توفيق يوازې د الله له لوري دی، پر هماغه مې توکل کړی او هماغه ته ورگرځم».

کله چې الله تعالی له يوه بنده سره مينه وکړي، د خير لار ورته ښيي. د الله رسول صلی الله عليه وسلم هم خبر راکړی چې د خير لارښوونکی د خير د کوونکي په څېر دی.

> نو مخلصو خدمتگارانو ته دې مبارک وي، او د خير د لگښت کوونکو لاسونه دې برکتي وي.
>
> د خير لپاره به تل داسې څېرې وي چې خلک ورته رابولي؛ نېکمرغه هغه څوک دی چې ښې چارې يې پر لاس ترسره کيږي.

ketabton.com - The Digital Library


**وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمین**

**د عامه اړیکو او رسنیو کمېټه**

**سپتمبر ۲۰۰۳م**

ketabton.com - The Digital Library


# سریزه

دا زموږ د ځیګر ټوټو، هلکانو او نجونه ته لنډ پیغامونه دي. دا پیغامونه له هغوی سره زموږ د ژورې مینې، له سمې لارې څخه د هغوی د اوښتو د وېرې، او په دې هیله لیکل شوي چې هغوی د هغو ځلېدونکو ستورو په څېر ووینو چې ټولنه د پرمختګ او سرلوړۍ پر لور رهبري کوي، او پر خپلو هغو ارزښتونو او اخلاقو ویاړي چې زموږ له سپېڅلي دین څخه سرچینه اخلي.

**بوخلاد**

## ۱. زه له تا سره مینه لرم

د رواني طب متخصص ډاکټر مروان المطوع په هغې وینا کې چې د ټولنیزې پالنې د مرکز په «دار الطفولة» کې جوړ شوي سیمینار ته یې وړاندې کړه، د تنکۍ ځوانۍ د مینې له هغې پدیدې څخه خبرداری ورکړ، چې ډېرې نجونې پکې ښکیلېږي. هغه څرګنده کړه:

«د ټولنیزو چارو او عدلیې وزارت احصائیې ثابتوي چې د طلاق تر ټولو لوړه کچه د هغو نارینه‌وو او ښځو ترمنځ ده چې له واده مخکې یې د مینې اړیکه لرله». نوموړي له واده مخکې مینه، په ځانګړي ډول د تنکۍ ځوانۍ پر مهال، نامنطقي او نامتوازنه مینه وبلله.

ځینې نجونې د تنکۍ ځوانۍ په پړاو کې له خیالي احساساتو سره مخ کېږي او داسې چلند ورسره کوي لکه منل شوي حقیقتونه چې وي. د دغو خیالونو تر ټولو څرګند یې دا دی چې ګواکې له مخالف جنس سره د مینې اړیکه جوړول حتمي دي، او که یوه نجلۍ دا ډول اړیکه ونه لري، نو دا یې په ښځینه‌توب کې د نیمګړتیا نښه ده. نجلۍ په همدې عمر کې دا تصور په ځانګړې توګه ډېر پیاوړی احساسوي.

د عربي فلمونو، سریالونو، مجلو او نورو رسنیو لویه برخه دا تصور نور هم ټینګوي. هغوی په ژوند کې «خوښي او بریا» د داسې اتل په انځور کې وړاندې کوي چې له یوې نجلۍ سره مینه لري؛ دواړه د مینې دردونه او د عشق ترخې شېبې تېروي، تر دې چې کیسه یې پر واده پای ته رسېږي. په دې لاره کې دین، دودونه، رواجونه، کورنۍ او ټوله دنیا شاته غورځوي؛ ځکه د دوی په نظر مهمه دا ده چې «مینه بریالۍ شي».

ketabton.com - The Digital Library


خو کله چې د دې اړیکې «شرعي پای» را ورسېږي او دواړه له سینګار، مکیاج، ظاهري جوړښت او مصنوعي نرمۍ پرته مخامخ شي، هر یو د بل اصلي څېره ویني. نو د دواړو رښتینی شخصیت څرګند سي، پټ اخلاق یې راښکاره سي او هغه لمبه بله سي چې ورو ورو په اور بدلېږي. دغه اړیکه سوځوي او واده له منځه وړي، ترڅو په یوه غمیزه (تراژیدۍ) پای ته ورسېږي.

که دا اړیکه پر واده پای ته ونه رسېږي، د نجلۍ پر کورنۍ تر دې هم لوی ناورین راځي. د کورنۍ غړي د هغه بد خبر له شرمه له خلکو پټېږي. نجلۍ هغه وخت راویښېږي او حقیقت درک کوي؛ خو بیا وخت تېر وي.

په دې ډول غمیزه کې یوازې هلک او نجلۍ نه دي ملامت؛ بلکې مور او پلار هم په دې ټولنیز جرم کې برخه لري. هغه بې‌لارې شاعر هم پکې شریک دی چې له مینې، بې‌خوبۍ، عشق او عاشقۍ پرته بل شعر نه پېژني؛ همدارنګه د هغو فلمونو او سریالونو تولیدوونکي او لارښوونکي چې ځوانان د دې حرامې اړیکې جوړولو ته هڅوي، او هغه نجلۍ چې خپله ملګرې ورته هڅوي.

په حقیقت کې ټوله هغه ټولنه په دې جرم کې شریکه ده چې د هلکانو او نجونو د نوي نسل د دې اخلاقي زوال د درولو لپاره حرکت نه کوي.

ketabton.com - The Digital Library



## ۲. واه، ښومره ښکلي دي!

دوی د لېسي په دروازه کې سره وليدل. دواړې د دې اوړدې ورځې له وروستي درس څخه تازه راوتلې وې. يوې د بلې لاس ونيو، د دروازې مخې ته د نجونو له ګڼې ګوڼې څخه لږ لرې شوې، بيا يې له خپلې بکسې يو پاکټ راوويست چې ښو انځورونه پکې وو.

لومړۍ: وګوره، ښومره ښکلي دي!

دوهمه: واه! دا خو آل پاچينو ته ورته دی.

لومړۍ: نو هغه دې لا نه دی ليدلی چې ټام کروز ته ورته دی.

دوهمه: که رښتيا درته ووايم، تر هغه يو هېڅوک راته ښکلی نه ښکاري چې لومړی ځل دې راښودلی و.

لومړۍ: کوم يو؟

دوهمه: هماغه چې له روغتيايي انستيټوټ څخه د راوتلو پر مهال دې ليدلی و؛ عضلې يې د سېلوسټر ستالون په څېر وې.

دوهمه: ښه، دا ووايه چې دا انځورونه له کومه کوې؟

لومړۍ: ډېره اسانه ده؛ په ټيليفون ورسره خبرې کوم او ترې غواړم چې خپل انځورونه راکړي.

دوهمه: له مور او پلار څخه دې نه وېرېږې؟

لومړۍ: هغوی به له کومه خبر شي؟ د خپلې کوټې دروازه بندوم او له هر چا سره چې وغواړم، اړيکه نيسم. دا ښو شمېرې واخله او ته هم خپل بخت وازمايه.

ketabton.com - The Digital Library


دوهمه نجلۍ کور ته ولاړه، او شیطان ورته د خپلې ملګرې د کار تقلید ښکلی کاوه. شیطان ورته ویل: «ایا هغه تر تا ښکلې ده؟ ایا تر تا هوښیاره ده؟ هغې ته ثابته کړه چې ته د هلکانو په راګیرولو کې تر هغې ډېره هوښیاره او پیاوړې یې».

نجلۍ په زړه کې، لکه شیطان ته چې ځواب ورکوي، وویل: «خو ما مخکې هېڅکله دا کار نه دی کړی».

شیطان ورته وویل: «هغوی ټولو هم لومړی ځل دا کار نه و کړی؛ نو ته ولې باید د نورو نجونو ترمنځ بېله واوسې؟»

کور ته ورسېده. تر هغه یې انتظار وکړ چې شپې خپله پرده وغوړوله، بیا یې د کور د ټولو غړو د ویده کېدو انتظار وکړ. په ژوند کې یې په لومړي ځل د دې لپاره ګوته د ټیلیفون پر تڼیو کېښوده، تر څو له یوه پردي سړي سره اړیکه ونیسي.

له لږ ځنډ وروسته یې شمېرې کېکاږلې. له بلې خوا یوه نارینه وویل:

«الو... الو... الو...»

دا چوپه ده. لا یې یوه خبره هم نه وه کړې چې شپږکلنه کوچنۍ خور یې د کوټې په دروازه کې ودرېده او ویې ویل:

کوچنۍ خور: ولې تر اوسه ویښه یې؟

هغې ټیلیفون بند کړ او ځواب یې ورکړ:

مشره خور: ته ولې نه یې ویده شوې؟

کوچنۍ خور: خوب نه راځي. غواړم هغه کیسه درته وکړم چې پلار مې تېره شپه راته کړې وه.

مشره خور: ووایه.

کوچنۍ خور: یوه ښوونکي خپلو ټولو زده‌کوونکو ته وویل چې یوه چرګه یا کوتره په داسې ځای کې حلاله کړي چې هېڅوک یې ونه ویني، او سبا یې ورته راوړي. سهار ټول زده‌کوونکي راغلل؛ هر یوه په لاس کې حلاله شوې چرګه یا کوتره لرله، خو یوه زده‌کوونکي هېڅ نه وو راوړي.

ښوونکي ترې وپوښتل: «ولې دې د پرونۍ لارښوونې مطابق حلاله شوې چرګه یا کوتره رانه وړه؟»

زده‌کوونکي په داسې حال کې چې په سترګو کې یې اوښکې تمولې، وویل:

«استاده! ما هڅه وکړه داسې ځای پیدا کړم چې هېڅوک مې ونه ویني، خو پیدا مې نه کړ؛ له همدې امله مې کوتره حلاله نه کړای شوه».

ښوونکي وپوښتل: «هغه څوک دی چې په هر ځای کې دې ویني؟»

زده‌کوونکي وویل: «استاده! هغه الله تعالی دی. ما هېڅ داسې ځای پیدا نه کړای شو چې له هغه څخه پټ شم».

ښوونکي ټولو زده‌کوونکو ته وویل چې دې زده‌کوونکي ته چکچکې وکړي؛ ځکه په دې ازموینه کې یوازې همدی بریالی شوی و.

کوچنۍ خور له کیسې وروسته وپوښتل:

«خورې! ایا رښتیا هم الله تعالی موږ په هر ځای کې ویني؟»

مشرې خور خپله کوچنۍ خور غېږې ته ټینګه کړه او په ژړا یې وویل:

ketabton.com - The Digital Library


«هو، هو، هو! الله تعالی موږ په هر ځای او هر وخت کې ويني. اې الله! ما وبښه، ګناه مې راوبښه، ما د انسانانو او پېريانو (جناتو) له شيطانانو څخه لرې وساته، او زه له تا سره د رښتينې توبې ژمنه کوم».

ketabton.com - The Digital Library



## ۳. اې تنکۍ پېغلې، ځان وساته!

دا کتاب یوازې تا ته وړاندې کوم؛ ځکه پر تا زړه سوی لرم او وېرېږم چې کوم زیان در ونه رسېږي. زه له تا سره د هغه مینه‌ناک پلار په څېر خبرې کوم چې خپلې کوچنۍ لور ته نصیحت کوي، یا د هغه ورور په څېر چې خپلې خور ته بشپړ درناوی او مینه لري.

اې تنکۍ پېغلې! ته اوس د ژوند له داسې پړاو څخه تېرېږې چې ځان د ماشومتوب له نړۍ څخه وتلې او د لویانو نړۍ ته داخله ګڼې. همدا احساس تا دې ته هڅوي چې پر خپل نظر ټینګه ودرېږې او دا نه خوښوې چې څوک دې کوم فکر رد کړي، که څه هم دا رد د ډېر نږدې کس له خوا وي.

ته حق لرې چې خپل نظر ولرې او دفاع ترې وکړې؛ خو دا په دې معنا نه ده چې د هغو کسانو نظرونو ته درناوی ونه کړې چې د ژوند په تجربه کې تر تا مخکې دي، له تا سره مینه لري او خیر دې غواړي. زما موخه ستا مور او پلار دي، په ځانګړي ډول هغه وخت چې هغوی ستا د «عاطفي ژوند» په چارو کې لاسوهنه کوي. ګومان کوم چې څه وایم پرې پوهه شوې.

خورې! په دې عمر کې له نورو سره د ملګرتیا، ټولنیز ژوند او دوستانو پیدا کولو طبیعي میلان لرې؛ خو د تجربې د کموالي له امله ښایي د هر هغه چا لورې ته ځان ورواچوې چې د دوستۍ دروازه درته پرانیزي، بې له دې چې د نېک او بد ترمنځ توپیر وکړې.

ketabton.com - The Digital Library


ښايي د يوه ښکلي ځوان موسکا دې وغولوي، يا د يوه لوبغاړي هلک د ستاينې جمله دې زړه يوسي؛ هغه هلک چې د نجونو راګيرول او د هغوی د ټيليفون د شمېرو راټولول يې د ساعتېرۍ کار وي.

له دې کاره په بشپړ ډول ځان وساته. په ياد ولره: څوک چې تا ته موسک شي، بلې ته هم موسکېدای شي؛ او څوک چې له هغې نجلۍ سره د خبرو جرئت کوي چې شرعا ورته روا نه ده، له نورو نجونو سره د خبرو کوم خنډ هم نه لري.

دا هم په ياد ولره چې په پای کې بايلونکی هغه نه دی، بلکې ته يې؛ هغه وخت چې ستا نوم په ټولنه کې بد کړي، يا درسره داسې کار وکړي چې بايد ونه شي. په هغه وخت کې بيا پښېماني هېڅ ګټه نه کوي.

ته ډېره ارزښتمنه يې؛ نو له يوه داسې پردي سړي سره په خبرو او اړيکه جوړولو خپل ارزښت مه ټيټوه چې اړيکه ورسره شرعا درته حرامه ده. هيله لرم زما په خبره پوه شوې يې.

ketabton.com - The Digital Library



## ۴. ایا ته ناپوهه یې؟

د ټیلیفون زنګ ووهل شو. (ن) چې د زنګ انتظار یې کاوه، ژر ټیلیفون پورته کړ. له بلې خوا (خ) ورسره خبرې پیل کړې.

(ن): ماښام مو پخیر.

(خ): ته هماغه نجلۍ یې چې په (...) سوداګریز مرکز کې مې ولیدې او سور کمیس دې اغوستی و؟

(ن): هو.

(خ): په ټول ژوند کې مې تر تا ښکلې نجلۍ نه ده لیدلې.

انساني لېوه په همدې ډول خپلې تر ټولو ښکلې جملې جوړوي او ځان ته غوره ځانګړنې منسوبوي. (ن) هم ورسره پر دې لاره قدم ږدي، په داسې حال کې چې باوري ده هغه دروغجن دی؛ خو ډېر وخت نه تېرېږي چې د هغه په دام کې لوېږي. هغه په ډول ډول قسمونو او هغو تمثیلي حرکاتو چې ښه مهارت پکې لري، نجلۍ تر خپل اغېز لاندې راولي.

کله چې ډاډه شي نجلۍ د «مینې» په دام کې لوېدلې، د خطرناکې مرحلې پیل کوي: هڅه کوي هغه قانع کړي چې ورسره له کوره ووځي. نجلۍ په پیل کې زړه نازړه وي، خو هغه د غولولو، زړه راښکلو او د واده د ژمنو ټولې وسیلې کاروي، تر دې چې ساده لوحه نجلۍ یې پر ژمنو باور وکړي.

ketabton.com - The Digital Library


نجلۍ لومړی پرېکړه کوي چې یوازې د نیم ساعت لپاره ورسره ووځي؛ بیا نیم ساعت په یوه ساعت بدلیږي. دا وخت د ښوونځي له وخت څخه اخلي، بې له دې چې د کورنۍ کوم غړی یې خبر شي. ورپسې هغه ناروا کار پېښیږي چې باید نه وای پېښ شوی.

کله چې هغه ځوان خپله ناروا غوښتنه پوره کړي، نجلۍ د کثافاتو په ډېر غورځوي. نجلۍ ورته زارۍ کوي چې پرده پرې واچوي او راز یې پټ وساتي؛ خو هغه ترې ځان لوړ نیسي، ځکه د بلې نجلۍ په راګیرولو بوخت وي.

ساده لوحې نجلۍ هغه ته د یوې نجلۍ تر ټولو قیمتي شتمني ورکړه، خو هغه هېڅ شی ورنه کړ؛ بلکې ښایي رسوایي، تلپاتې ژړا او داسې بد نوم ورته پرېږدي چې هر ځای یې تعقیبوي.

اې نجلۍ! دا ډول ځوانان دغه ناوړه بوختیا د ساعتېرۍ په توګه ترسره کوي؛ خو کله چې د واده اراده وکړي، یوازې هغه نجلۍ غوره کوي چې له پردیو سره خبرو ته غاړه نه ږدي او خپل ارزښت د فلاني او پلانکي په عشق کې په لوبډو نه تېټوي.

په دې هم ډاډه اوسه: له هماغې شېبې چې ته ورسره خبرو ته غاړه کېږدې، هغه دې په خپل ذهن کې د بدلارې نجلۍ په کتار کې شمېري. د هغه تلپاتې شعار دا وي:

«کومه نجلۍ چې له تا سره خبرو ته غاړه ږدي، له بل سره به هم په خبرو کې زړه نازړه نه شي».

ketabton.com - The Digital Library


## ۵. وژونکی ټیلیفون

د لېسې په لومړیو کلونو کې، یوه نجلۍ په ټولګي کې پر خپل څوکۍ ناسته وه چې سترګې یې د څنګ ملګرې پر کتاب ولیګېدې. پر کتاب یو نوم لیکل شوی و. د نوم په اړه یې ترې وپوښتل.

ملګرې ځواب ورکړ: «دا زما د محبوب نوم دی!».

نجلۍ: څنګه ورسره بلده شوې؟

ملګرې: د ټیلیفون له لارې.

نجلۍ: څنګه؟

ملګرې: رښتیا هم ته ډېره ساده او بې خبره یې! موږ هره شمېره په تصادفي ډول ازمویو. که یوه هلک ځواب راکړ، خبرې ورسره کوو او دوستي ورسره جوړوو. که وروسته یې ووینو چې بدرنګه دی، پرېږدو یې او بله شمېره ازمویو؛ تر دې چې یو ښکلی او خوږ ژبی هلک پیدا کړو!

نجلۍ: اړیکه مو یوازې د ټیلیفون له لارې وي؟

ملګرې: بده خبره ده چې پر ما شک کوې! هو، البته یوازې په ټیلیفون؛ موخه مو یوازې د وخت تېرول او ساعتېري ده!

نجلۍ کور ته ولاړه او هڅه یې وکړه خپل بخت وازمويي. له بلې خوا د ټولنې له لېوانو څخه یو لېوه و. هغه وکولای شول نجلۍ د خپلې مینې په دام کې راګیره کړي.

خو نجلۍ پر یوه کس بسنه ونه کړه؛ دوهم، دریيم، څلورم او نور کسان يې هم وازمويل. تر دې چې د ډېرو مینه‌والو او ګڼو شمېرو په لرلو کې له خپلو ملګرو سره سیاله شوه.

دا خطرناک عادت يې په وینه کې ګډ شو. نور به ډېرې وخت په خپله کوټه کې وه؛ دروازه به يې پر ځان بنده کړې وه او اوږده ساعتونه به يې په ټیلیفون خبرې کولې. له یوه سره به يې خبرې پای ته رسولې او سمدستي به له بل سره ونښته. د سهار تر نږدې کېدو مخکې به نه ویده کېده.

یوه ورځ یوه سړي د هغې کورنۍ ته د واده غوښتنه وکړه. هغه داسې سړی و چې کومه څرګنده نیمګړتیا يې نه لرله. نجلۍ هم خوښه کړه او کورنۍ يې هم ترې راضي شوه؛ نو له هغې سره يې واده وکړ.

خو نجلۍ خپل پخوانی بد عادت پرې نه ښود. د شاتو میاشت لا پای ته نه وه رسېدلې چې بېرته خپلې زړې لارې ته وګرځېده.

د مېړه ورور پرې شکمن شو. شک يې هغه وخت په یقین بدل شو کله چې هغه د ټلیفون بله غوږۍ راپورته کړه. هغه د یوې میاشتې لپاره له نارینه ملګرو سره د دې نجلۍ خبرې ثبت کړې. وروسته يې ثبت شوی غږ ورته راوړ او ګواښ يې پرې وکړ.

نجلۍ ورته زارۍ وکړې چې ثبت شوی غږ ور وسپاري. هغه ومنله؛ خو په دې شرط چې نجلۍ ورسره «حرام کار» وکړي. هغې د فشار له امله ومنله او حرام کار وشو، خو د مېړه ورور ثبت شوی غږ ورنه کړ. څو ځله يې په همدې وسیله وګواښله او ناوړه ګټه يې ترې واخیسته.

ketabton.com - The Digital Library


وروسته یې یو ځل بیا ګواښ وکړ چې یا به یې راز افشا کړي، یا به دا ځل د هغه له ملګري سره هم «حرام کار» کوي.

نجلۍ د ګواښ تر فشار لاندې ومنله، او هغه خپل ملګري ته بوتله.

مېړه کور ته راغی، خو ښځه یې په کور کې ونه لیده. د مازدیګر وخت تېر شو، بیا ماښام، ماخستن او د بلې ورځې سهار شو؛ خو هغه راونه ګرځېده.

د مېړه ورور ووېرېد او خپل ملګري ته یې زنګ وواهه چې د هغې پوښتنه ترې وکړي. ملګري ورته وویل چې لا یې ناوړه غوښتنه نه ده سړه شوې او څو ځله یې حرام کار ورسره کړی دی. دا یې هم وویل چې که اوس یې کور ته ولېږي، دواړه به رسوا کړي.

دلته شیطان میدان ته راغی، او دواړو دا پرېکړه وکړه چې له نجلۍ څخه ځان خلاص کړي. نجلۍ یې ووژله او په دښته کې یې ښخه کړه.

وروسته د مېړه د ورور جرم څرګند شو، او هغه او ملګری یې دواړه ونیول شول؛ خو کار له کاره تېر شوی و. په ټولنه کې د نجلۍ او مېړه د دواړو کورنیو نوم بد شو، او د کورنیو غړو نور له چا سره د مخامخ کېدو توان نه درلود.

دا یوه رښتینې کیسه ده، خیال نه دی. لامل یې د نجونو ناسمه روزنه، له څارنې پرته بشپړه ازادي، د ارزښتونو نه ورښوول، د الله تعالی له وېرې او حیا سره نه بلدول وو.

دا د هغه چا لپاره هم درس دی چې د ژوند د ملګرې په ټاکلو کې دین او ارزښتونه پرېږدي او یوازې ښکلا غوره کوي. همدارنګه د مور او پلار لپاره د خطر زنګ دی، څو د خپلو زامنو او لوڼو بدو ملګرو ته متوجه شي.

ketabton.com - The Digital Library


ايا موږ به ترې عبرت واخلو؟

ketabton.com - The Digital Library


## ٦. عابد او «عشق‌بازه نجلۍ»

کله چې د ګل په څېر ښکلې او د ځوانۍ په پسرلي کې نجلۍ یوه ځوان ته کاغذ ور واچوي او د ټیلیفون شمېره یې ورباندې لیکلې وي، پر هغه ځوان به څه تېر شي؟

که ورسره دا هم ولیکي: «زه له تا سره مینه لرم»، نو څه به ورپېښ شي؟ او که ولیکي: «ستا له لاسه خوب نه شم کولای»، بیا به څه حال پرې راشي؟

د ډېرو ځوانانو لاس ته چې دا ډول کاغذ ورشي، په نجلۍ پورې یې زړه وتړل شي، د خپل وخت ډېره برخه ورسره د ټیلیفون په خبرو تېروي، بیا د لیدنې وعده ورسره ږدي، او ډېر ژر هغه حرام کار ورسره کوي چې الله تعالی منع کړی دی. له دې وروسته یا اړیکه همداسې توده روانه وي، او یا نجلۍ د یوه بې‌روحه جسد په څېر وغورځوي، څو د بلې قربانۍ ښکار ته ولاړ شي.

لامل دا دی چې زموږ د ډېرې ځوانانو په زړونو کې له مینې، عشق، بې‌خوبۍ، شهوت، فسق او فجور پرته بل څه نشته، له الله تعالی څخه د وېرې، یوه ورځ د هغه پر وړاندې د درېدو د احساس، یا د هغه مرګ د یادولو لپاره یو کوچنی ځای هم نشته، هغه مرګ چې انسان ورسره ناڅاپه مخ شي، ترڅو بیا د منکر او نکیر له پوښتنو سره مخامخ سي؛ چې بیا به یې قبر یا د جنت له باغونو څخه یو باغ شي، او یا د اور له کندو څخه یوه کنده.

ketabton.com - The Digital Library


د نارينه‌وو د ښکلا د فتنې پر وړاندې يوازې هغه پاکلمنې ښځې ټينګې پاتې کېږي چې له  الله تعالی څخه ويرېږي، په داسې کورونو کې روزل شوې وي چې د الله نوم پکې ډېر يادېږي. د ښځو د ښکلا د فتنې پر وړاندې هم يوازې هغه نارينه ټينګېدای شي چې زړونه يې د  الله تعالی له وېرې او مينې ډک وي او د اطاعت خوند له هغې لنډمهالې خوښۍ څخه مصروف ساتلې وي چې پښېماني يې د قيامت تر ورځې غځېږي.

دا زموږ د تاريخ يوه داسې کيسه ده چې د ښځو له خوا د نارينه‌وو د راپارولو، يا د نارينه‌وو له خوا د ښځو د راپارولو انځور پکې ښيا راژوندی کېږي. په دې کيسه کې يو صالح ځوان د يوسف صديق عليه السلام دريځ په خورا ښکلې بڼه تکراروي.

د يوه قوم د يوې ښکلې وينځې د خپل قوم له يوه عابد ځوان سره مينه پيدا سوه. د پېغور او رسوايۍ له وېرې يې خپله مينه پټه ساتله او څه موده همداسې تېره شوه. کله چې مينه پرې ډېره زوروره شوه، يو ليک يې ورولېږه او دا بيتونه يې پکې وليکل، ژباړه:

> د مينې او احساساتو پټول رابانـدې دومره اوږده  شول چې  بالاخره يـې تباه کـړم؛ نـو اوس د هغـه سـخت درد او سـوز  شکايت کـوم چـې ورسره مخامخ يم.
>
> نــو دا دی زه اوس د   شوق او ليوالتيــا پــه اور کــې ســوځم، او د حــد زيـات درد لـه امله مـې لـه سـترګو پرېمانـه اوښـکې بهېـږي او پـر مخ مـې رواني دي.

ليک يې يوې ښځې ته ورکړ، څو عابد ځوان ته يې ورسوي. ځوان ترې وپوښتل:

ځوان: دا څه دي؟

ښځه: یو چا درته لیک رالیږلی او زه یې د سپارلو لپاره راغلې یم.

ځوان: نوم یې واخله.

ښځه: کله چې لیک ولولې، د خاوند نوم به یې درته ووایم.

ځوان لیک بېرته ورکړ او په کلکه یې ناخوښي څرګنده کړه. ښځې ترې وپوښتل:

ښځه: ولې دې ونه لوست؟

ځوان: دا داسې لیک دی چې زړه مې یې نه مني.

ښځې ټینګار ته دوام ورکړ، تر دې چې ځوان لیک ولوست. بیا یې سر راپورته کړ او ویې ویل:

ځوان: همدا هغه څه دي چې زه ترې وېرېدم.

لیک یې بېرته ښځې ته ورکړ. هغې وپوښتل:

ښځه: ځواب نه لري؟

ځوان: ولې نه.

ښځه: ځواب یې څه دی؟

ځوان: ورته ووایه:

﴿إِنَّهُ يَعْلَمُ السِّرَّ وَأَخْفَى ۝ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى﴾ [1]

ژباړه: «بېشکه هغه په پټو او تر هغو هم په پټو خبرو پوهېږي. الله هغه ذات دی چې له هغه پرته بل معبود نشته؛ غوره نومونه د هغه دي».

ښځه: بل څه نشته؟

---

۱ (طه: ۷-۸).

ځوان: همدا بس دي.

ښځه وينځې ته بيرته ورغله او د دوی ترمنځ شوې خبرې يې ورته وکړې. وينځې بيا دا بيتونه ورولېږل:

> ای هغـه کسـه چـې زړه دې زمـا لـه غـم، سـوز او فکـر څخـه ارام او بې‌خبره دی! دا جفـا او لرېـوالی ولـې؟ ځـان مـې درنـه لـوګی شه ای زمـا ټول مقصده او ارمانه!
>
> کـه چېرې پـه الله جل جلالـه پـورې منګـولې لګـوې او د هغـه بنـده ګـي کـوې، نـو پـوه شه چـې زمـوږ دواړو حلالـوالی او شرعـي پيونـد د قـرآن کريم په محکمو او روښانو سورتونو کې بيان شوی دی.

کله چې ليک ورسېد، ځوان وپوښتل:

ځوان: دا څه دي؟

ښځه: ويې لوله.

ځوان انکار وکړ، خو ښځې په نرمی او ټينګار ورته دوام ورکړ، تر دې چې ليک يې ولوست او بېرته يې ورکړ. ښځې وپوښتل:

ښځه: ځواب نه لري؟

ځوان: ورته ووايه:

﴿وَهُوَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ بِاللَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ بِالنَّهَارِ﴾ ۲

---

۲ (الأنعام: ٦٠).

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: «هماغه ذات دی چې د شپې مو روحونه اخلي او پوهېږي چې د ورځې مو څه کړي دي».

ښځه بېرته وينځې ته ولاړه او د ځوان ځواب يې ورته ورساوه. وينځې بيا وليکل:

> زما له زړه څخه يو څه غم او کړاو لرې کړه؛ په وصال دې سخا وکړه او له بېلتانه ډډه وکړه.
>
> موږ يوه غوښتنه درڅخه کړې چې موخه مو ترې يوازې خير دی: دا چې له نږدې سره ووينو.

ښځې دا شعر عابد ځوان ته ورساوه. هغه يې ولوست او د نصيحت لپاره يې دا بيتونه په ځواب کې وليکل:

> خپل غمونه او ان ساهونه مې په سينه کې ساتلي؛ د کاغذ پر مخ مې هېڅ يو نه دی څرګند کړی.
>
> ما خپل درد هېڅ انسان ته نه دی ويلی؛ که يې ووايم، د خلکو په پېژندنه کې به ناپوه وګڼل شم.
>
> د دې ازمويښې پر وړاندې په الله منګولې ټينګې کړه؛ صبر خپل کړه او د ناامېدۍ خبرې پرېږده.
>
> زه له مينې څخه په داسې فکر بوخت يم چې خوب مې تښتوي؛ د هغه قبر د تيارې ياد چې زما د ښخېدو ځای دی.

ketabton.com - The Digital Library


کله چې وينځې دا بيتونه ولوستل، الله تعالی ته يې توبه وکړه او ويې ويل: «د يوې ازادې او مسلمانې ښځې لپاره، چې د فتنې ځايونه پېژني، دا ډېره ناوړه ده چې بيا ځان يوه ځوان ته وړاندې کړي».

څومره ځوانان شته چې د يوې مينه‌والې نجلۍ له راپارولو سره د دې عابد په څېر دريځ غوره کړي؟ او څومره ښکلې نجونې به دا ور په زړه کړي چې زه خو ازاده او مسلمانانه يم، او د ځوانانو له عشق‌بازۍ څخه به لاس واخلي، مخکې له دې چې د قبر تيارې يې راونغاړي او د گناه او د  الله تعالی د پردې د څيرلو تياره يې لا پسې ورزياته کړي؟

## ۷. بې‌ادبي

د هېواد يوه اوسېدونکي چې د الشويخ په صنعتي سيمه کې يې سوداګريز دوکانونه لرل، راته کيسه وکړه: يوه ورځ يې د دوکان له تړلو وروسته وليدل چې د دوکانونو شاته په تشه سيمه کې يوه موټر د ده د موټر ترڅنګ درېدلی دی. په موټر کې يو ځوان او يوه نجلۍ په نااخلاقي حالت کې وو.

کله چې هغوی د ده شتون احساس کړ، ځوان موټر چالان کړ او له ځايه لرې شو. غيرتي سړي موټر ورپسې کړ؛ له يوې اشارې تر بلې يې تعقيب کړ، تر دې چې ودرېد. له دغه سړي سره د پلټنو يو مأمور هم و؛ هغه ورته مشوره ورکړه چې پر دواړو پرده واچوي او پرې يې ږدي.

په بله ورځ سړی ناڅاپه وليدل چې هماغه ځوان يې دوکان ته راننووت. د دواړو ترمنځ دا خبرې وشوې:

ځوان: څه غواړې؟ ولې هر ځای راپسې ګرځې؟

سړی: ستا کار ته حيران يم! په عام ځای کې دې دومره بې‌ادبي وکړه، موږ پرده درباندې واچوله، او اوس دومره جرئت کوې چې زما دوکان ته راشې او زما پر کار نيوکه وکړې؟

ځوان: څه خبره ده؟ ما څه کړي دي؟

سړی: ګومان کوم ته ښه پوهېږې چې څومره بې‌ادبي او بې‌پروايي دې کړې ده؛ هغه کار چې ته يې د خپلې مور او خويندو لپاره د نورو له خوا نه خوښوې.

ketabton.com - The Digital Library


ځوان: مهرباني وکړه سپکاوی مه کوه؛ هغه زما کوژدنه وه، خو کورنۍ یې زما سره واده نه مني.

سړی: پر تا لازم و چې د هغې په اړه له الله تعالی څخه ووېرېږې، پرده پرې واچوې او د الله تعالی د مخلوق په وړاندې یې په عام ځای کې رسوا نه کړې.

ځوان: مهرباني وکړه، زما عاطفي احساسات مه ټپي کوه.

سړی: خبرې مه اوږدوه. که بیا مې په دې ځای کې ولیدې، چارواکو ته به دې وسپارم چې و دې نیسي.

ځوان: زه دې ننګوم چې دا کار وکړې!

سړی: له دوکانه ووځه؛ ستا په څېر خلک یوازې د سزا وړ دي.

دغه سړی وايي: «سره له دې چې ډېر کارونه مې لرل، د دې ځوان بېادبۍ او په حرام کار کې جرئت راوپارولم. چارواکو ته مې خبر ورکړ او د هغه راتګ ته منتظر شوم، خو رانغی».

دا یوه نااخلاقي پدیده ده چې په ډېرو ځایونو، په ځانګړي ډول د موټرو په تمځایونو کې خپره شوې ده. په دې اړه ټولو هېوادوالو ته زموږ خبره دا ده چې پر داسې ځورونکو صحنو چوپ پاتې نه شي؛ هغوی ته نصیحت وکړي او چارواکو ته خبر ورکړي، څو ادب ور وښيي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

ketabton.com - The Digital Library


«مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ، وَذَلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ». [۳]

ژباړه: «له تاسو څخه چې څوک کوم ناروا کار ويني، په لاس دې مخنيوی وکړي؛ که يې وس نه لري، په ژبه دې مخنيوی وکړي؛ او که د دې وس هم نه لري، په زړه کې دې بد وګڼي، او دا د ايمان تر ټولو کمزورې درجه ده».

دوهمه خبره هغو هلکانو او نجونو ته ده چې دا ناروا کارونه کوي: په ياد دې ولري چې دوی هم خويندې، ميندې او نږدې خپلوانې لري؛ ايا خوښوي چې له هغوی سره همداسې وشي؟ له الله تعالی څخه دې ووېرېږي؛ ځکه په دنيا کې د رسوايۍ او په اخرت کې د اور سزا لري.

له الله تعالی څخه د ځان او ټولو لپاره هدايت غواړو.

---

۳ صحيح مسلم (۱/ ۵۰).

## ۸. ربښتينې مينه انتظار کوي

په واشنګټن کې د ۱۹۹۴م کال د جولای پر ۲۹مه له دوو سوو زرو څخه زیاتو امریکایي هلکانو او نجونو تر واده مخکې د پاکلمنۍ نذر وکړ. هغوی د واشنګټن د «سال» مرکز په انګړ کې پر هغو کارتونو لاسلیکونه وکړل چې د جنسي اړیکو څخه یې د ډډې کولو اعلان پکې کړی و.

ولسمشر بېل کلنټن هم د دې پرېکړې ملاتړ وکړ، کله چې په سپینه ماڼۍ کې یې د هغوی یو پلاوی ومانه. دا پرېکړه د «ربښتينې مينه انتظار کوي» د خوځښت د هڅو پایله ګڼل کېږي. هغوی په کارتونو کې لیکلي وو:

«زه د الله، خپلې کورنۍ، خپلو ملګرو، د ژوند د راتلونکي ملګري یا ملګرې او خپلو راتلونکو ماشومانو په وړاندې ژمنه کوم چې تر واده پورې به پاکلمنی یا پاکلمنه پاتې کېږم».

زه دې حیرانوونکي خبر ته تم شوم؛ ځکه دا د الله تعالی د دې وینا یو عملي تفسیر دی:

﴿سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ﴾[٤]

ژباړه: «ژر به خپلې نښې د نړۍ په څنډو او د دوی په خپلو ځانونو کې وروښیو، تر دې چې ورته څرګنده شي چې همدا حق دی».

---

٤ (فصلت: ٥٣).

دغه ټولنې پر غيبي چارو، لوړو بېلګو او ارزښتونو باور نه کوي، او يوازې د خپلو شهوتونو او مادي غوښتنو په فکر کې دي. له جنسي بې‌لارۍ او پرانيستو اړيکو څخه ځان ساتل نه مني؛ همدارنګه له شرابو، نورو نشه‌يي توکو، سود او هغو نورو حرامو چارو څخه مخ نه اړوي چې په ټولو دينونو کې حرام شوي دي. پر هغو مسلمانانو او د خپل دين پر پاتې پيروانو ملنډې وهي چې پر دغو ارزښتونو باور لري.

خو الله سبحانه وتعالی وغوښتل چې د دې انحراف پايلې وروښيي، څو د هغوی او زموږ د هغو هلکانو او نجونو لپاره عبرت شي چې په ړندو سترګو يې پيروي کوي. زموږ ځينې ځوانان اوس پر هغه واده قناعت نه کوي چې تر مخه يې له ګڼو نجونو سره نږدې اړيکې نه وي لرلې؛ پلمه يې دا وي چې تجربه وکړي او د راتلونکي ژوند ملګرې له نږدې وپېژني.

جنسي ناروغۍ پيدا شوې چې د سر په کتار کې يې وژونکې ايډز ناروغي ده. احصائيې وايي چې د شلمې پېړۍ په پای کې د ايډز د ناروغانو او د دې ويروس د لېږدوونکو شمېر څلوېښت ميليونو ته رسېدلی و. شلمه پېړۍ تېره شوه، يوويشتمه پېړۍ پيل شوه او دا شمېر لا هم په زياتېدو و.

د طلاق وېروونکې شمېرې او د جنسي سرېښت ناروغي ټولو هغو کسانو ته پيغامونه دي چې د اسمانونو او ځمکې د پالونکي له ټاکلې لارې اوښتي دي، څو سمې لارې او روغ فطرت ته راوګرځي.

ketabton.com - The Digital Library


د دغو هلکانو او نجونو دا ژمنه هم د رباني لارښوونو لوري ته یو ډول بېرته ستنېدل او تر واده مخکې د حرامو جنسي اړیکو د خطر منل دي. رښتینې مینه هغه نه ده چې تر واده مخکې وي؛ بلکې هغه ده چې د واده په ژوند کې پیدا شي. «رښتینې مینه انتظار کوي».

دا دې زما د هېواد هلکانو او نجونو ته یو پیغام وي، څو ړوند تقلید او د شهوتونو پیروي پرېږدي او اصالت او پاکلمنۍ ته راوګرځي؛ ځکه همدا د ایډز او ورسره تړلو زیانونو څخه د ساتنې یوازینۍ لار ده. ایا فکر نه کوئ؟

ketabton.com - The Digital Library


## ۹. هغه ته څه ووایم؟

«هغه ته څه ووایم؟» د نجاة الصغیرة د کومې سندرې نوم نه دی، لکه ځینې خلک چې یې ګومان کوي؛ بلکې دا د یوې رښتینې کیسې سرلیک دی چې په یوه خلیجي هېواد کې پېښه شوې ده.

هغه د عمر په پسرلي او د ځوانۍ په لومړیو کې و. دی زموږ د ډېرو ځوانانو په څېر د نجونو په تعقیب کې ډوب شوی و. یوازې د مینې په ټیلیفوني خبرو یې بسنه نه کوله؛ بلکې په خوږو خبرو به یې نجونې غولولې، څو هغوی یوه فرنیچر لرونکي اپارتمان یا ګوښه تفریحي کور ته وروبولي او خپله حرامه موخه ترې پوره کړي.

یوه ورځ دغه ځوان له څو ملګرو سره، د معمول په څېر، په تفریحي کور کې د یوه نوي «ښکار» هوکړه کړې وه. بد ملګري ټاکلي ځای ته راغلل، خو هغه د ماښامنۍ راوړل هېر کړي وو. یو ملګری یې نږدې هوټل ته ولېږه، څو خوندور خواړه راوړي او هر څه بشپړ چمتو شي.

ملګری ولاړ، خو ډېر وځنډېد. دوه، درې او ان څلور ساعته تېر شول، خو هغه رانغی. ځوان د ملګري د ځنډ له امله اندېښمن شو. نورو ته یې وویل چې عمومي سړک ته د هغه د لټون لپاره ځي.

کله چې په خپل کوچني موټر کې روان شو، د سړک په منځ کې یې له لرې یو بل شوی اور ولید چې د تورې شپې تیاره یې ماتوله. اور ته چې نږدې شو، یو سوځېدونکی موټر یې ولید. بیا پوه شو چې دا د ده د ملګري موټر دی؛ اور پکې لمبې وهلې او ملګري یې په لوړ غږ چیغې وهلې.

ځوان په منډه ورننوتی شو او په ټول توان یې هڅه وکړه چې دروازه خلاصه کړي. بالاخره بریالی شو او ملګری یې په ډېرې سختۍ راوایست؛ هغه د مرګ او ژوند ترمنځ و.

ملګری پر شګو وغځېد او په وار وار یې چیغې وهلې:

ملګری: هغه ته څه ووایم؟ هغه ته څه ووایم؟

ځوان: چا ته؟ چا ته؟

ملګري په لړزېدلي غږ خپلې وروستۍ کلمې وویلې:

ملګری: الله ته... الله ته... الله ته...

بیا یې ساه ورکړه. ځوان د دې زړه‌بوږنوونکې صحنې او وېرونکي انجام په وړاندې په ژړا شو. اوښکې یې له سترګو روانې وې او په ذهن کې یې د خپل تېر عمر ټولې پاڼې اړولې؛ هغه عمر چې په ګناهونو، شراب څښلو، زنا او د فحشا لپاره د ختیځې اسیا هېوادونو ته په ډېرو سفرونو کې یې تېر کړی و.

ځوان پوه شو چې دا ټول ضایع شوي وختونه او د څو شېبو خوندونه وو چې اوږده پښېماني ورپسې راځي. له همدې امله یې الله تعالی ته د توبې او د پاکې لارې د نیولو پرېکړه وکړه.

اې ګناهګاره ځوانه! تر وخت تېرېدو مخکې ځان راوېښ کړه. د رښتینې توبې پرېکړه وکړه، رحمن او رحیم ذات به دې ومني.

ketabton.com - The Digital Library


## ۱۰. زما خوښه ده؛ زه ازاد یم

ایا ازادي دا ده چې یو ځوان له هرې نجلۍ سره چې وغواړي، د سمندر پر غاړه چکر ته ووځي، یا یې له ځان سره یوسي چې یوه حرامه شپه ورسره تېره کړي؟

ایا ازادي دا ده چې یوه نجلۍ د مور او پلار له اعتراض پرته، د ټیلیفون له لارې له هر هغه ځوان سره خبرې وکړي چې زړه یې غواړي؟

ایا ازادي دا ده چې یوه نجلۍ د خپلې کورنۍ له ملتیا پرته له خپل نارینه ملګري سره د نړۍ هېوادونو ته سفر وکړي؟

ایا ازادي دا ده چې نجلۍ لوڅې جامې واغوندي او خپل لوڅ یا نیمه لوڅ بدن په بازارونو کې ننداري ته وړاندې کړي؟

ایا ازادي دا ده چې کوم لیکوال د مسلمانانو ثابت عقیدوي اصول په ملنډو او نیوکو وڅېړي؟

دا د هغو کړنو څو بېلګې دي چې کوونکي یې ازادي، یا د ازادۍ یو ځرګند رنګ ګڼي؛ خو څوک چې داسې باور لري، د ازادۍ له ربښتیني معنا څخه ډېر لرې دی.

ازادي له جامو، اخلاقو او هغو ارزښتونو څخه ځان خلاصول نه دي چې ټولنه ورسره ژوند کوي او زموږ له سپېڅلي دین څخه سرچینه اخلي. ربښتینې ازادي د هغو شهوتونو او نفسي غوښتنو له زنځیرونو څخه خلاصون دی چې د انسانانو او پېریانو شیطانان یې راپاروي.

ketabton.com - The Digital Library


ربنتینی ازاد انسان د سګرېټ یا نشه‌یي توکي په وړاندې نه ټیټېږي؛ د یوې ښکلې ښځې د نرمو خبرو، د سترګو د اشارو یا د شونډو د موسکا غلام نه ګرځي. هغه د خپل انسانیت، نارینتوب او اخلاقو د ساتنې لپاره پر شهوت او نفسي غوښتنو برلاسی کېږي. د خپل شهوت واکمن وي، په مناسب ځای او مناسب وخت کې یې کاروي، او نه پرېږدي چې د یوه پسه په څېر یې هر لوري ته بوځي او تر اخرت مخکې یې په دنیا کې رسوا کړي.

هغه کسان چې د ازادۍ ربنتینې معنا پېژني، تر هغه د زنځیرونو او زندانونو تر اغېز لاندې نه راځي چې روحونه یې ازاد وي. امام ابن تیمیه رحمه الله هم هغه مهال چې زنداني شوی و، ویل:

«تاسو به له ما سره څه وکړئ؟ زما جنت هر ځای له ما سره دی. زندان مې خلوت دی، جلاوطنی مې سیاحت دی، او د الله تعالی په لاره کې مرګ مې شهادت دی».

داسې انسان له رب العالمین پرته بل چاته نه رکوع کوي او نه سجده.

## ۱۱. په زړه پورې خبرې اترې

زما د هغې مقالې له خپرېدو وروسته چې د ۱۹۹۴م کال د سپټمبر پر ۳مه د یوې ورځپاڼې په ګڼه کې د «زما خوښه ده؛ زه ازاد یم» تر سرلیک لاندې خپره شوې وه، یوې شل کلنې محصلې راته ټیلیفون وکړ. په ډېر ادب او غوره اخلاقو یې وغوښتل چې د مقالې پر هغو ټکو راسره خبرې وکړي چې ورسره موافقه نه لري. ما یې غوښتنه ومنله او خبرې مو داسې پیل شوې:

نجلۍ: په خپله مقاله کې پر هغه ځوان او نجلۍ نیوکه کوې چې د مور او پلار له څارنې لرې، له هر چا سره چې وغواړي ملګرتیا کوي. زما په اند دا خبره په مطلق ډول سمه نه ده؛ که د دې اړیکې موخه د ځوان د اخلاقو، طبیعت او د فکر کولو د طریقې پېژندل وي، نو مخکې له دې چې نجلۍ له خپل غوره کړي ځوان سره واده وکړي، دا اړیکه اړینه ده. دا سمه نه ده چې یو ځوان دې نجلۍ خوښه کړي، بیا یې له کورنۍ څخه وغواړي، کورنۍ دې هم ورسره ومني، خو نجلۍ دې پخپله د هغه ځوان په اړه هېڅ معلومات ونه لري.

ما وویل: له یوه ځوان سره اړیکه جوړول او خبرې ورسره کول، داسې خطر ته لار هواروي چې نجلۍ به وروسته وربادې پښېمانه شي. له همدې امله اسلام له هر هغه کار څخه منع کړې ده چې دې خطر ته لاره پرانیزي. نارینه‌وو ته یې د سترګو د ټیټولو امر کړی او ښځو ته یې هم همدا حکم کړی دی؛ پرته له هغو عادي کتنو چې په ورځنیو راکړو ورکړو کې پېښېږي او له حرام شهوت څخه پاکې وي.

نجلۍ: خو دا نجلۍ ده چې د اړیکې د سمون او ناسمون پرېکړه کوي؛ ځکه همدا نجلۍ ځوان ته داسې نښې ورکوي چې د ناسم کار کولو جرئت ورکوي. خو عاقله او پاکلمنه نجلۍ داسې ناسم تصور نه ورکوي، بیا هم کولای شي له خطا پرته دا اړیکه وساتي او د همدې اړیکې له لارې هغه ځوان وپېژني.

ما وویل: ته د داسې یوه خیالي او مثالي حالت خبره کوې چې زموږ په واقعي ژوند کې نشته؛ ځکه ځوان چې هر څومره نېک او صالح هم وي، بیا هم انسان دی او انسان احساسات او عواطف لري. دا یوسف علیه السلام دی، چې هم نبي و او هم د نبي زوی؛ کله چې د عزیز ښځې ورسره ځان یوازې کړ، ځان یې ورته بربنډ کړ او ویې ویل: «راشه، ستا لپاره چمتو یم»، الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِ وَهَمَّ بِهَا﴾

«بېشکه هغې د هغه اراده وکړه او هغه هم هغې ته مایل شو»؛ لکه څنګه چې په یوه تفسیر کې راغلي دي. خو الله تعالی د هغه د ایمان او تقوا له امله وساته، نو په لوړ غږ یې وویل:

﴿مَعَاذَ اللَّهِ إِنَّهُ رَبِّي أَحْسَنَ مَثْوَايَ﴾ ۵

«الله ته پناه وړم! بېشکه هغه زما پالونکی دی او زما د اوسېدو ځای یې ښه کړی دی».

سره له دې، تر واده مخکې خبرې او اړیکه د ځوان د اخلاقو، طبیعت او فکر د طریقې د پېژندلو سم معیار نه شي کېدای.

---

۵ (یوسف: ۲۳-۲۴).

ketabton.com - The Digital Library


ما هغې ته وویل: ډېرو هغو ځوانانو چې عشقبازي یې ځان ته مسلک گرځولي او په دې کار کې ماهران شوي دي، داسې ورتیاوې زده کړې چې د تکړه لوبغاړو رول په خورا ښه ډول ادا کولای شي. ستا په وړاندې به د اخلاقو په پاکوالي او د نفس په صفا کې د فرښتې په څېر ښکاره شي؛ په خوږو جملو، حکمتونو او خبرو کې به د لوی ادیب او شاعر ښه غوره کړي؛ او د اتلولۍ د کیسو په بیانولو به ځان تر ټولو زړور انسان در وښیي. ته به یې رښتیا او دروغ څنگه سره بېلوې؟

زه پخپله ډېرې داسې پېښې پېژنم او ډېرې خویندې راسره اړیکه نیسي چې له خپل مېړه سره له غمیزې ډک ژوند تېروي. تر واده مخکې یې اړیکه د قیس او لیلا له مینې سره سیالي کوله؛ خو تر واده وروسته یې وموندله چې هغه بل انسان، بلکې یو داړونکی ځناور دی. د واده له لومړۍ میاشتې - که یې د شاتو میاشت وبولو او که د پیازو - د مینې ټولې خبرې او د اخلاقو ټول قاموس ترې ورک شو.

نجلۍ: زه د خپل احساس له لارې د هغه رښتیا او دروغ پېژندلای شم. زما احساس هېڅکله دروغ نه وایي؛ څو ځله مې ازمویلی او سم ثابت شوی دی. زه داسې څوک نه یم چې د هر دروغجن د خوږو خبرو، لکه «سترگې دې ښکلې دي» او «زړه مې وړې دی»، په وسیله وغولېږم؛ ځکه زما احساس زما لارښود دی.

ما وویل: ته انسانه یې که فرښته؟

نجلۍ: انسانه یم.

ما وویل: انسان له تېروتنې خوندي دی، که تېروځي؟

نجلۍ: تېروځي.

ketabton.com - The Digital Library


ما وويل: نو امکان لري چې ستا احساس هم کله ناکله ناسم وي؟

نجلۍ: هو.

ما وويل: کېدای شي همدا ناسم احساس دې د هغه ځوان په اړه وي؛ نو تجربه به دې ناکامه شي او ته به دوکه شوې يې.

نجلۍ: په ډېر ادب او درنښت دې له دې خبرو مننه کوم، او هيله لرم چې په راتلونکي کې هم د همدې موضوع په اړه وليکې.

د دې درنې خور ادب، اخلاقو، د بل نظر د پېژندلو هڅې او د منلو پراخې حوصلې ته سلام وړاندې کوم؛ ځکه په همدې لاره ګډې پايلې ته رسېدلای شو.

## ۱۲. ګواښ که حسد؟

لور يې خپل پلار ته وويل:

لور: پلاره! زموږ په ټولګي کې يوه ډېره بې‌ادبه نجلۍ ده؛ تل په دې وياړي چې له هلکانو سره خبرې کوي!

پلار: لورې، ولې دې نصيحت نه دی ورته کړی؟ ولې دې نه دي ورته ويلي چې دا لاره خطرناکه، پايله يې ناامنه، او سربېره پر دې حرامه او ناروا ده؟

لور: وېرېږم.

پلار: ولې؟

لور: زما يوې ټولګيوالې هڅه وکړه چې نصيحت ورته وکړي؛ خو هغې وګواښله چې د ټيليفون شمېره به يې ځينو هلکانو ته ورکړي.

پلار: الله ته پناه! ايا دومره ټيټې کچې ته رسېدلې ده؟!

دا خبرې د يوه پلار او لور ترمنځ شوې وې. ما ګومان کاوه چې دا ناوړه چلند يوازې په ښوونځيو او ليسو کې کېږي؛ هېڅ مې فکر نه کاوه چې د دومره وړو لاملونو له کبله به د وزارتونو د ښځينه کارکوونکو ترمنځ هم داسې سپک کار وشي. د بېلګې په توګه، ځينې ښځې له خپلې هغې همکارې سره حسد کوي چې د غوره هڅو له امله يې د مسؤولينو لوړې ستاينې ترلاسه کړې وي، حال دا چې دوی د خپلې سستۍ او په کار کې د ناغېړۍ له امله دا ستاينې نه وي ترلاسه کړې.

ketabton.com - The Digital Library


دا ډول خطرناک کار ښايي يوه ټوله کورنۍ وپاشي، د وژنې د جرم سبب شي، يا نورې ناوړې پايلې وزيږوي. دا ټول به د هغې لوبغاړې ښځې د عبث کار له امله وي چې له انساني ارزښت او اخلاقو بې‌برخې ده، او شهوت، کينې او له همکارانو سره حسد ړنده کړې ده؛ يوازې په دې سبب چې الله تعالی هغوی ته کوم رزق ورکړی دی.

څوک چې دا ډول کار کوي، له هغو کسانو څخه ده چې په ټولنه کې د فحشا خپرېدل خوښوي. له همدې امله الله تعالی هغوی ته ګواښ کړی او فرمايلي يې دي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾[٦]

«بېشکه هغه کسان چې دا خوښوي چې په مؤمنانو کې فحشا خپره شي، د هغوی لپاره په دنيا او اخرت کې دردناک عذاب دی. الله تعالی پوهيږي او تاسو نه پوهيږئ»

.

٦ (النور: ١٩).

## ۱۳. د ناورین پر لور

یوې محصلې خپلې ستونزې په یوه اوونیزه مجله کې خپرې کړې وې او د هغې غمیزې لپاره یې د حل غوښتنه کړې وه چې ژوند یې ورسره مخ و.

د ستونزې څښتنه وايي:

«زه نولس کلنه نجلۍ او د پوهنتون د لومړي کال محصله یم. پوهنتون ته د تګ او بېرته راتګ پر مهال مې هغه تل لیده، او هر ځل به مو یو بل ته سلام کاوه. یوه ورځ مو په یوه عام ځای کې سره ولیدل او له هغه سره مې د ژوند معنا احساس کړه. له یو بل سره مو د واده ژمنه وکړه؛ بیا یې زما د واده غوښتنه وکړه او ما څو خوشحاله ورځې تېرې کړې.

یوه ورځ مو سره ولیدل او په دې لیدنه کې مې خپل پیغلتوب له لاسه ورکړ. هغه ژمنه وکړه چې ژر به واده وکړي؛ خو زموږ تر هغې لیدنې څو میاشتې وروسته زما له ژونده ورک شو او خپله مور یې راولېږله چې کوژده پای ته ورسوي. د کوژدې له پای ته رسېدو سره زما ټول ژوند هم پای ته ورسېد.

غم مې له سترګو نه لرې کېږي. په یوه تیاره زندان کې ژوند کوم چې له پښېمانۍ، سوز او درد څخه ډک دی. راته مه وایاست چې ورځې به د هېرېدو د نعمت په وسیله زما درملنه وکړي؛ زه به هغه څه څنګه هېر کړم چې د هغه چا له لاسه راباندې راغلي، چا ته چې ما هر څه ورکړل، خو د هغه له لاسه داسې بې‌ارزښته شوم چې ګواکې هېڅ هم نه یم؟»

ketabton.com - The Digital Library


دا د پوهنتون د ګډ چاپېریال له پایلو څخه یوه پایله ده. زما په اند هېڅ پلار او هېڅ کورنۍ، که له دیني التزام څخه هر څومره لرې هم وي، نه غواړي چې لور یې له داسې غمیزې سره مخ شي.

ځینې خلک ښایي ووایي: «دا کار له هغو نجونو سره کېږي چې له کورنۍ روزنې څخه بې‌برخې وي او په هر ډول چاپېریال کې انحراف ته چمتو وي؛ یوازې پوهنتون یې لامل نه دی».

نور بیا وایي: «د هلکانو او نجونو جلا کول، زموږ د اولادونو پر چلند شک کول دي».

زما په اند دا ډول استدلال له بشري واقعیت سره هېڅ سمون نه لري. کله چې موږ په پوهنتون کې د هلکانو او نجونو جلاوالی تأییدوو، په هېڅ ډول د خپلو زامنو او لوڼو پر چلند شک نه کوو؛ خو په ورته وخت کې په یقین پوهېږو چې انسانان له تېروتنې خوندي نه دي.

ketabton.com - The Digital Library


## ۱۴. راشه؛ خوند دلته دی!

ما له یوه داسې ملګري ځخه، چې سګرېټ څکول یې پرېښي وو، د پرېښودلو لامل وپوښتی. ویې ویل:

«یوه ورځ یوازې ناست وم او له ځان سره مې وویل: د تنباکو یوه وړه ټوټه څنګه پر ما واک چلولای شي، خپل غلام مې ګرځوي، او چې هر وخت امر راته وکړي، شپه او ورځ یې منم؟ زه خو له ازادۍ سره مینه لرم او غواړم له هر قید څخه ازاد واوسم؛ نو څنګه د دې قید بندي کېدای شم؟

همداسې مې بیا بیا له ځانه پوښتنې کولې، او ځواب هر ځل راته سخت و؛ ځکه هغه د داسې کار غوښتنه کوله چې له ډېرې مودې راهیسې ورسره نه وم عادت. بالاخره مې پرېکړه وکړه چې زنځیر مات کړم او له هر قید څخه بشپړې ازادۍ ته ستون شم؛ نو سګرېټ مې د تل لپاره پرېښودل».

دغه ملګری دې قناعت ته ځکه ورسېد چې موضوع یې زموږ د ژوند له بنسټیزو مفاهیمو، لکه ازادۍ او غلامۍ، سره وتړله. ډېرو سګرېټ څکوونکو سګرېټ ځکه پیل کړي چې د ازادۍ په اړه یې له اعلانونو څخه سرچپه تصور اخیستی دی؛ که هغه په سینما او ټلویزیون کې لیدل کېدونکي اعلانونه وي، او که په ورځپاڼو او اوونیزو مجلو کې خپرېدونکي. په دغو اعلانونو کې سګرېټ څکوونکی د یوه ستایلي او شتمن سړي، د یوې ستایلي او شتمنې ښځې، د ځواکمن کابوي، یا د ماجراجو سمندري سړي په بڼه ښودل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library


انځور اخیستونکی په ځانګړو صحنو کې اتل داسې ښیي چې لوګی باسي، د سګرېټو ډبې يې په لاس کې نیولی وي، یا يې له جېبه راباسي. تنکی ځوان له دې صحنو اغېزمنېږي او ګومان کوي چې سګرېټ څکول د نارینتوب یا سټایل برخه ده. ښځه هم فکر کوي چې دا د ازادۍ، خپلواکۍ او د شخصیت د ځواک له نښو څخه ده. هغوی د هغو اعلانونو تر اغېز لاندې سګرېټ د خوښۍ او خوند راوړونکی ګڼي چې وایي: «راشه، خوند دلته دی!» او «راشه، مزه دلته ده!»

دا سرچپه مفاهیم د تنکیو ځوانانو د بلوغ په ټوله دوره او د ځوانۍ په یوه برخه کې هغوی غولوي. کله چې له دې پړاو څخه تېر شي، عادت يې په وجود کې کلک شوی وي او پرېښودل يې سخت وي؛ په ځانګړي ډول وروسته له هغه چې نور سرچپه باورونه خپل کړي او ځانونه ورباندې قانع کړي، لکه دا چې سګرېټ فشار او عصبانیت له منځه وړي یا يې کموي. په همدې ډول ځان د دې ویجاړوونکي عادت پر دوام قانع کوي.

ketabton.com - The Digital Library


## ۱۵. «روا» زهر

د هغې غونډې په ترڅ کې چې د الفردوس د ټولنیز کار کمېټې جوړه کړې وه او د سګرېټ څکولو پر ضد د کویټي ټولنې استازی ډاکټر مصطفی جوهر حیات یې وربللی و، ډاکټر حیات وویل:

د روغتیا د نړیوال سازمان احصائیې ښیي چې په ۲۰۰۵م کال کې به له لسو میلیونو څخه ډېر انسانان خپل ژوند له لاسه ورکړي، چې له دې ډلې به د مخ پر ودې هېوادونو پنځه میلیونه وګړي د سګرېټ څکولو له ناروغیو مړه شي.

هغه زیاته کړه: د سګرېټ په لوګي کې ۴۰۰۰ زهري مواد شته، چې ۴۰۰ یې کیمیاوي مواد دي. تر ټولو خطرناک یې کاربن مونو اکساید، قطران او نیکوتین دي. سګرېټ ګڼ ډول سرطانونه رامنځته کوي؛ لکه د سږو، وریو، شونډو، غړېزو تارونو، حنجرې او ځیګر سرطان او نور.

ډېر سګرېټ څکوونکي په دې خطرناکو معلوماتو پوهېږي؛ خو له دې امله چې اغېزې یې سمدستي په خپلو سترګو نه ویني، پروا یې نه کوي او د دغو «روا زهرو»، یا په کره وینا د «روا نشه‌یي توکو»، کارولو ته دوام ورکوي او په تدریجي ډول خپل ځانونه وژني.

ketabton.com - The Digital Library


د اسلام ډېرو علماوو د سګرېټ څکول د هغو ګڼو روغتيايي زيانونو له امله حرام بللي چې ترې پيدا کېږي. سګرېټ د نشه‌يي توکو نړۍ ته د ننوتلو تر ټولو لويه دروازه هم ده؛ په نړۍ کې ډېر کم داسې روږدي موندل کېږي چې د اعتياد پر لور د تګ پر مهال د سګرېټ له پړاوه نه وي تېر شوي. په ځانګړي ډول په خليجي هېوادونو کې هم ډېر کم داسې يوه روږدې ښځه ليدل کېږي چې د دې ناوړه عادت په وسيله نه وي غولول شوې؛ لومړی سګرېټ، بيا چرس او وروسته لعنتي افيوني توکي، تر دې چې روږدې شوې ده.

اې سګرېټ څکوونکو! اوس چې د طب نظر او د دين حکم مو وپېژاند، ايا لا هم د سګرېټ پرېښودلو وخت نه دی رارسېدلی؟ ايا وخت نه دی چې د سګرېټ له قيده ځانونه ازاد کړئ، د ژوند پاتې برخه په روغ بدن تېره کړئ او د سګرېټ څکولو له ګناه څخه لرې شئ؟

يادونه: په سرليک کې له «روا» څخه شرعي اباحت نه، بلکې قانوني اجازه مراد ده؛ ځکه سګرېټ د نړۍ په ټولو هېوادونو کې په قانوني ډول منع شوي نه دي.

## ۱٦. د قهوې يوه پياله او يو سګرېټ

له بېلابېلو ډګرونو څخه يو لوی لښکر د هغه څه تبليغ کوي چې «روا نشه‌يي توکی» (سګرېټ) بلل کېږي. د تنباکو مافيا هغوی ته په سلګونو زره ډالر ورکوي، څو خلک د هغه لوګي کشولو ته دوام ورکړي چې ورو ورو يې له منځه وړي.

ايا کله چې موږ واوره وو، د عربي ژبې يوه له خورا مشهورو سندرو "د قهوې پياله او سګرټ" مو نه ده اورېدلې؟ ايا نزار قباني خپله يوه له تر ټولو مشهورو قصيدو څخه وړاندې نه کړه چې (نجاة الصغيرة) پکې د سګرټ په اړه سندره ووايي؟

او په نړۍ کې د موټر ځغلونې (راليو) د تر ټولو لويو سياليو مالي ملاتړ څوک کوي؟ ايا يوه مشهوره د تنباکو کمپنۍ نه ده؟ موخه يې دا ده چې ځوانانو ته داسې وښيي، لکه ورزش، ځواک او بريا چې له تنباکو سره تړلي وي.

د ماشومانو «سبيس تون» چينل هغه وخت راته ډېر خوښ شو چې غوښتل يې د تنباکو د تبليغاتو رسنيز اغېز راکم کړي. دغه تبليغ د «ملوان پاپای» په انځور کې څرګندېده؛ نو په عربي ژبه يې داسې وويلو: «دا چلم نه دی؛ دا شپېلۍ ده».

موږ ټول بايد په داسې يوه مبارزه کې برخه واخلو چې د دې ناوړه او وژونکې عادت زيان تر ممکنه بريده راکم کړي، او د هرې هغې رسنۍ مخه ونيسو چې د وژونکي تنباکو تبليغ کوي.

وروستيو احصائيو ښودلې چې په متحده اياﻻتو کې هره ورځ زر تنه د سګرېټ څکولو له امله مري. دغه احصائيې دا هم ښيي چې پخواني سوسياليستي هېوادونه او عربي او آسيايي هېوادونه په نړۍ کې د سګرېټ څکولو تر ټولو لوړې کچې لري.

ketabton.com - The Digital Library


دا هم باید په ګوته شي چې سګرېټ څکول د نشه‌يي توکو نړۍ ته د ننوتلو تر ټولو لويه دروازه ده.

ketabton.com - The Digital Library


## ۱۷. «یوازې د دې لپاره چې له هغوی سره ځان برابره کړي»

یوه نجلۍ له پوهنتون یا کوم بل ځای څخه فارغه شي، د دولت په یوه وزارت کې دنده ترلاسه کړي، او د الله تعالی تقدیر داسې وي چې په کار کې یې ښځینه همکارانې له شتمنو کورنیو څخه وي، یا لږ تر لږه د شتمنۍ ښودنه کوي. دا بېوزله نجلۍ د هغوی اغوستې او کارېدونکې څیزونه څاري: ساعتونه، لاسي بکسونه، د ټوکر ډول، بوټان، بنګړي، غاړکۍ او موټرونه.

په لومړي ځل هغه مهال هک پک شي چې پوه شي د یوې همکارې د ساعت بیه د هغې د دوو یا دریو میاشتو له معاش سره برابره ده، په داسې حال کې چې د هغې خپل ساعت له دېرشو دینارو ډېر ارزښت نه لري. بیا پرله‌پسې نورې حیرانوونکې او ټکان ورکوونکې خبرې ویني. وروسته ناهیلي کېږي او احساس کوي چې له دغو ښځو څخه جلا ده، یا لږ تر لږه هغوی دې ته تر ځان په ټیټه سترګه ګوري. همدا احساس یې د هغوی سیالۍ ته هڅوي، او له دې ځایه د لېونتوب سفر پیلېږي.

له یوه بشپړ کال رواني کشمکش وروسته پرېکړه وکړي: له یوې خوا غواړي خپل عادي ظاهر هماغسې وساتي لکه چې دی، او خپل معاش د ژوند په اړینو اړتیاوو ولګوي؛ خو له بلې خوا غواړي هغوی ته وښیي چې تر هغوی کمه نه ده او د سیالۍ ډګر ته ورسره ننوتلای شي.

ketabton.com - The Digital Library


لومړی يو قيمتي موټر اخلي، لکه «شبح/بلا»، BMW، يا د همدې کچې بل موټر. د يوه کال تېوله سپما يې د لومړني قسط په توګه ورکوي او پاتې بيه په قسطونو پرې کوي. بيا د ګاڼو دوکان ته ورځي او د الماسو يوه غاړکۍ هم په قسطونو اخلي. د قيمتي شيانو پيرود همداسې دوام کوي، تر دې چې له معاشه يې يوازې لږ څه پاتې کېږي.

له دې وروسته، کله چې همکاراني يې ومني، په کار کې ورسره ټينګه ملګرتيا جوړوي. بيا مېلمستياوې پيلېږي او دې ته هم بلنې ورکول کېږي. د هر واده د بلنې لپاره داسې کالي اخلي چې بيه يې له دوه سوه دينارو کمه نه وي. دا ساده لوحه ښځه د هغوی د سيالۍ په دې لېونۍ منډه کې همداسې روانه وي، تر دې چې په کور کې د يوې ناڅاپي او بېړنۍ اړتيا له امله پور اخيستلو ته مجبوره شي، ځکه د هغې اړتيا د پوره کولو لپاره څه نه لري. کېدای شي په بې‌اعتباره چک کې هم ښکېله شي او پای يې مرکزي زندان وي، يا د زکات د اداري تلپاتې مراجع وګرځي.

د يوې لېسې ښوونکې راته وويل: «ټولګي ته ننوتم او له خپلو قيمتي ساعتونو څخه مې يو پر لاس و. ناڅاپه مې وليدل چې د ټولګي ډېرې نجونو هم د همدې په څېر، يا نږدې د همدې کچې ساعتونه پر لاس کړي وو؛ خو ټول جعلي او تقلبي وو».

د براندونو عقده، يا د ظاهري ښودنې ناروغي، چې د ښځو په ټولنه کې ډېره خپره ده - پرته له هغو چې الله تعالی پرې رحم کړی - د نجلۍ له پوهنتون څخه تر فراغت وروسته نه پيلېږي، بلکې تر دې ډېر مخکې پيل شوې وي. په ډېرې خواشينۍ سره، دا ناروغي د نارينه‌وو ټولنې ته هم ورننوتې ده او اوس د «بې‌اعتباره چک» په ډېرو قضيو کې يو بنسټيز لامل ګڼل کېږي.

د دې پديدې له مهمو لاملونو څخه بايد دا دوه لاملونه وپېژندل شي:

ketabton.com - The Digital Library


۱. په ژوند کې ناکام خلک، چې د زده کړې، ټولنيز ژوند یا کوم بل ډول ناکامۍ له امله د کمترۍ په عقده اخته وي، هڅه کوي دغه تشه په ظاهري بڼه ډکه کړي. هغوی ګومان کوي - یا یې ځانونه په دې قانع کړي دي - چې ټولنه به یې له دغو ظاهري نښو پرته نه مني او نه به درناوی ورته کوي.

۲. په دغو ناکامو خلکو کې میندې او پلرونه هم شته؛ نو له همدې امله هغوی دا باور خپلو اولادونو ته هم لېږدوي. دا کار د دې سبب کېږي چې په کار کې صداقت او مهارت د دندې شرف، اخلاق، علم، تحصيلي سند او ټولنيز خدمت هغه وروستي معيارونه وي چې دا اولادونه يې د ټولنې له خوا د درناوي د ترلاسه کولو د لاملونو په توګه په ذهن کې ساتي.

دروند لوستونکی به حيران شي چې جاپاني ولس د عقل پالنې ته پاملرنه وکړه، د نړۍ له ځواکمنو هېوادونو سره يې سيالي وکړه او تر هغوی مخکې شو؛ خو جاپاني خواړه د نړۍ تر ټولو خراب خواړه بلل کېږي، ځکه جاپانی د خوړو د ډېرې پاملرنې لپاره کافي وخت نه لري. عربي هېوادونو بيا خپلو نسونو ته پاملرنه غوره کړه؛ نو عربي خواړه د نړۍ تر ټولو خوندور خواړه شول.

خو په پوهه او ټکنالوژۍ کې د ملتونو د لېست په پای کې پاتې شول. دا هماغه د ظاهري ښودنې ناروغي ده چې مصرفوونکي ولسونه زېږوي، نه توليدوونکي.

ketabton.com - The Digital Library


## ۱۸. په دې وخت کې بهر څه کوئ؟

له جوماته له ځینو ملګرو سره مې عادت و چې د سهار له لمانځه وروسته به مو نیم ساعت پلې مزل کاوه. یوه ورځ کور ته د ستنېدو پر مهال مې له لرې درې کسان ولیدل چې زما د کور مخې ته تېرېدل. ګومان مې وکړ چې ښایي له هغو ځوانانو څخه وي چې تر سهاره په حجرو (بانډار ځایونو) کې ویښ ناست وي او بیا خپلو کورونو ته ځي؛ خو کله چې ورنږدې شوم، هک پک شوم: هغوی نجونې وې او تر ټولو مشره یې هم له پنځلسو کلونو زیاته نه وه.

زړه نا زړه وم چې کورونو ته د ستنېدو نصیحت ورته وکړم. د ټولنې له هغو لېوانو څخه پرې وېرېدم چې یوازې په همدې وخت کې له بې‌ځایه ګرځېدو او د خپلو قربانیانو له ښکارولو خوند اخلي، ځکه ټول خلک ویده وي. خو اټکل مې وکړ چې ښایي زما نصیحت ورته ښه ونه لګېږي او داسې څه راته ووایي چې مناسب نه وي.

کور ته ننوتم؛ خو اندېښنه مې ورسره وه. د کور شاتنۍ دروازه مې پرانیسته، څو وګورم چې څه ورسره پېښېږي. رښتیا هم څو شېبې وروسته یو له دغو لېوانو څخه ورته نږدې ودرېد او د تېرې هڅه یې پرې وکړه؛ خو نجونې تر ټولو نږدې کورونو ته وتښتېدې. کله چې ډاډه شوې چې هغه تللی دی، خپل مزل یې بیا روان کړ.

ketabton.com - The Digital Library



کور ته دننه شوم، خو زړه مې له اندېښنې ډک و. د بلې ورځې په سهار مې د پلې تګ د لارې په يوه بل ځای کې بيا وليدې. نور د پرون په څېر چوپ پاتې کېدلای نه شوم؛ ورنږدې شوم او ورته ومې ويل: «زه ستاسو د پلار په څېر يم او پر تاسو داسې وېرېږم لکه پلار چې پر خپلو لونو وېرېږي. په دې وخت کې بهر څه کوئ؟ ايا نه پوهېږئ چې دا وخت تر ټولو خطرناک وختونه دي؟ که پلې مزل کول غواړئ، دا ساعت د مزل لپاره مناسب نه دی. که د ټولنې کوم لېوه درباندې بريد وکړي، لکه پرون چې درسره وشول، څه به کوئ او څوک به مو وژغوري؟»

هغوی ځان داسې وښود چې نصيحت يې منلی دی، او ويې ويل: «همدا اوس کور ته ځو».

ما او هغو ورونو چې راسره روان وو، له ځانه وپوښتل: «په داسې وخت کې د دې نجونو د بهر وتلو مسؤول څوک دی؟»

مور يې چېرته ده؟ پلار يې چېرته دی؟ د مور او پلار سترګې څنګه ويدې شوې دي، حال دا چې لور يې په داسې خطرناک وخت کې له کوره وځي؟ ايا بيا به حيرانېږو چې په ټولنه کې څوک په همدې عمر کې په نشه‌يي توکو روږدي ووينو؟

ketabton.com - The Digital Library


## ۱۹. «غواړم سندره واورم»

د امریکایي سندرغاړي غږ غوړېدونه کتهول. د غږ د لوړوالي له امله نږدې مو په جومات کې د قرآن لوستونکي امام غږ نه شو اورېدلای. غږ له داسې یوه ستر غږیز سیستم څخه راوت، چې یوازې همدا وسیله د ودونو یوه لوی سالون ته بس وه؛ خو د «مېرینز» په ډول د وېښتانو لرونکي یوه ځوان په کوچني چټک موټر کې ځای پر ځای شوې وه.

له لمانځه وروسته یو هوښیار دعوتگر هغه ځوان ته ورغی. په پراخه موسکا او یوه سپکه ټوکه یې سلام پرې واچاوه او ځان یې ور وپېژاند. بیا یې له ځوانه وغوښتل چې د لوېدیځې سندرې د اورېدو لپاره ورسره څنگ ته کښېني.

ځوان حیران شو او نږدې یې پر خپلو سترگو باور نه کېده: ایا یو دیندار سړی له ده څخه د لوېدیځې سندرې د اورېدو غوښتنه کولای شي؟ دعوتگر چې د هغه پر مخ د حیرانتیا نښې ولیدې، ورته ویې ویل:

دعوتگر: ولې حیران یې؟ غواړم دا سندره واورم؛ مهرباني وکړه، یو ځل یې بیا راته چالان کړه.

ځوان د سندرې کیسټ له سره چالان کړ. کله چې سندره پای ته ورسېده، دعوتگر ورته وویل:

دعوتگر: زویه! له دې سندرې دې څه زده کړول؟

ځوان: رښتیا ووایم، په هېڅ نه پوهېږم.

ketabton.com - The Digital Library


دعوتګر: نو هغه څه څنګه اورې چې نه پرې پوهېږې؟

ځوان: نور ځوانان چې څه کوي، زه يې هم کوم.

دعوتګر: ايا پوهېږې چې د سندرې په ځينو برخو کې داسې سپکې خبرې شته چې ستا په څېر يوه ځوان ته يې اورېدل مناسب نه دي؟

ځوان: په الله قسم، کاکا! زه نه پوهېږم چې څه وايي.

دعوتګر: مسلمان بايد پر خپل دين، خپل ميراث او خپلو ارزښتونو وویاړي؛ د لوېديځ په کثافاتو او سپکو شيانو پورې دې زړه نه تړي. که موږ مسلمانان پرمختګ غواړو، بايد په هغو ګټورو شيانو کې يې پيروي وکړو چې د هغوی د پرمختګ او لوړوالي لامل شوي دي؛ نه په هغو چارو کې چې زموږ له ارزښتونو، دين او لوړو بېلګو سره په ټکر کې دي.

زويه! ته د يوې پاکې او ښې کورنۍ غړی يې؛ نو په خپلو کړنو د خلکو خولې مه ورخلاصوه او خپله درنه کورنۍ د خلکو په خبرو کې مه اچوه.

ځوان له دعوتګر څخه بخښنه وغوښته، د هغه د طريقې او پراخې حوصلې مننه يې وکړه، او هيله يې وکړه چې ټول دعوتګران همداسې اخلاق، نرمي او پراخه حوصله ولري.

د دغو ځوانانو نصيحت کول پر موږ لازم دي. يوازې نيوکه پرې کول او جګړه ورسره اعلانول هېڅ عملي پايله نه شي لرلای، تر څو د هغوی پر وړاندې خپله دنده ترسره نه کړو او په حکيمانه او مهربانه طريقه يې هغو تېروتنو ته متوجه نه کړو چې پکې لوېږي.

ketabton.com - The Digital Library


رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«مَا كَانَ الرِّفْقُ فِي شَيْءٍ إِلاَّ زَانَهُ، وَمَا نُزِعَ مِنْ شَيْءٍ إِلاَّ شَانَهُ» [٧]

ژباړه: «نرمي چې په هر څه کې وي، ښکلا ورکوي؛ او چې له هر څه څخه وایستل شي، بدرنګه کوي یې».

---

٧ (جامع الأحادیث للسیوطي).

ketabton.com - The Digital Library



## ۲۰. سخت زړه‌تنګی احساسوم

هغه د دولت په یوه ستره اداره کې د لوړ منصب څښتن و. مال یې له لاس لاندې او شاوخوا بهېده؛ خو له دې ټولو سره سره، نو له دې هرڅه سره سره بیا هم ولې تل سخته زړه‌تنګي د هغه نفس ته ننوځي؟

په ډېري تواضع زما دفتر ته راغی، رانږدې شو او غږ یې ټیټ کړ، څو څوک یې وانه وري. ویې ویل:

«په سینه کې سخت تنګوالی احساسوم. د لرې کولو لپاره مې هره هڅه وکړه، خو بریالی نه شوم. د نړۍ تر ټولو ښکلو سیمو ته سفر، د ارامې کلاسیکې موسیقۍ اورېدل، او د هغو شیانو پیرودلو چې سترګې او نفس ترې خوند اخلي، د دې تنګوالي د لرې کولو لپاره هېڅ ګټه ونه کړه. کېدای شي لنډمهاله یې ورک کړي؛ خو د کوم بد خبر په اورېدو، یا له داسې چلند سره په مخ کېدو چې نه مې خوښېږي، ډېر ژر بېرته راګرځي. د الله لپاره، راته ووایه چې څه وکړم؟»

ما ورته وویل:

ما: قرآن لولې؟

هغه: نه.

ما: جومات ته ځې؟

هغه: نه.

ketabton.com - The Digital Library


ما: تا د سندرو او کلاسیکې موسیقۍ اورېدل، د رواني ډاکټرانو لیدل، سفر او نورې لارې ازمویلې دي؛ خو دې تنګوالي ته یې هېڅ بدلون نه دی ورکړی، بلکې ورځ تر بلې زیاتېږي. نو هغه څه به ونه ازمویې چې زه یې درته وایم؟

ویې ویل: «په جومات کې د لمانځه یا په خپله د لمانځه وعده نه درکوم؛ خو په هغه څه پیل کولای شم چې راته اسانه دي، او هغه د قرآن لوستل دي».

ملګري مې د نصیحت په منلو رخصت واخیست. بله ورځ بېرته راغی؛ مخ یې له خوښۍ ځلېده او داسې موسکا یې کوله چې ټول مخ یې ورسره موسکی ښکارېده.

ما ورته وویل: «زېری راکړه، څه خبر دی؟»

ویې ویل: «کور ته ولاړم، اودس مې وکړ، قرآن مې پرانیست او له لومړي مخه مې لوستل پیل کړل. تنګوالی لا هم راسره و؛ نو دوهم، درېیم، څلورم او پنځم مخ مې هم ولوست. احساس مې کاوه چې یو ستر غر ورو ورو زما له سینې لرې کېږي، تر دې چې خوښي مې زړه ته راننوته. داسې ارامي او ډاډ مې احساس کړ چې په ټول ژوند کې مې نه و احساس کړی.

بیا پاڅېدم او د الله لپاره مې دوه رکعته لمونځ وکړ. دې لمانځه پر دې باوري کړم چې د دنیا ټول مالونه، منصبونه، ښکلاوې او خوندونه د الله لپاره له یوې داسې سجدې سره برابر نه دي چې پکې له الله تعالی سره راز او نیاز کوې، د هغه په وړاندې پر خپلې نیمګړتیا اعتراف کوې، او داسې احساسوې لکه درته وایي: پاڅه، ښښنه مې درته وکړه.

د زړه له تله ستا د نصیحت مننه کوم».

ketabton.com - The Digital Library


## ۲۱. خورې! حجاب مه څيروه

د «التبرج» په نوم يو كتاب لاس ته راغى چې ليكواله يې نعمة حرم محمد رضا ده. نوموړې د كتاب په سريزه کې وايي:

«د غاښ له ايستلو وروسته په سخته ناروغۍ اخته شوم. دومره سخت دردونه مې وګالل چې يوه پوره مياشت يې د خوب او خوړو خوند راڅخه واخيست. درد شپه او ورځ يوه شېبه هم نه درېدى. پړسوب دومره زيات شو چې نږدې و مخ مې وچوي؛ غاړې او سر ته مې خپور شو او د سترګې پټۍ يې راوتړله. جراحان او ډاکټران زما په درملنه کې حيران پاتې شول، طب بې‌وسه او درمل نايابه شول، او د رغېدو هيله په بشپړه توګه پرې شوه.

ناڅاپه د الله کريم د مهربانۍ لاس راوغځېد، ناروغي يې راڅخه لرې کړه، تپ يې ورو ورو ورغوَلو او پړسوب يې ختم کړ. ډاکټران د دې معجزې په ليدو هک پک شول. ما د مخلوق کمزوري او د هغو کسانو بې‌وسي په خپلو سترګو وليده چې د پوهې او ځواک دعوه کوي، او پوه شوم چې پاک خالق پر خپل بنده تر هر انسان ډېر مهربان او رحم کوونکى دى.

د ناروغۍ په ترڅ کې يوه مېرمن زما پوښتنې ته راغله او د ډاډګېرنې لپاره يې راته وويل: «ته د دې ټول عذاب وړ نه يې؛ ته يوه مؤمنه، لمونځ کوونکې او حجانۍ مېرمن يې، نو کوم ګناهونه دې کړي دي؟»

ketabton.com - The Digital Library


ما په لوړ غږ وويل: «دا خبره مه کوه! الله تعالی پر خلکو هېڅ ظلم نه کوي. زه گناهګاره يم او د دې سزا، بلکې تر دې د زياتې سزا وړ يم. دا خوله چې الله تعالی په ناروغۍ او درد وروزله، په سره رنګ به رنګېده؛ نه يې د نېکۍ امر کاوه او نه يې له بدۍ منع کوله. دا پړسېدلی مخ به په سينګاري پوډرو ښايسته کېده. دا پر بستر پروت بدن به په ښايسته جامو کې خپل زينت ښکاره کاوه. او دا سر چې اوس درد کوي او د تبې په اور کې سوځي، په پړوني به نه پټېده؛ خو اوس په زور د طبي پټيو په وسيله پټ شوی، او هغه پټۍ د پړوني په ځېر ترې چاپېرې دي.

دا پر ما د خپل پالونکي فضل دی؛ ځکه الله تعالی چې له کوم بنده سره مينه وکړي، هغه ازمايي. د الله تعالی شکر دی چې لږ مخکې مې هغه ته توبه ايستلې وه او د وخت له تېرېدو مخکې مې حيا او پرده غوره کړې وه».

خورې! دا زموږ په عربي او اسلامي نړۍ کې له هغو زرګونو ښځو څخه د يوې کيسه ده چې حجاب يې ځېرلی، اسماني ارزښتونه او الهي امرونه يې پرېښي، او تر هغوکو پورې د لوېديځو ښځو په تقليد کې ډوبې شوې دي. هغوی ګومان کوي چې دا د پرمختګ، تمدن او لوړتيا غوښتنه ده، که څه هم دا کار د هغې د دين، دودونو او د هغه ځانګړي شخصيت په بيه تماميږي چې دين ورته د نړۍ له نورو ښځو جلا بښه ورکړې ده.

﴿مُسْلِمَاتٍ مُؤْمِنَاتٍ قَانِتَاتٍ تَائِبَاتٍ عَابِدَاتٍ سَائِحَاتٍ﴾[8]

---

۸ (التحريم: ۵).

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه: «مسلمانانې، مؤمنانې، فرمان منونکې، توبه کوونکې، عبادت کوونکې او روژه نيوونکې».

خورې، زما د هېواد لورې! ډېر دردېدلی يم چې وينم حيا او حجاب څېروې او داسې جامې اغوندې چې زموږ مېندو او نياوو نه دي اغوستې؛ داسې جامې چې ستا او د نيويارک يا اکسفورډ په واټونو کې د روانې امريکايۍ يا بلې لوېديځې ښځې ترمنځ هېڅ توپير نه پرې ښودل کېږي.

له عربيت او اسلام څخه يوازې ستا عربي نوم او د زېږون هغه سند درپاتې دی چې «مسلمانه» پکې ليکل شوي دي.

خورې! حجاب مه څېروه او د هغه چا خبره مه منه چې درته وايي بې‌پردگي پرمختگ، مدنيت او تمدن دی. هغه کوم پرمختگ دی چې په جامو کېږي، خو په عقلونو او ټکنالوژۍ نه کېږي؟ او هغه کوم پرمختگ دی چې د نورو د دودونو په تقليد او د خپل شخصيت او ارزښتونو په پرېښودلو ترلاسه کېږي؟ خورې! دا پرمختگ نه، بلکې شاته تگ، وروسته پاتېوالی، کمزوري، سپکاوی او د نورو پر وړاندې ذلت دی.

خورې! حجاب مه څېروه. د حجاب حکم نه د کومې ديني ټولنې له خوا راغلی، نه د کوم شيخ يا عالم له لورې؛ بلکې د عالمونو د پالونکي له لورې راغلی دی. الله تعالی فرمايي:

﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَنْ يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ﴾ [۹]

---

۹ (الأحزاب: ۵۹).

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه: «اې نبي! خپلو مېرمنو، لوڼو او د مؤمنانو ښځو ته ووایه چې خپل لوی پړوني پر ځان راخپاره کړي؛ دا دې ته ډېره نږدې ده چې وپېژندل شي او ونه ځورول شي».

کله چې د الله تعالی حکم راشي، انسان ته دا نه ښايي چې ووايي: «قانع نه یم»، «لا وړه یم» یا «فکر به پرې وکړم». که موږ مسلمانان یو، په دې اړه د خپل اختیار ځای نه لرو؛ ځکه الله تعالی فرمایي:

﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا﴾ [١٠]

ژباړه: «هېڅ مؤمن نارینه او مؤمنې ښځې ته نه ښايي چې کله الله تعالی او د هغه رسول د کوم کار پرېکړه وکړي، بیا دې په خپل کار کې د انتخاب حق ولري؛ او څوک چې د الله تعالی او د هغه د رسول نافرماني وکړي، په ښکاره بې‌لارې کې ولوېد».

خورې! حجاب مه څېروه، هسې نه چې په دنیا او اخرت کې سخته پښېمانه شې.

---

١٠ (الأحزاب: ٣٦).

ketabton.com - The Digital Library


## ۲۲. د وخت له تېرېدو مخکې

هغه یو بې‌لارې ځوان و، ټولو ارزښتونو ته یې په سپکه کتل او د هېڅ گناه له کولو یې ډډه نه کوله. د ډېرو نورو ځوانانو په څېر یې په ژوند کې کومه موخه نه لرله؛ داسې اوسېده لکه سبا چې هېڅ نه مري. په ژوند کې یې له شهوت پرته بل څه نه پېژندل او ټوله ورځ به یې د هماغه لپاره منډې وهلې.

له خپل یوه هم‌خویه ملگري سره یې هوکړه وکړه چې یو ځای سینما ته ولاړ شي او هلته ننداري ته وړاندې شوی فلم وگوري. ټاکلې وه چې د یوه څلورلارې ترڅنگ به ورته انتظار کوي. د انتظار پر مهال یو پخوانی ملگری پرې تېر شو. ده هغه سړی ونه پېژاند چې خپل موټر یې د ده د موټر شاته ودراوه، او نه پوهېده چې څه غواړي. له سلام وروسته هغه ملگري ترې وپوښتل:

پخوانی ملگری: ما پېژنې؟ څېرې ته مې ښه وگوره!

ځوان: اوه! ته به هماغه فلانی نه یې چې په لومړني ښوونځي کې راسره وې؟

پخوانی ملگری: هو، هماغه زه یم، په خپل ټول وجود!

دواړو یو بل په غېږ کې ونیول او د تېر وخت خوږې او ترخې ورځې یې سره یادې کړې. بیا هغه پخواني ملگري، چې د دین نښې یې پر څېره ښکارېدې، وپوښتل:

پخوانی ملگری: دلته څه ته انتظار یې؟

ځوان: یوه ملگري ته منتظر یم چې یو ځای سینما ته ولاړ شو.

ketabton.com - The Digital Library


پخوانی ملګری: ولې له ما سره ځو ملګرو ته نه ځې چې روژه‌ماتی ورسره وکړې او هغه ورځې جبران کړو چې له لاسه مو ورکړې دي؟

ځوان: که ملګری مې رانغی، له تا سره به ولاړ شم.

تاکل شوی وخت تېر شو، خو ملګری یې رانغی؛ نو د خاطر ساتنې لپاره یې پرېکړه وکړه چې له دې پخواني ملګري سره ولاړ شي.

کله چې د روژه‌ماتي ځای ته ورسېدل، په خپل عمر کې یې لومړی ځل داسې همزولي ځوانان ولیدل چې پر ګناه نه، بلکې د الله تعالی پر طاعت راټول شوي وو. ټولو له رمضان پرته روژه نیولې وه، پر څېرو یې د نېکۍ نښې ځلېدې، هر یوه له پخوانۍ پېژندګلوۍ پرته تود هرکلی ورته وکړ، او د هېڅا له مخه موسکا نه لرې کېده.

د یوه ځوان د ماښام اذان د هغو ارامو څپو له غږ سره ګډ شو چې د دوی د روژه‌ماتي له ساحلي کور سره نږدې وې. یوه تن زموږ ځوان ته خرما وړاندې کړه. هغه وویل:

ځوان: مننه، خو زما روژه نه ده.

ملګري: پروا نه کوي؛ یوازې په روژه‌ماتي کې راسره ګډون وکړه.

لمونځ ودرېد او هغه هم ورسره په لمانځه کې شامل شو. له اوږدې مودې راهیسې چې لمونځ یې پرې ایښی و، دا یې لومړی لمونځ و. له لمانځه وروسته یوه ځوان لنډې ایماني خبرې وکړې چې هره کلمه یې د ده د زړه تل ته ننوتله. بیا یې روژه‌ماتی ورسره وکړ.

ketabton.com - The Digital Library


هغه د دې نېکې ډلې او هغو خبرو په فکر کې شو چې تر دې وړاندې یې په ځېر خبرې نه وې اورېدلې؛ یا ښایي ډېر ځله یې اورېدلې وې، خو دا لومړی ځل و چې په پرانیستي زړه یې اورېدې. وروسته یې د بېرته تلو اجازه وغوښته. ټولو په ډېره مینه مخه ښه ورسره وکړه، لکه له ډېره وخته یې چې پېژني.

کله چې په موټر کې کښېناست، له خپل نفس سره یې حساب پیل کړ:

«تر کله به پر دې لار روان یم؟ ایا د سمېدو وخت لا نه دی را رسېدلی؟ څه شی مې له نېغې لارې منع کوي؟»

له خپل عادت سره خلاف وختي کور ته ورسېد. مېرمن یې د وختي راتګ له امله حیرانه شوه، او چې پوښتنه یې ترې وکړه، ټوله پېښه یې ورته بیان کړه.

مېرمن یې ډېره خوشحاله شوه او د خوشحالۍ د ورځو د راتګ زېری یې احساس کړ؛ ځکه له واده راهیسې مېړه د خپلو ګناهونو او له هغې سره د سخت چلند له امله د هغې ټولې ورځې په یوه پسې بل غم اړولې وې.

ځوان د شپې په دوو بجو، د سهار له اذانه ډېر مخکې، له خوبه راویښ شو. اودس یې وکړ، په لمانځه ودرېد، له خپل پالونکي سره یې راز او نیاز پیل کړ او د تېرو ورځو لپاره یې ښښنه ترې وغوښته. سجده او قیام یې دومره اوږده کړل چې د سهار اذان وشو.

مېرمن یې راویښه شوه او هغه یې په سجده ولید. له دې بدلون څخه ډېره خوشحاله شوه، ورنږدې شوه او د لمانځه پای ته یې انتظار وکړ؛ خو هغه له سجدې سر راپورته نه کړ. لاس یې پرې کېښود او غږ یې ورته وکړ:

مېرمن: د فلاني پلاره! څه درباندې شوي؟

ketabton.com - The Digital Library


خو د ځواب پر ځای پر اړخ راولوېد. اجل یې په داسې حال کې را رسېدلی و چې په سجده کې یې له خپل پالونکي سره راز او نیاز کاوه.

ketabton.com - The Digital Library


## ۲۳. لرې سفر

خور مې تته او ډنګره ښکارېده، خو د تل په څېر يې قرآن کريم لوست. هر وخت چې به دې لټوله، په لمانځه ځای کې به دې موندله: کله په رکوع، کله په سجده او کله به يې لاسونه اسمان ته پورته کړي وو. سهار، ماښام او د شپې په زړه کې به همداسې بوخته وه؛ نه ستړې کېده او نه تنګېده.

زه بيا د هنري مجلو او کيسه‌ييزو کتابونو لوستلو ته ډېره لېواله وم. ويډيو به مې دومره ډېره کتله چې په همدې کار مشهوره شوې وم. خپلې دندې مې بشپړې نه ترسره کولې او په لمانځه کې هم پابنده نه وم.

درې پرله‌پسې ساعته مې بېلابېل فلمونه وکتل او د ويډيو دستګاه مې بنده کړه. له نږدې جوماته د اذان غږ پورته شو، خو زه بېرته خپل بستر ته ولاړم.

هغې د لمانځه له ځايه غږ راوکړ:

نورا: هناء!

ما ووېل: هو، نورا! څه غواړې؟

نورا: تر هغه مه ويده کېږه چې د سهار لمونځ دې نه وي کړی.

ما ووېل: اوه! د سهار لمانځه ته لا يو ساعت پاتې دی؛ کوم اذان چې دې واورېد، هغه لومړی اذان و.

بيا يې په خپل مهربان غږ راوبللم. هغه له دې وړاندې هم همداسې وه، مخکې له دې چې په وژونکې ناروغۍ اخته او د بستر شي:

ketabton.com - The Digital Library


نورا: هناء، راشه زما ترڅنګ کښېنه.

ما يې غوښتنه هېڅکله نه شوه ردولای؛ د هغې صفا او ربښتينولي به دې احساسوله او بې له شکه به دې په خوښۍ خبره منله.

نورا: کښېنه.

ما ووېل: کښېناستم، څه خبره ده؟

هغې په خوږ او نرم غږ دا آيت ولوست:

﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ [۱۱]

ژباړه: «هر نفس د مرګ څکونکی دی، او د قيامت په ورځ به ستاسو بدلې په بشپړه توګه درکول کېږي».

لږه شېبه چوپه شوه، بيا يې وپوښتلم:

نورا: ايا پر مرګ ايمان نه لرې؟

ما ووېل: ولې نه، ايمان پرې لرم.

نورا: ايا دا نه منې چې د هر واړه او لوی کار حساب به درسره کېږي؟

ما ووېل: ولې نه؛ خو الله ښښونکی او مهربان دی، او عمر اوږد دی.

---

۱۱ (آل عمران: ۱۸۵).

ketabton.com - The Digital Library


نورا: خورې! ایا له ناڅاپي مرګه نه وېرېږې؟ هند ته وګوره؛ تر تا کشره وه، خو په ټرافیکي پېښه کې مړه شوه. فلانۍ او فلانۍ هم همداسې... مرګ عمر نه پېژني او عمر ورته معیار نه دی.

د هغې د لمانځه ځای تیاره و؛ ما په وېرېدلي غږ ځواب ورکړ:

ما وویل: زه له تیارې وېرېږم، اوس دې له مرګه هم ووېرولم؛ نو څنګه ویده شم؟ ما ګومان کاوه چې په دې رخصتۍ کې دې له موږ سره سفر منلی دی.

ناڅاپه یې غږ په ستوني کې بند شو او زما زړه ولړزېد.

نورا: ښايي سږکال یو ډېر لرې سفر وکړم؛ شاید بل ځای ته ولاړه شمو هناء! کېدای شي... چارې د الله په لاس کې دي.

په ژړا شوه. د هغې د وژونکې ناروغۍ په فکر کې ډوبه شوم. ډاکټران پلار ته په پته ویلي وو چې ښايي ناروغي ډېر وخت ورنه کړي؛ خو دا خبره چا ورته کړې وه؟ که پخپله یې داسې اټکل کاوه؟

دا ځل یې پیاوړي غږ زما فکر وشلاوه:

نورا: په څه فکر کوې؟ ایا ګومان کوې چې دا خبرې څکه کوم چې ناروغه یم؟ نه؛ ښايي زه تر ډېرو روغو خلکو اوږد عمر وکړم. ته به تر کله ژوندۍ یې؟ ښايي شل کاله، ښايي څلوېښت کاله؛ بیا څه؟

لاس یې په تیاره کې وځلېد او په ټینګار یې وخوځاوه:

نورا: زموږ ترمنځ هېڅ توپیر نشته. موږ ټول روانېږو او ځو؛ یا جنت ته او یا دوزخ ته. ایا د الله تعالی دا وینا دې نه ده اورېدلې؟

ketabton.com - The Digital Library


﴿فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ﴾ [۱۲]

ژباړه: «څوک چې له اوره لرې او جنت ته داخل کړل شي، نو په رښتيا بريالى شو».

نورا: شپه دې ښه. الله تعالى دې هدايت کړي؛ لمونځ مه هېروه.

په بيړه ترې ولاړم، خو غبرګ يې لا زما په غوږونو کې انګازې کولې.

د سهار اته بجې وې. د دروازې د ټکولو غږ مې واورېد؛ دا زما د راويښېدو وخت نه و. د ژړا غږونه وو. اې خدايه! څه شوي؟ د نورا روغتيا خرابه شوې وه او پلار مې روغتون ته تللى و.

«إنا لله وإنا إليه راجعون».

سرګال سفر نشته؛ زموږ په تقدير کې وه چې دا کال به کور کې پاتې شو. له اوږده انتظار وروسته، د غرمې په يوه بجه پلار له روغتونه ټيليفون وکړ:

پلار: اوس يې ليدلای شئ؛ ژر راشئ.

مور راته وويل چې د پلار خبرې ډاډ ورکوونکې نه وې او غږ يې بدل شوی و.

چپن مې په لاس کې و. موټرچلوونکی چېرته دی؟ په بيړه موټر ته وخوتو. هغه لاره چې له موټرچلوونکي سره به د چکر لپاره پرې تللم، څومره لنډه به ښکارېده؛ خو نن ولې اوږده وه، ډېره اوږده! هغه ګڼه ګوڼه چې پخوا مې خوښېده، نن ستړې کوونکې او وژونکې شوې وه.

---

۱۲ (آل عمران: ۱۸۵).

ketabton.com - The Digital Library



مور مې زما ترخنګ د هغې لپاره دعا کوله: «هغه نېکه او فرمان منونکې نجلۍ ده؛ ما هېڅکله نه ده لیدلې چې وخت دې عبث تېر کړي».

د روغتون له بهرنۍ دروازې ورننوتو. یو ناروغ له درده زګېروي کول، بل په موټړي پیښه کې ټپي شوی و، او د دربېم سترګې ننوتې وې؛ نه پوهېدې چې د دنیا له خلکو دی او که د اخرت. دا یوه عجیبه ننداره وه چې تر دې مخکې مې نه وه لیدلې.

یوه نرسه راغله او ویې ویل:

نرسه: هغه د جدي پاملرنې په خونه کې ده؛ زه به مو ورولم. ښه نجلۍ ده. له بې‌هوښۍ وروسته یې حالت د ښه کېدو په حال کې دی.

له یوه تن څخه د زیاتو کسانو ننوتل منع وو. دا د جدي پاملرنې خونه وه. د ډاکټرانو د ګڼې ګوڼې په منځ کې مې د دروازې له وړې ښیښې د خپلې خور نورا سترګې ولیدې چې ماته یې کتل؛ مور مې یې ترڅنګ ولاړه وه. دوه دقیقې وروسته مور راووتله، خو خپلې اوښکې یې پټې نه کړای شوې.

اجازه یې راکړه چې ورشم او سلام پرې وکړم، په دې شرط چې ډېرې خبرې ورسره ونه کړم. راته ویې ویل: «دوه دقیقې درته بس دي».

ما وویل: نورا! څنګه یې؟ تېره شپه خو روغه وې؛ څه دربانډې وشول؟

لاس یې راټینګ کړ او ځواب یې راکړ:

نورا: اوس هم، د الله تعالی شکر دی، ښه یم.

ما وویل: الحمد لله؛ خو لاس دې سوړ دی.

ketabton.com - The Digital Library


د بستر پر غاړه ناسته وم او لاس مې د هغې پر پنډۍ ولګېد؛ نو پښه يې راټخه لړې کړه.

ما وویل: ښښنه غواړم، که مې په تکلیف کړې.

نورا: نه، خو د الله تعالی دا وینا را په یاد شوه:

﴿وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ ۝ إِلَى رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمَسَاقُ﴾ [۱۳]

«او یوه پنډۍ به له بلې سره ونښلي؛ په هماغه ورځ به ستا د پالونکي پر لور بیول وي».

نورا: هناء! زما لپاره دعا وکړه؛ ښايي ژر د اخرت لومړۍ ورځې پیل کړم. زما سفر لړې دی او د لارې توښه مې لږه ده.

د هغې په خبرو مې له سترګې اوښکه راولوېده او په ژړا شوم. نور نه پوهېدم چې چېرته یم. سترګو مې پرلهپسې ژړل؛ پلار مې له نورا څخه زیات پر ما ووېرېد. کورنۍ مې نه زما له داسې ژړا سره عادت وه او نه په خپله خونه کې له ګوښه کېدو سره.

د هغې غمجنې ورځې له لمر لوېدو سره زموږ په کور کې اوږده چوپتیا خپره شوه.

پېښې په چټکۍ تېرېدې. راتلونکي خلک ډېر شول او غږونه سره ګډ شول. یوازې په یوه شي پوه شوم: نورا مړه شوه.

---

۱۳ (القیامة: ۲۹-۳۰).

نه مې نور پېژندلای شول چې څوک راغلل، او نه پوهېدم چې څه یې وویل. اې الله! زه چېرته یم او څه روان دي؟ آن له ژړا هم بې‌وسه شوې وم. وروسته یې راته وویل چې پلار مې د وروستي ځل لپاره د خور د مخه ښې کولو ته په لاس نیولې وم، او ما هغه ښکل کړې وه.

یوازې یو شی مې په یاد دی: کله مې چې هغه د مرګ پر بستر پرته ولیده، د هغې خبره را په یاد شوه: «او یوه پنډه‌ی به له بلې سره ونښلي». هلته د دې خبرې په حقیقت پوه شوم: «په هماغه ورځ به ستا د پالونکي پر لور بیول وي».

یوازې هماغه شپه پوه شوم چې د هغې د لمانځه ځای ته ستنه شوې یم. هغه خور چې زما سره یې د مور رحم شریک کړی و، ځکه مورډ غبرګونې وو؛ هماغې به زما د هدایت دعا کوله او اوردې شپې به یې اوښکې تویولې، مرګ او حساب به یې راته یادول. الله تعالی دې مرسته وکړي!

دا په قبر کې د هغې لومړۍ شپه ده. اې الله! رحم پرې وکړه او قبر یې روښانه کړه. دا یې قرآن دی، دا یې د لمانځه جای‌نماز، دا او دا یې نور شیان... بلکې دا یې هغه ګلابي جامه ده چې راته ویلي یې وو: «خپل واده ته به یې ساتم».

له الله تعالی مې وغوښتل چې رحم راباندې وکړي، توبه مې قبوله کړي او ښښنه راته وکړي. دعا مې وکړه چې نورا په قبر کې ثابته وساتي، لکه هغې چې تل دا دعا خوښوله.

ناڅاپه مې له ځانه وپوښتل: «که زه مړه شوې وای، زما برخلیک به څه و؟»

ketabton.com - The Digital Library


د ځواب په لټه کې نه شوم؛ «الله اکبر» — د سهار اذان پورته شو. دا ځل ځومره خوږ و! د مؤذن کلمې مې ورسره تکرارولې او د ډاډ او ارامۍ احساس مې کاوه. چټن مې پر ځان راونغاړه او د سهار لمانځه ته ودرېدم. د مخه ښه کوونکي لمونځ مې وکړ؛ لکه خور مې چې تر دې وړاندې خپل وروستی لمونځ کړی و.

کله مې چې سهار کړ، ماښام ته به انتظار نه کوم؛ او کله مې چې ماښام کړ، سهار ته به انتظار نه کوم.

## ۲۴. ورک شوی ښځينه‌توب

هغه ښځه ځومره ناپوهه ده چې د پرمختګ د تش په نوم مدعيانو هغه ستر دروغ يې منلي چې «ښځه بايد له نارينه سره برابره شي». هغوی ښځه د حقونو له برابرۍ لرې کړه او داسې برابرۍ ته يې ورنږدې کړه چې الله تعالی د هغې لپاره نه وه پيدا کړې.

په لومړي سر کې يې ورته وويل: «که له اولادونو سره په کور کې پاتې شې، د ټولنې نيمه برخه به فلج شي». هغې هم خبره ومنله، له کوره ووته او اولادونه يې خدمتګارې ته پرېښودل؛ په پايله کې د ټولنې تر نيمايي زياته برخه ضايع شوه.

کله چې له کوره ووته، تر ټولو سپک استثمار يې ترې وکړ. د نارينه‌وو د معاش نيمايي يې ورکړه، خو د نارينه‌وو په څېر يې کار ترې وغوښت. کله چې ښځو اعتراض وکړ، ورته وويل شول: «نارينه درانه کارونه کوي چې تاسو يې نه شئ کولای».

ښځې هم د نارينه‌وو درنو کارونو ته مخه کړه: لوی موټرونه يې وچلول، په برېښنايي برمې يې لارې وکيندلې، د اوسپنې د ويلې کولو په بټيو کې يې اوسپنه وټکوله او هغه درانه بارونه يې پورته کړل چې نارينه يې وړي. له دې ټولو سره بيا هم حتی په لوېديځو هېوادونو کې په معاشونو کې انصاف ورسره ونه شو.

د برابرۍ دې عقدې ټوله تېره پېړۍ او د دې پېړۍ تر پيل پورې دغه بېوزله ښځه نه پرېښوده. هغې لا هم د نارينه‌وو ډلې ته د دې د ثابتولو هڅه کوله چې په هر څه کې ورسره برابره ده. ان د ورزش ډګر ته ننوته، فوټبال يې وکړ، درانه وزنونه يې پورته کړل، سوک‌وهنه يې وکړه، د وزن پورته کولو او د بدن جوړونې کلبونو ته ولاړه، او د نارينه‌وو په څېر عضلې يې پيدا کړې.

ketabton.com - The Digital Library


نو د هغې له ښځینه‌توبه څه پاتې شول؟ کله چې ښځې پر نارینه‌وو واوړي، نارینه به له چا سره واده کوي؟ ایا ځینې ښځې همدا غواړي؟

ketabton.com - The Digital Library


## ۲۵. ږیره او حجاب

په صحيح حديث کې راغلي چې د قيامت په ورځ به ځينې خلک د تهامې د سپينو غرونو په اندازه نېک عملونه راوړي، خو الله تعالی به يې د هوا په دوړو بدل کړي. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغوی په اړه فرمايي:

«أَمَا إِنَّهُمْ إِخْوَانُكُمْ وَمِنْ جِلْدَتِكُمْ، وَيَأْخُذُونَ مِنَ اللَّيْلِ كَمَا تَأْخُذُونَ، وَلَكِنَّهُمْ أَقْوَامٌ إِذَا خَلَوْا بِمَحَارِمِ اللَّهِ انْتَهَكُوهَا» [۱۴]

ژباړه: «خبر اوسئ! هغوی ستاسو وروڼه او ستاسو له جنس څخه دي؛ د شپې له عبادته هماغه برخه اخلي چې تاسو يې اخلئ، خو داسې خلک دي چې کله د الله تعالی له حرامو سره يوازې شي، نو حرمت يې ماتوي».

د دې خلکو د نېکو عملونو دغه غرونه او درانه پنډونه ټول له منځه ځي او د الله تعالی په تله کې هېڅ ارزښت نه لري. لامل يې، لکه رسول الله صلی الله عليه وسلم چې بيان کړی، دا دی چې کله د الله تعالی له حرامو سره يوازې شي، حرمت يې ماتوي؛ يعنې کله چې د خلکو له سترګو پټ او د هغوی له څارنې لرې شي، د الله تعالی په حرامو کې لوېږي. دا د نفاق يو ډول دی چې پاک او لوړ رب يې بد ګڼي او په همدې ستره سزا يې مجازات کوي.

---

۱۴ ابن ماجه روايت کړی او الباني صحيح بللی دی.

له بده مرغه، ځینو هغو کسانو چې د دین لار یې غوره کړې او د ژمنتیا نښې یې پر څېرو، جامو، خبرو او چلند ښکاره شوې دي، دا ښکلی انځور بشپړ نه کړ. هغوی یوازې له کوره بهر د دې کړنو په ښودلو بسنه کړې؛ خو چې کورونو ته ننوځي او له خپلو مېرمنو، ورونړو، خویندو او مور و پلار سره یوازې شي، د کور خلک یې له تر ټولو بدو اخلاقو سره مخ کېږي او د ظلم په اور یې سوځي. یا یې د دین او هغه چلند په اړه پوهه ناسمه ده چې خلک ورته رابولي، یا د نفاق پر یوه څانګه اخته دي، او یا په هغې رواني ناروغۍ اخته دي چې «د شخصیت دوه‌ګونتوب» بلل کېږي.

دا ځکه چې دین له کوره بهر او دننه، دواړو ځایونو کې د ژمنتیا غوښتنه کوي. اصل دا دی چې له ټولو خلکو سره ښه چلند وشي؛ آن که زموږ د دین نه وي، تر هغه چې زموږ سره د دین له امله جګړه نه کوي او له خپلو کورونو مو نه باسي. الله تعالی فرمايي:

﴿لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ﴾[۱۵]

ژباړه: «الله تعالی تاسو د هغو کسانو په اړه نه منع کوي چې د دین په خاطر یې له تاسو سره جګړه نه ده کړې او له خپلو کورونو یې نه یاست ایستلي، چې نېکي ورسره وکړئ او انصاف ورسره وکړئ؛ بېشکه الله تعالی انصاف کوونکي خوښوي».

---

۱۵ (الممتحنة: ۸).

ketabton.com - The Digital Library



په ژمنتيا کې دا تضاد او په اخلاقو کې دغه غوراوی يو له هغو بنسټيزو لاملونو څخه دی چې ځينې خلک له ديندارانو څخه تښتي او — په ناحقه عمومي حکم سره — کرکه ترې کوي؛ ځکه له داسې ديندارانو سره مخ شوي وي چې په ژمنتيا کې دا تضاد لري.

امام ابن القيم رحمه الله وايي: «اخلاص دا دی چې د بنده ښکاره او پټ عملونه برابر وي؛ او ريا دا ده چې ظاهر يې له باطن څخه غوره وي».

دا هماغه اخلاص دی چې الله تعالی يې غواړي؛ اخلاص يوازې دا نه دی چې د خلکو په مخ کې ړيره او حجاب وي، خو انسان چې يوازې شي، د اسلام د هغو لارښوونو حرمت مات کړي چې خلک ورته رابولي.

ketabton.com - The Digital Library


## ۲٦. د ازموینې ورکوونکو لپاره لارښوونې

زموږ زده کوونکي اولادونه د خپل ژوند له تر ټولو سختو پړاوونو څخه یو تېروي؛ دا د زده کړې او ازموینو ته د چمتووالي پړاو دی چې برخلیک او راتلونکی یې پکې ټاکل کیږي. دا خبره په ځانګړي ډول د پوهنتون، انسټیټیوټ یا لېسې د وروستیو کلونو پر زده کوونکو صدق کوي.

دغه زده کوونکي د مطالعې په طریقه کې داسې سترې تېروتنې کوي چې په ازموینو کې د منفي پایلو لامل کېدای شي. تر ټولو مهمې تېروتنې، چې زده کوونکي باید ورته پام وکړي او ځان ترې وساتي، دا دي:

### ۱- د شپې وینښ پاتې کېدل او استراحت نه کول:

ډېری زده کوونکي په ناسمه توګه ګومان کوي چې د شپې ډېر وینښ پاتې کېدل د بریالیتوب له مهمو لاملونو څخه دي؛ خو دا خبره سمه نه ده. بدن یوې اندازې استراحت ته اړتیا لري، څو ذهن وکولای شي مطالب درک او جذب کړي. کله چې ذهن خپل اړین استراحت کړی وي، د مطالعې لږ ساعتونه ورته بسنه کوي؛ خو که خپل حق استراحت یې نه وي کړی، بیا څو برابره زیاتو ساعتونو ته اړتیا پیدا کوي.

### ۲- د محرکو توکو ډېر استعمال:

که چای وي، که قهوه او که ځینې ډول ګولۍ؛ دا ټول پر عصبي سیستم منفي اغېز کوي. له امله یې خوب کمېږي، سرخوږی او تشویش ډېرېږي، او د عصبانیت کچه لوړېږي. دا ټول بیا پر حافظې او پوهېدو ناوړه اغېز کوي.

ketabton.com - The Digital Library


### ۳- ډله‌ییزه مطالعه:

دا په ځانګړي ډول د ځوانانو ترمنځ له خپرو شویو تر ټولو بدو عادتونو څخه ده. ښايي همدا یو له هغو اصلي لاملونو څخه وي چې نجونې په نمرو او د بریالیتوب په کچه کې تر هغوی مخکې کېږي.

ذهن د مطالبو د جذب لپاره داسې ارام چاپېریال ته اړتیا لري چې له دې او هغې خوا پکې هیڅ ډول مداخله یا خنډ (مزاحمت) پکې نه وي. هغه ډله‌ییزه مطالعه چې د ازموینو په ورځو کې یې د سمندر پر غاړه وینو، له دغسې مداخلو ډکه وي، یو یې جانبي خبرو ته راکاږي، بل ورته چای تویوي او بیا ټوکه کوي، بل ځای د موټرو ترمنځ د ننګونې سیالۍ کېږي او ټول ورته مخ اړوي، او هلته یوه ښځه په خپل ټول سینګار او جاذبه کې پلی مزل کوي؛ نو ځوانان کتابونه غورځوي، څو د ننداري خپله برخه واخلي! په دې ډول، ډېره برخه وخت په همدې مداخلو کې ضایع کېږي.

### ۴- په نامناسبو ځایونو کې مطالعه:

لکه د خوب خونه، چې انسان ته خوب وریادوي؛ د ډوډۍ خوړلو خونه؛ د ټلوېزیون خونه؛ او نور هغه ځایونه چې زموږ په ذهنونو کې له مطالعې پرته له نورو چارو سره تړلي دي.

سمه لاره دا ده چې کتابتون ته ولاړ شئ او یوازې په یوه ګوښه کې رښتیني مطالعه وکړئ، یا په کور کې د کتابتون یا مطالعې خونه پر ځان وتړئ؛ په هر حال، داسې ځای غوره کړئ چې ذهن بوختوونکی څه پکې نه وي.

ketabton.com - The Digital Library


## ۲۷. د سمې مطالعې لارې

په زده کړه کې بریالي کسان د درس او مطالعې سمې لارې لري؛ همدا لارې هغوی ته زمینه برابروي چې تر ټولو لوړې نمرې ترلاسه کړي. خو د ډېرو زده کوونکو له خوا د دغو لارو نه عملي کول په ازموینو کې د ښو پایلو په ترلاسه کولو کې د هغوی د ناکامۍ لامل کیږي.

د دغو لارو تر ټولو مهمې یې دا دي:

۱- له الله سبحانه وتعالی څخه دعا وغواړئ چې د پوهېدو دروازه درته پرانیزي. د مطالعې تر پیل مخکې د قرآن کریم یوه برخه ولولئ یا یې واورئ، څو سینه مو پراخه او زړه مو ډاډه شي.

۲- سورة الفاتحه ولولئ، بیا له رټل شوي شیطان څخه په الله پناه وغواړئ.

۳- تر یوه ساعت زیات پرلهپسې مطالعه مه کوئ. له یوه ساعت وروسته لس دقیقې دمه وکړئ او د لاسونو، پښو او نورو غړو د فعالېدو لپاره لږ حرکت وکړئ، څو وینه مو ښه وګرځي.

۴- که لږ خوب درځي او د خوب وخت وي، ولاړ شئ او د خپل بدن د خوب حق پوره کړئ. که د خوب وخت نه وي، اودس وکړئ چې تازه شئ، او د مطالعې ځای مو بدل کړئ.

ketabton.com - The Digital Library


۵- د مهمو عبارتونو لاندې په سرو، آبي او شنو رنګونو کرښې وباسئ؛ بیا یې پر کارتونو ولیکئ او په دې ډول د هر فصل مهم مطالب لنډیز کړئ. هڅه وکړئ د ټولو فصلونو لپاره همداسې وکړئ، څو د دویمې بیاکتنې پر مهال یا د ازموینې تر ورځې مخکې دغو لنډیزونو ته ور وګرځئ.

٦- له داسې زده کوونکي سره، چې ستاسو په تعلیمي پړاو کې وي، هوکړه وکړئ چې د یوه فصل یا ټول کتاب تر مطالعې وروسته هغه تاسو ته پوښتنې جوړې کړي او تاسو هغه ته. بیا دې هر یو بل په شفاهي یا لیکلې بڼه وازمېیي.

۷- د تېرو کلونو د ازموینو پوښتنې په غور مطالعه کړئ او پر هغو ټکو ډېر تمرکز وکړئ چې استاد د مضمون د تشریح پر مهال پرې ټینګار کړی و.

۸- د شیطان دې وسوسې ته مه تسلیمېږئ چې ګواکې ټول لوستي مطالب مو هېر کړي دي؛ ځکه ټول معلومات مو په حافظه کې زېرمه دي.

۹- د ازموینې په شپه وختي ویده شئ، څو کافي خوب وکړئ.

۱۰- کله چې د ازموینې پاڼه درکړل شي، سورة الفاتحه او آیة الکرسي ولولئ، او د سختۍ دا دعا ووایئ:

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَرَبُّ الْأَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ».

ژباړه: «له ستر او زغمناک الله پرته بل معبود نشته؛ له الله تعالی پرته بل معبود نشته، چې د ستر عرش پالونکی دی؛ له الله تعالی پرته بل معبود نشته، چې د اسمانونو، ځمکې او عزتمند عرش پالونکی دی».

ketabton.com - The Digital Library


۱۱- بیا ټولې پوښتنې دوه ځله ولولئ. پر دې طریقې تکیه مه کوئ چې هره پوښتنه ولولئ او سمدستي یې ځواب کړئ.

۱۲- د تر ټولو اسانه پوښتنې له ځوابولو پیل وکړئ.

۱۳- که د کومې پوښتنې ځواب مو نه و زده، سمدستي یې پرېږدئ، فکر مه پرې کوئ او بله پوښتنه پیل کړئ، څو وخت مو خوندي پاتې شي.

له الله تعالی څخه ټولو ته په دنیا او اخرت کې توفیق او بریالیتوب غواړم.

ketabton.com - The Digital Library



## ۲۸. زه... خوشحاله نه یم

پړسېدلي ګډوډ وېښتان يې وو، غاړکۍ يې تر غاړې را تاوه وه، په مړوند کې يې ځنځير اچولی و او د کميس تنۍ يې د سينې تر نيمايي پرانيستې وې. له وړوکي موټره يې د لوېديځو سندرو غږ درزېده. خپل موټر يې زما موټر ته نږدې ودراوه، را وړاندې شو او پوښتنه يې وکړه:

ځوان: ته فلانی يې؟

ما وويل: هو.

ځوان: اجازه راکوې لږې خبرې درسره وکړم او ستا لږ وخت واخلم؟

ما وويل: په ډېرې خوښۍ.

ځوان: زه پر هغه حال غبطه درباندې کوم چې ته پکې يې، او پر هغې پراخې خوښۍ چې تاسو يې احساسوئ او موږ ترې بېبرخې يو. د هغې د ترلاسه کولو لپاره مو هر څه وازمويل: ښځې، نشهيي توکي، له هر ډول ديني قيد څخه ځان خلاصول، محفلونه او نور... خو له دې ټولو وروسته لا په زياتې تنګسيا او تشويش بېرته راستانه شوو.

ما وويل: څه شی دې د سمې لارې له نيولو منع کوي؟ اودس وکړه چې ظاهر دې پاک شي، بيا د الله تعالی لپاره لمونځ وکړه چې باطن دې پاک شي، او له دغو هلاکوونکو ګناهونو څخه لرې شه. ته نه پوهېږې؛ ښايي د ژوند پای دې په همدې حالت کې وشي او پايله دې ډېره خطرناکه وي.

ځوان: نه شم کولای؛ هر ځل چې هڅه وکړم، پایله مې ناکامي وي.

ما وویل: که درته وویل شي چې د فلانۍ مېوې شربت ډېر خوندور دی، تر هغه به د دې خبرې په اړه شکمن پاتې شې چې خپله هغه شربت وڅکې؛ همداسې نه ده؟

ځوان: هو، دا خبره سمه ده.

ما وویل: نو ایا هغه لمونځ دې ازمویلی چې دا ټول کلونه دې پرې ایښی دی؟ ایا هغه بې‌ساری ډاډ او روحي ارامي دې څکلې چې لمونځ یې پیدا کوي؟ او د الله تعالی دا وینا دې اورېدلې ده؟

﴿وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخَاشِعِينَ﴾ [۱٦]

ژباړه: «په صبر او لمانځه مرسته وغواړئ؛ او بېشکه لمونځ درونډ دی، مګر پر عاجزي کوونکو نه».

کله به چې پر رسول الله صلی الله علیه وسلم حالات تنګ شول، بلال رضي الله عنه ته به یې ویل: «اې بلاله! لمونځ قائم کړه، په هغه مو ارام کړه». مقصد یې لمونځ و. نو هڅه وکړه چې ویې ازمویې. [۱۷]

له ما روان شو او په ټیټ غږ یې له ځانه سره ویل: «ان شاء الله، هڅه به وکړم».

له الله څخه ثابت‌قدمي او ښه خاتمه غواړو.

---

۱٦ (البقرة: ۴۵).

۱۷ دا حدیث امام احمد په صحیح سند روایت کړی؛ وګورئ: صحیح الجامع الصغیر، ۷۸۹۲

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library


## ۲۹. پام مو وي

پلار خپلو تنکیو اولادونو ته: پام مو وي چې له دین‌پالو ځوانانو سره ملګرتیا ونه کړئ.

اولادونه: ولې پلاره، په هغوی څه شوي دي؟

پلار: له دغو ځوانانو څخه له ستونزو پرته بل څه نه راولاړېږي.

اولادونه: پلاره، موږ تر اوسه له هغوی کوم بد شی نه دی لیدلی.

پلار: چې لوی شئ، بیا به پوه شئ.

دا د یوه پلار او د هغه د اولادونو د خبرو لنډه بېلګه ده. پلار خپل اولادونه له دین‌پالو ځوانانو سره له ملګرتیا منع کوي. کېدای شي لامل یې دا وي چې زموږ د تصویري او چاپي رسنیو تر اغېز لاندې راغلی وي او په ځینو عربي او اسلامي هېوادونو کې د اسلامي دیني بهیر د ځینو منسوبو کسانو د بې‌باکۍ، ناپوهۍ او هغو کړنو خبرونه یې اورېدلي وي چې د انسان بدن پرې لړزېږي؛ یا کېدای شي لامل یې له اسلامي بهیر سره فکري اختلاف وي.

په دواړو حالتونو کې قرباني یوه ده: اولادونه؛ په ځانګړي ډول که پلار هغه تشه ډکه نه کړي چې له دین‌پالو ځوانانو سره د ملګرتیا په منع کولو یې رامنځته کړې ده.

ketabton.com - The Digital Library



دا تشه يوازې هغه وخت ډکېدای شي چې د صالحو ځوانانو پر ځای داسې نور ځوانان ومونډل شي چې له بې‌پروايۍ او بديو لرې وي او خپلې ديني دندې ترسره کوي؛ خو د دين‌پالو ځوانانو له کړۍ بهر د داسې کسانو موندل ستونزمن دي. بله لاره دا ده چې پلار پخپله د هغوی بديل شي؛ خو تر هغو نه شي بريالی کېدای چې له خپلو اولادونو سره ملګرتيا وکړي او په زړونو کې يې غوره ارزښتونه وکري.

ketabton.com - The Digital Library


## ۳۰. نارینه‌نما ښځې

یوې تنکۍ نجلۍ په لېسه کې خپلې ټولګیوالې ته وویل:

لومړۍ نجلۍ: فلانۍ...

دويمه نجلۍ: څه غواړې؟

لومړۍ نجلۍ: خبره شوې؟

دويمه نجلۍ: څه پېښ شوي؟

لومړۍ نجلۍ: شان مايکل او ډيزل د مې په مياشت کې کويټ ته راځي. څه وايې، چې تا ته هم ټکټ واخلم او راسره ولاړه شې؟

دويمه نجلۍ: ډېره ښه نظريه ده!

د نړۍ له مشهورو غېږنيوونکو څخه يوه ډله د نويمې لسيزې په نيمايي کې کويټ ته وربلل شوې وه.

په دې خبرو کې د دغو دوو نجونو له غېږنيونې او هغه تاوتريخوالي سره مينه او لېوالتيا ځرګندېږي چې په دې لوبه کې پېښېږي. هغوی د وينو او هغو ګوزارونو له نندارو خوند اخلي چې غېږنيوونکي يې يو پر بل کوي.

دا د ښځينه جنس د ځينو غړو له خوا له تاوتريخوالي سره د مينې يوه بېه ده؛ يا له نارينه‌وو سره په جامو، د وېښتانو په بڼو، د خبرو په طريقه، غېږنيونه، کاراته او آن وزن پورته کولو کې د ورته والي هڅه ده، لکه څنګه چې په متحده اياالاتو کې ليدل کېږي.

د ښځو دغه ډله په هغه کټګورۍ کې راځي چې «نارينه‌نما ښځې» بلل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library


په قصر العيني کې د رواني طب استاد ډاکټر يسري عبدالمحسن دا پديده داسې تحليلوي:

«ځيني ځوانې ښځې په جامو، د وېښتانو په جوړولو او ورځني چلند کې داسې له نارينه‌وو سره ورته والی غوره کوي چې ښځينه‌توب يې نه ترې څرګندېږي. د دې لامل ښايي د هغوی ناسالم شخصيت او ګډوډ رواني جوړښت وي. هغوی دا کار د کمزورۍ، بې‌وسۍ او په کورني او ټولنيز چاپېريال کې د لږ مقام او ارزښت د احساس د جبرانولو لپاره کوي». [۱۸]

له بلې خوا، د ځوانانو او نارينه‌وو ډېری برخه نه غواړي له دغسې نارينه‌نما نجونو سره واده وکړي؛ ځکه هغوی په کور کې يوه «ښځه» غواړي، له هغې ټولې نازکۍ، نرمۍ او ښکلا سره چې دا کلمه يې معنا لري؛ نه دا چې د ښځې په څېره کې يو نارينه ووينې.

۱۸ سرچينه: الأنباء، ۶۹۹۳مه ګڼه.

ketabton.com - The Digital Library


## ۳۱. د ځانوژنې پدیده

امام بخاري په خپل صحیح کې له سهل بن سعد الساعدي رضي الله عنه څخه روایت کړی چې هغه وویل:

نبي کریم صلی الله علیه وسلم یوه سړي ته وکتل چې له مشرکانو سره جنګېده او د مسلمانانو په دفاع کې یې ډېره ستره ونډه لرله؛ نو ویې فرمایل: «څوک چې غواړي د دوزخ یو سړی وویني، دې سړي ته دې وګوري».

یو سړی ورپسې شو. هغه تر هغه جګړې ته دوام ورکړ چې ټپي شو؛ بیا یې د مرګ لپاره بېړه وکړه، د خپلې تورې څوکه یې د سینې په منځ کې کېښوده او پر هغې یې ځان ور واچاوه، تر دې چې توره یې د اوږو تر منځ ووته. نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «بنده، د خلکو په ظاهر لید کې د جنتیانو عمل کوي، خو دی د دوزخ له خلکو څخه وي؛ او بنده د خلکو په ظاهر لید کې د دوزخیانو عمل کوي، خو دی د جنت له خلکو څخه وي. عملونه په آخر پورې تړلي دي».

دا حدیث څرګندوي چې ځانوژنه نوې پدیده نه ده؛ بلکې د اسلام په زرینو دورونو کې هم موجوده وه. خو د ځانوژنې کچه د هرې ټولنې د عقیدې له مخې له یوې ټولنې څخه بلې ته توپیر کوي. له همدې امله، په اسلامي ټولنو کې د ځانوژنې کچه د هغو هېوادونو په پرتله د نړۍ تر ټولو ټیټه ده چې اسلام نه مني.

ketabton.com - The Digital Library


په نړۍ کې د ځانوژنې د ټولو پېښو اصلي لامل «په کوم مصیبت اخته کېدل او پر هغه صبر نه کول» دي. انسان غواړي د ځان په له منځه وړلو سره د هغه مصیبت له دردونو خلاص شي چې پرې راغلی دی. دا د شخصیت له کمزورۍ څخه سرچینه اخلي؛ داسې کمزوري چې انسان د ژوند د بارونو مقابلې ته نه پرېږدي. دا له ستونزې څخه تېښته او پر الله تعالی او د هغه پر قضا د ایمان کمزوري هم ده. دا کار یوازې له هغه چا کېږي چې د دې دین له پابندۍ څخه لرې یا پرې ناپوه وي.

له شک پرته، څو لاملونه په ګډه دا اصلي سبب جوړوي؛ مهم یې دا دي:

## ۱- دا نه درک کول چې ازمېښت د الله تعالی سنت دی:

د ځمکې پر مخ هېڅ انسان له ازمېښت پرته نشته، او په دې کې ډېر حکمتونه دي چې الله تعالی پرې پوهېږي. څوک چې پر ازمېښت صبر وکړي، ستر اجر به ترلاسه کړي او الله تعالی به یې لوړو درجو ته ورسوي. خو څوک چې صبر ونه کړي او د الله تعالی پر تقدیر اعتراض وکړي، الله تعالی به یې ازمېښت ورزیات او پرې وبه قهرېږي.

## ۲- دا هېرول چې تر ده په سخت ازمېښت اخته کسان هم شته:

که انسان په یاد ولري چې تر ده په سخت ازمېښت اخته خلک هم شته، خپل درد به ورته سپک شي؛ خو دی داسې ګومان کوي چې د ځمکې پر مخ د ده تر مصیبت په ستر مصیبت اخته څوک نشته.

## ۳- دا نه درک کول چې انسان د الله تعالی ملکیت دی:

انسان حق نه لري چې په هغه څه کې تصرف وکړي چې ملکیت یې نه دی. که زموږ یو تن له چا سره کوم امانت کېږدي او هغه امانت‌ساتونکی یې له منځه یوسي، ایا کوم هوښیار انسان به دا کار ومني؟ همداسې الله تعالی -او د هغه مثال تر ټولو لوړ دی- دا نه مني چې انسانان په هغه څه کې تصرف وکړي چې ملکیت یې نه دی.

۴- د اجر احساس نه کول:

هر مصیبت چې انسان ته رسیږي، د هغو تېروتنو کفاره یې ګرځي چې کړې یې دي. آن اندېښنه، خپګان او غم هم چې ورته رسیږي، دا ټول یې له ګناهونو څخه پاکوي.

۵- د قیامت په ورځ له خپل برخلیک څخه ناخبري:

امام بخاري رحمه الله د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وینا روایت کړې ده: «چا چې ځان په اوسپنیزه وسیله وواژه، هماغه وسیله به یې په لاس کې وي او د دوزخ په اور کې به یې تل په خپله ګېډه کې وهي...» د حدیث تر پایه.[۱۹]

له لوی الله تعالی څخه غواړو چې د ازمېښت پر مهال د صبر توفیق راکړي.

---

۱۹ لومړی حدیث امام بخاري روایت کړی؛ وګورئ: فتح الباري، ۲۹۳/٦.

## ۳۲. ایا له ژونده همداسې وځې؟

ځيني طبي سرچيني وايي چې پر کويټ تر ظالمانه عراقي يرغل مخکې به هره اونۍ د ځانوژني درې پېښې کېدې. دلته مراد هغه ناتمامې پېښې دي چې د اخته کسانو ژوند به ژغورل کېده. د کويټ تر ازادېدو وروسته دا پېښې په ورځ کې تر دوو پورې زياتې شوې.

کله چې د وروستيو پېښو يوه بېلګه وڅېړو، وينو چې د ټولو پېښو قربانيان د داسې لاملونو له امله مړه شوي وو چې يا بېخي ناڅيز وو، يا دومره ستر نه وو چې انسان دې د «ځان وژلو» پرېکړه پرې وکړي.

د ځينو پېښو په کتلو سره وينو چې يوه ښځه له کورنۍ خدمتګارې سره د حسد له امله ځانوژنې ته ورسېده؛ ځکه مېړه يې په خپلو ټولو غوښتنو کې پر خدمتګارې بشپړه تکيه کوله. کله چې مېړه د خدمتګارې له رخصتولو انکار وکړ، مېرمن يې د ځانوژنې پرېکړه وکړه.

دويمه پېښه له مېړه سره د اختلاف او د کار د فشار د زياتوالي له امله وه.

درېيمه پېښه ځکه وشوه چې مور يې د سرو زرو له اغوستلو او سينګار کولو څخه منع کړې وه. هغې ګومان وکړ چې مور يې پرې شک کوي؛ نو د ځانوژنې پرېکړه يې وکړه.

کله چې له انسان څخه هغه اصلي موخه ورکه شي چې الله د هغې لپاره پيدا کړی دی، يعنې د الله تعالی عبادت، نو انسان په خپلو ټولو پرېکړو کې سرګردانه کېږي، که څه هم پرېکړه يې له دې دنيا څخه د خپل ژوند پای ته رسول وي. الله تعالی فرمايي:

ketabton.com - The Digital Library


﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ [۲۰]

«ما پېریان او انسانان یوازې د خپل عبادت لپاره پیدا کړي دي».

د دې لامل دا دی چې دغه کسان د لنډمهالو او له منځه تلونکو موخو لپاره ژوند کوي. خو هغه کسان چې د پیدایښت د هغې سترې موخې لپاره ژوند کوي چې خالق ټاکلې ده، تر څو چې په دې ژوند کې وي نېکمرغه وي، له دنیا څخه هم په خوښۍ وځي، او د قیامت په ورځ به هم له نېکمرغو څخه وي.

بله مهمه خبره دا ده چې د ځانوژنې د پېښو زیاتوالی د دین په اړه د ناپوهۍ یو اړخ څرګندوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم په صحیح حدیثونو کې بیان کړي چې ځانوژونکی به په اور کې پاتې وي او د قیامت په ورځ به له هماغې وسیلې سره راشي چې ځان یې پرې وژلی و؛ الله تعالی به په هماغې وسیلې عذاب ورکوي.

نو ایا هغه کسان به راوېښ شي چې له ژونده د وتلو پرېکړه کوي؟ ایا د ژوند ارزښت او هغه موخه به وپېژني چې د هغې لپاره پیدا شوي دي، څو نېکمرغه شي، په خپلو پرېکړو کې سرګردانه نه شي او له خپل واقعیت څخه ونه تښتي؟

---

۲۰ (الذاريات: ۵۶).

ketabton.com - The Digital Library


## ۳۳. د برانډ عقده

کله چې انسان اسماني ارزښتونه او پر هغو عمل پرېږدي، ځمکني ارزښتونه د ژوند په ټولو جزياتو کې پرې واکمن شي، هماغه يې اصل وګرځي او خلک هم په همدې ارزښتونو وسنجوي.

يو وخت د يوې مېلمستونډول ناستې مېلمه وم. زما څنګ ته ناست سړي وخت ناوخت زما د لاس ساعت ته ځير ځير کتل. هڅه مې وکړه چې سترګې پرې پټې کړم، خو هغه خپلو ځير کتلو ته دوام ورکړ؛ نو اړ شوم چې پوښتنه ترې وکړم:

ما ورپوښتل: کوم کار لرې؟

په داسې ځواب يې حيران کړم:

هغه وويل: هڅه مې کوله ستا ساعت ووينم.

ما وويل: دا دی، ويې ګوره؛ همدا زما ساعت دی.

هغه ژوره ساه واخيسته او ويې ويل:

هغه وويل: ما ګومان کاوه چې رولکس دی، خو بل څه راووت؟!

ما به ګومان کاوه چې دا عقده يوازې په ښځو کې ده؛ خو حيران شوم چې د نارينه‌وو ټولنه هم په دې عقده کې له ښځو سره سيالي کوي.

يو تن په لوی لاس د خپلو عينکو پوښ د کميس له پورتني جېب څخه راباسي، څو خلک يې ځليدونکی براند ووينې. کله چې له خلکو سره کښيني، له لستوني څخه د ساعت يوه برخه ښکاره کوي، څو د ساعت براند يې ووينې.

ketabton.com - The Digital Library


بيا خپله ښۍ پښه پر چپه پښه وراړوي، څو د بوټانو برانډ يې خلکو ته ښکاره شي. وروسته په مناسب او نامناسب وخت کې خپل قلم راباسي، څو د قلم برانډ هم ورته وښيي.

د الله تعالی شکر دی چې د رولکس، اوميګا او کارټير شرکتونه زموږ اوږدې عربي جامې، سرپټي او د سر کړی نه جوړوي؛ که نه، له دغسې خلکو سره به ژوند د زغم وړ نه وای!

قدرمنو! انسان د جامو او ظاهري بڼې له مخې نه ارزول کېږي، بلکې د اخلاقو او ارزښتونو له مخې ارزول کېږي. پخوا شاعر ويلي وو:

«تَرَی الرَّجُلَ النَّحِيفَ فَتَزْدَرِيهِ، وَفِي أَثْوَابِهِ أَسَدٌ هَصُورٌ».

ژباړه: «يو ډنګر سړی وينې او سپک يې ګڼې؛ خو د جامو دننه يې يو زړور او بريدګر زمری پروت وي».

«وَإِنَّمَا الْمَرْءُ بِأَصْغَرَيْهِ: قَلْبِهِ وَلِسَانِهِ».

ژباړه: «انسان په خپلو دوو کوچنيو غړو ارزول کېږي: زړه او ژبه».

ketabton.com - The Digital Library


## ۳۴. «الله ماته هدايت نه دی کړی»

کله چې ووينئ يو ځوک ځيني واجبات او ارکان، لکه لمونځ يا حجاب، پرېږدي، او دا داسې ځوک وي چې تاسو ته ګران وي، درناوی يې کوئ او په دنيا او آخرت کې خير ورته غواړئ، په ځانګړي ډول که مو خپلوان يا د کار ملګرى وي، نو د دې چارو پابندۍ ته ستاسو د بلنې په ځواب کې به وايي: «الله ماته هدايت نه دی کړی»، «دعا راته وکړه»، «کېدای شي الله مې هدايت کړي» يا «څه وکړم، چې الله ماته هدايت نه دی کړی؟»

دا ټول ځوابونه له بې‌لارۍ څخه د هدايت د مفهوم پر نه درک کولو دلالت کوي. الله تعالى ټولو ته حق ځرګندوي او د هدايت لارې ورته اسانه کوي. هغه د انسان په وجود کې د «انتخاب وسيله» ايښې ده چې هر انسان پرې په خپله بشپړه اراده د حق يا باطل لاره غوره کولای شي.

انسان کولای شي تر ټولو غوره نېک انسان يا تر ټولو بد بدکار وګرځي. خپلو پښو ته امر کولای شي چې د الله تعالى کورونو او د خير ځايونو ته يې يوسي، او همدا پښې د ګناه ځايونو ته هم لېږلای شي. د انسان ټول غړي د هغه امر مني او سرغړونه ترې نه کوي. الله تعالى په انسان کې د انتخاب دا وړتيا ځکه پيدا کړې چې د قيامت په ورځ پرې حجت وي.

الله تعالى فرمايي:

ketabton.com - The Digital Library


﴿وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ﴾ [۲۱]

ژباړه: «او مونږ هغه ته دواړې لارې وښودلې.» یعنې د خیر او شر دواړه لارې.

کله چې انسان په خپله بشپړه اراده د خیر لاره غوره کړي، الله تعالی یې مرسته کوي، پر هغې یې ثابتوي او مینه ورسره پیدا کوي. الله تعالی فرمايي:

﴿وَالَّذِينَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى﴾ [۲۲]

ژباړه: «او هغه کسان چې هدایت یې موندلی، الله تعالی ورته هدایت نور هم زیاتوي».

خو څوک چې د بل چا له زور او اکراه پرته، په خپله بشپړه اراده، د باطل لاره غوره کړي، الله سبحانه وتعالی یې بې‌لارې نوره هم زیاتوي. الله تعالی فرمايي:

﴿قُلْ مَنْ كَانَ فِي الضَّلَالَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمَنُ مَدًّا﴾ [۲۳]

ژباړه: «ووایه: څوک چې په بې‌لارۍ کې وي، رحمن دې هغه ته پوره مهلت ورکړي» .

له دې سره سره، الله سبحانه وتعالی د انسان لپاره فرصت پرېږدي. د هغه دروازه تل د هغه چا پر مخ پرانیستې ده چې غواړي خپله لار سمه او هغه ناسمه لاره بدله کړي چې پرې تللی و. لکه په حدیث کې چې راغلي دي:

---

۲۱ (البلد: ۱۰).

۲۲ (محمد: ۱۷).

۲۳ (مريم: ۷۵).

ketabton.com - The Digital Library


«إِنَّ اللَّهَ يَبْسُطُ يَدَهُ بِاللَّيْلِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ النَّهَارِ، وَيَبْسُطُ يَدَهُ بِالنَّهَارِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ اللَّيْلِ، حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا». [۲٤]

ژباړه: «الله تعالی د شپې خپل لاس غځوي، څو د ورځې ګناهګار توبه وباسي؛ او د ورځې خپل لاس غځوي، څو د شپې ګناهګار توبه وباسي؛ تر هغه چې لمر له لوېدیځه راوخېژي».

له همدې امله دا خبره ناسمه ده چې څوک ووايي: «الله ماته هدايت نه دی کړی». په دې وينا سره انسان له هغه ازاد انتخاب څخه تېښته کوي چې پخپله يې کړی دی. غوره دا ده چې له ځانه وپوښتي: «ولې مې هدايت ونه موند او سمه لاره مې غوره نه کړه؟»

---

۲٤ صحيح مسلم (۸/ ۱۰۰).

## ۳۵. هېڅکله به واده ونه کړم

د ځینو ځوانانو منطق عجیبه دی. کله چې د نه واده کولو د لامل پوښتنه ترې وکړې، په داسې حال کې چې عمر یې هم اوښتی وي، ژر ځواب درکړي: «ایا په دې هېواد کې کومه پاکلمنه ښځه هم شته؟!»

که د دې سپک تور له امله، چې د ټولنې پر ټولو ښځو یې لګوي، ورته غوسه شې او په ټینګه یې خبره رد کړې، ښښنه به وغواړي او وبه وايي:

ځوان: زما مقصد ټولې ښځې نه دي. ښښنه غواړم که مې غوسه او ناارامه کړې، خو له بلوغ راهیسې مې چې هره ښځه خوښه شوې، ژر یا وروسته مې په خپله لومه کې اچولې ده. همدې تجربې دې پایلې ته رسولی یم.

ما ترې وپوښتل: ایا ستا دا حکم پر خپلو خویندو او خپلوانو ښځو هم دی؟

پر څېره یې د غوسې نښې ښکاره شوې او ویې ویل:

ځوان: بس، تر دې ځایه! د هغوی په اړه د هېڅ خبرې اجازه نه درکوم، آن د ټوکې په ډول هم نه.

ما وویل: ټول خلک هم د خپل ناموس په اړه هماغه احساس لري چې ته یې د خپل ناموس په اړه لرې. که د الله تعالی په تقدیر له ځینو هغو ښځو سره مخ شوی یې چې له نېغې لارې اوښتې او د عربي او بهرنیو سریالونو تر اغېز لاندې راغلې دي – هغو سریالونو چې د ناروا مینه‌والو نیول سم ښيي – دا معنا نه لري چې د ټولنې ټولې ښځې همداسې دي.

ketabton.com - The Digital Library


هغه ژوره ساه واخیسته او ویې ویل:

ځوان: همدا څه دي چې تل مې د واده په اړه زړه نا زړه کوي؛ ځکه دومره ډېر څه مې لیدلي چې اوس پر هېڅا باور نه شم کولای.

ما وویل: استغفرالله! زموږ په ټولنه کې لا هم خیر ډېر دی او لا هم د خیر خلک پکې زیات دي. د بې‌لارې خلک تل لږ وي؛ خو هغوی د پړسېدلو پوکانیو په څېر د خلکو پر وړاندې ډېر لوی ښکاري، په داسې حال کې چې حقیقي اندازه یې بل ډول وي. الله تعالی فرمایي:

﴿فَأَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَاءً وَأَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ﴾ [۲۵]

«خو ځګ له منځه ځي، او هغه څه چې خلکو ته ګټه رسوي، په ځمکه کې پاتې کېږي».

۲۵ (الرعد: ۱۷).

## ۳٦. زموږ په کور کې يوه تنکۍ پېغله ده

يوې خور د خپلې څوارلس کلنې لور د ځينو داسې کړنو په اړه راته ټيليفون وکړ چې هغې ته د حيرانتيا وړ ښکارېدې.

هغې وويل: ما خپله لور په نېکه توګه روزلې، د مور په توګه مې خپله دنده ترسره کړې، او پلار يې هم د لوړو اخلاقي ارزښتونو په ټينګولو کې هېڅ کمی نه دی کړی. تل مې د هغو خطرونو په اړه خبرداری ورکاوه چې د هغې د عمر نجونې ورسره مخ کېدای شي. د الله تعالی په فضل زموږ روزنې داسې نجلۍ رالويه کړه چې د فتنې او بې لارۍ هېڅ لاره نه پېژني.

يوه ورځ مې وليدل چې کله يې د لېسې يوې ټولګيوالې ټيليفون ورته وکړ، هغې هڅه کوله چې خبرې پټې وساتي. پر دې کار مې شک راغی؛ نو د بل ټيليفون غوږۍ مې پورته کړه او د لومړي ځل لپاره مې داسې څه واورېدل چې هېڅ مې اټکل نه کاوه. تر وسه مې ځان کابو کړ او د غوسې له چاودلو مې وساته، څو خبرې پای ته ورسېدې.

ملګرې يې وويل: د ځينو هلکانو دا شمېرې واخله؛ د لومړي نوم داسې دی، د دويم داسې او د درېيم داسې.

لور مې وويل: ولې دا شمېرې راکوې؟

ملګرې يې وويل: ټيليفون ورته وکړه، پېژندګلوي ورسره پيدا کړه او ويې ازمويه.

لور مې وويل: دا کار ولې وکړم؟

ملګرې يې وويل: د وزګار وخت د تېرولو او ساعت تېرۍ لپاره.

مور وايي: پوه شوم چې د دې کار پايله څومره خطرناکه کېدای شي؛ نو لور ته مې وويل: څنګه دا کار کوې؟ ايا نه پوهېږې چې دا ستا له پردې او اخلاقو سره په ټکر کې دی، او د انسانانو په جامه کې د هغو لېوانو له امله دې رسوايي او د ښځې تر ټولو ارزښتناک څيز له لاسه ورکولو ته رسولای شي؟

لور مې وويل: خو ما د هغې غوښتنه ونه منله.

مور وويل: يوازې دا چې له هغې سره دې خبرې کول منلې او نومونه دې ترې اخيستي، له هغې سره ستا موافقه بلل کېږي.

دا د ټولنې له زړه راوتلې يوه کيسه ده چې په ډېرو کورونو کې بيا بيا پېښېږي. کېدای شي دا مور له هغو ميندو څخه وي چې خپلې لور ته ډېره پاملرنه کوي او تل ورته ځير وه؛ په همدې توګه يې د هغې په ژغورلو کې ونډه واخيسته. خو پوښتنه دا ده: څومره ميندې دغسې ځيرې دي؟

څومره نجونې د مور او پلار د دې بې‌پامۍ له امله په لومه کې ولوېدې چې د خپلو لوڼو او زامنو روزنيز بهير يې نه څاره؛ تر دې چې ناروا پېښه وشوه او د پښېمانۍ ګوتې يې وچيچلې. خو هغه مهال پښېماني هېڅ ګټه نه کوي چې د لور نوم يې د هر لوېدلي انسان پر ژبه ګرځي.

ميندو او پلرونو! مخکې له دې چې تبر پر سر ولګېږي، خپلو لوڼو او زامنو ته ورسېږئ او ويې ژغورئ.

ketabton.com - The Digital Library


## ۳۷. Click here (دلته کلیک وکړئ)

«Click here» یا «دلته کلیک وکړئ» هغه عبارت دی چې په انټرنېټي پروګرامونو کې ډېر راڅرګندېږي، او د انټرنېټ د ډېرو قربانیانو د غمیزې پیل ګرځي.

که څه هم د انټرنېټ اختراع د اوسني عصر له سترو او مهمو اختراعاتو څخه ګڼل کېږي او په ډېرو پراخو ډګرونو کې ترې ګټه اخیستل کېدای شي، خو په ډېرې خواشینۍ سره زموږ ډېری اولادونه نه پوهېږي چې دا اختراع څنګه په خپله ګټه وکاروي؛ بلکې ډېری یې هغو چارو ته مخه کوي چې ورانوي یې او له منځه یې وړي.

ناڅاپه د هغه پروګرام د پردې په څنډه یا سر کې یو لنډ اعلان راښکاره شي چې دوی پرې کار کوي. په اعلان کې د میلیونونو په شمېر د الوتونکو پیسو انځور وي او لیکل شوي وي: «که غواړې میلیونر شې، یوازې دلته کلیک وکړه (Click here).» د تجسس له امله دغه ځوان، سړی یا ښځه یوازې یوه ثانیه په ټاکلي ځای کلیک وکړي؛ خو همدا یوه ثانیه د یوه انسان په توګه د هغه د پای پیل او د قمار هغو تیارو دهلېزونو ته د ننوتلو شېبه شي چې پای نه لري.

ketabton.com - The Digital Library


يا به د يوې نيمه لوڅې ښځې يا بل شهوت‌پاروونکي انځور لنډ اعلان ووينې. اعلان وايي: «كه غواړې له يوې ښكلې نجلۍ سره اشنا شې، يوازې دلته كليک وكړه (Click here).» واده كړى ځوان كليک وكړي؛ سمدستي ورته د لوڅو انځورونو يو پروګرام پرانيستل شي، او د هر انځور لاندې د هغې لوڅې ښځې د ټيليفون شمېره او پته وي. په دغو انځورونو كې ډوبېږي، بيا لا ډېر د دې پروګرام تل ته ننوځي؛ تر دې چې خپله مېرمن هېره كړي او په دغو فاحشو انځورونو پسې ولوېږي. كورنى ژوند يې وران شي او ښايي خپله مېرمن او اولادونه هم له لاسه وركړي- دا هر څه د هغې يوې شېبې له امله چې دى پكې هوښيار نه و، بلكې د «Click here» د كلمې بندي و.

ستا په اند، د انټرنېټ څومره كاروونكي د «Click here» تر شا پروت خطر درک كوي؟!

## ۳۸. انټرنېټ او جرم

ډېرى تنکي ځوانان او ماشومان د انټرنېټ له لارې له نورو سره په خبرو کولو کې ډېر خوند ويني. ځينو جرمي ډلو، رواني ګډوډو کسانو، جنسي منحرفينو او د کږو عقيدو خاوندانو، لکه شيطان‌پرستانو او نورو، له دې چارې ګټه اخيستې ده، څو ماشومان او تنکي ځوانان په خپلو لومو کې راګير کړي. له دې امله ځينې جنايي جرمونه، غلاوې او جنسي تېرې رامنځته شوي دي.

د دغو ډلو غړي او منحرف کسان په لوی لاس خپل رښتيني نومونه، عمرونه او پتې نه ښيي. هغوی هڅه کوي له ماشومانو څخه بشپړ معلومات واخلي؛ لکه د هغوی نومونه، د خويندو يا ميندو نومونه، ټولنيز حالت، د سفر وختونه او ځينې کورني رازونه. له هغوی غواړي چې خپل انځورونه ورولېږي، څو څېره او شخصيت يې وپېژني؛ بيا په يوه ځای کې د ليدنې ژمنه ورسره کوي او جرم ترسره کېږي: يا يې تښتوي، يا يې جنسي انحراف، نشه يي توکو، شيطان‌پرستۍ او نورو جرمونو ته راکاږي.

څو ميندې او پلرونه له دې ګټورو وسايلو څخه خبر او محتاط وي- ځکه کله ناکله په وړونکو وسايلو بدلېدای شي- بايد هغه لارښوونې عملي کړو چې د امريکا قانوني چارواکو د ورکو ماشومانو له نړيوال مرکز سره په همکارۍ د دغو ډلو له شره د ماشومانو د ساتنې لپاره وړاندې کړې دي:

۱- خپلو ماشومانو ته ووايئ چې د ځان په اړه هېڅ شخصي معلومات له هغو کسانو سره شريک نه کړي چې په انټرنېټ کې ورسره مخ کېږي؛ لکه د کور پته، د ټيليفون شمېره يا د هغه ښوونځي نوم چې پکې زده کړه کوي.

۲- خپلو ماشومانو ته اجازه مه ورکوئ چې له هغه چا سره د ليدنې لپاره ووځي چې د انټرنېټ له لارې يې پېژندلی وي؛ مگر دا چې تاسې هغه کس پېژنئ، له ليدنې سره موافق ياست او ليدنه په عامه ځای کې کېږي.

۳- د کمپيوټر د کارولو لپاره ځينې اصول وټاکئ. د دغو اصولو ارزښت د ټلويزيون د کتلو تر اصولو کم نه دی؛ خو بايد له خپلو ماشومانو سره پرې خبرې وکړئ، د اړتيا په اړه يې پوه کړئ، او بيا يې د کمپيوټر ترڅنگ وځړوئ.

۴- خپلو ماشومانو ته اجازه مه ورکوئ چې خپل انځورونه د انټرنېټ له لارې ناپېژانده لورو ته واستوي. هغوی بايد داسې غوښتنه د خطر زنگ وگڼي او ځان ترې وساتي.

۵- خپلو ماشومانو ته ووايئ چې هغه برېښناليک ته ځواب ورنه کړي چې نااشنا عبارتونه يا داسې موضوعات ولري چې له عامو اخلاقو سره نه ښايي، يا يې په اړه نا ارامي احساسوي او يا گواښ پکې وي. ميندې او پلرونه بايد دغسې پيغامونه وڅاري او ويې لولي.

۶- پر انټرنېټ د خپلو ماشومانو کړنې وڅارئ، کمپيوټر د کور په گډه ناسته خونه کې کېږدئ، او له هغوی سره يې د انټرنېټ په لېوالتياوو کې برخه واخلئ.

۷- هڅه وکړئ په خپل کمپيوټر کې داسې پروگرامونه ولگوئ چې د سپکو او فحشو عبارتونو او پيغامونو د ترلاسه کولو مخه نيسي. ځينې يې دا دي:

SURF WATCH، NET NANNY، CYBER SISTER

ښايي د دغو پروگرامونو د موندلو تر ټولو ښه ځای دا وي:

ketabton.com - The Digital Library


INTERNET PARENTS INFORMATION CENTER

۸- هڅه وکړئ د ماشومانو د ساتنې د لارو په اړه خپله پوهه د هغه انټرنېټ براوزر له لارې زیاته کړئ چې کاروئ یې.

۹- د کورنۍ او ماشومانو لپاره هماغه یو ګډ برېښنالیک وکاروئ؛ په دې توګه، که اړتیا وي، ماشومانو ته وررسېدلي پیغامونه څارلای شئ.

د دې نړیوال مرکز دا سپارښتنې او لارښوونې زموږ پر زامنو او لوڼو د بې‌باورۍ معنا نه لري؛ خو ماشومان او تنکي ځوانان په دې عمر کې د ژوند د تجربې د کموالي له امله په اسانه راکاږل کېدای شي. د هغوی ساتنه زموږ دنده ده، مخکې له دې چې د خپلې بې‌پامۍ له امله د پښېمانۍ ګوتې وچیچو.

# ۳۹. تریو لیمو

ما په ورځنیو مطبوعاتو کې د « لیمونة » (لیمو دانه) تر سرلیک لاندې یوه مقاله لیکلې وه. په هغې کې مې پر انترنېټ د مینه‌بازۍ د پدیدې په اړه خبرې کړې وې، او دا مې بیان کړي وو چې ځینې کسان ځنګه ځان د ښځې په څېره کې وړاندې کوي، څو ساده‌ګان ځوانان وغولوي. یوه له دغو کسانو څخه ځان ته د «لیمو دانه» نوم ایښی و او په همدې نوم یې خپل ملګري وغولاوه، تر دې چې په یوه ځای کې یې ورسره د لیدني وخت وټاکه. کله چې دی خپل ملګري ته ورغی او ملګري یې د همدې لیدني له امله ورسره له تلو ډډه وکړه، ورته ویې ویل: «غوره ده چې راسره ولاړ شې؛ ځکه لیمونه زه یم». د دې مقالې په تړاو یوه لوستونکي دغه تبصره رالیږلې وه:

«قدرمن ورور عبدالحمید البلالي! په خپله مقاله کې دې د لیمو په اړه خبرې کړې وې؛ خو هغه اصلي لیمو نه وه، ځکه د ځینو لوستونکو لپاره لړه تروه وه.

د لیمو دانې ځینې اصلي او ځینې غیر اصلي وي؛ ځینې خوندور او ځینې داسې خراب وي چې خوند یې هم نه شې څکلای. آن اصلي لیمو هم ډولونه لري: یوه یې ځېښنل شوې او پرې شوې وي؛ هر څوک یې ویني او هر څوک ترې برخه شکوي: یا ورته ګوري، یا یې بویوي، یا یې لږ لږ څکي، او یا یې پوره ځېښني. د ځېښنلو بڼه هم له یوې لیمو څخه تر بلې توپیر کوي. ځینې لیمو هر لیدونکی ځېښني او له یوه چټل لاس څخه بل چټل لاس ته لېږدول کېږي؛ په پوره سپین‌سترګۍ، سپکاوي او بې‌حیایۍ. په همدې توګه یې ټول ژوند ځېښنل شوی او رټل شوی وي.

ketabton.com - The Digital Library



بله ليمو اصلي، باوقاره او خوندي وي؛ زړه‌راښکونکې ښکلا او پرده يې حيرانوي. پر خپله ځانګه ځوړنده وي، تازه شنې پاڼې يې په غېږ کې نيسي او ښکلا يې لا ورزياتوي. د پسرلي باد يې له ځانګې سره لوبې کوي، تر دې چې د پخېدو ورځ يې راشي. بيا يې يو مهربان لاس په ارامۍ، مينې او نرمۍ راوشکوي؛ له هرې ناخوالې او افت څخه يې ساتي، او هغه د همدې مهربان لاس په غېږ کې په خوښۍ او هوساينه کې ژوند کوي.

همدا قيمتي ليمو ده» . . (خالد السعيد)

ښځه پخپله کولای شي خپل ځان ګران يا ارزانه کړي. څومره چې خپله ښکلا ټولو ته وړاندې کوي، هماغومره ارزانه کېږي؛ او څومره چې يې يوازې خپل مېړه ته ساتي، ارزښت يې لوړېږي.

ketabton.com - The Digital Library


## ۴۰. په دنيا کې له دواړو سره په نېکۍ ژوند وکړه

الله تعالی په خپل سپېڅلي کتاب کې فرمايي:

﴿وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ ۝ وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا﴾ [۲۶]

«او موږ انسان ته د خپل مور او پلار په اړه سپارښتنه کړې ده. مور يې په داسې حال کې په نس ګرځولی چې کمزوري يې پر کمزورۍ زياتېده، او له تي څخه بېلول يې په دوو کلونو کې دي. زما او د خپل مور او پلار شکر ادا کړه؛ بېرته راتګ يوازې ماته دی. او که دواړه هڅه وکړي چې ته له ما سره هغه څه شريک کړې چې په اړه يې هېڅ علم نه لرې، نو اطاعت يې مه کوه؛ خو په دنيا کې له دواړو سره په نېکۍ ژوند وکړه».

---

۲۶ (لقمان: ۱۴-۱۵).

ketabton.com - The Digital Library


په دې آیت کې الله تعالی د اولادونو او مور و پلار ترمنځ د اړیکې بنسټونه بیان کړي دي. له ټولو ځرګندو بنسټونو څخه یې له هغوی سره پر نېکۍ او پر ښو اړیکو ټینګار دی، که څه هم دواړه مشرکان وي. بلکې تر دې هم زیات: دلته د مور او پلار له لوري د «سختې هڅې» انځور وړاندې کېږي؛ یعنې هغوی خپل ټول وس لګوي چې اولاد له الله تعالی سره شرک کولو ته اړ کړي. له دې سره سره اولادونو ته امر کېږي چې د شرک په منلو کې یې اطاعت ونه کړي، خو نېکي او په ښه توګه ژوند ورسره روان وساتي.

که د دوو مشرکو والدینو په اړه اولادونو ته دا الهي لارښوونه وي- هغو والدینو ته چې د خپلو اولادونو د شرک اړولو لپاره سترې هڅې کوي- نو د دوو مسلمانو والدینو په اړه به حکم څه وي چې داسې منحرف عقیدوي فعالیت نه کوي؟ د هغوی ټوله ستونزه، د بېلګې په توګه، دا وي چې مور یې بې‌حجابه ده، پلار یې ځینې ګناهونه کوي او لمونځ نه کوي؛ ایا د دغسې مور او پلار پرېښودل او ورسره اړیکې شلول روا دي؟

د خواشینۍ خبره دا ده چې له ځینو دین‌پالو ځوانانو څخه له خپل مور او پلار یا له هغوی څخه له یوه سره داسې سخت او وچ چلند وینو چې لږ تر لږه یې «بې‌ادبي» بللای شو. لامل یې یوازې دا وي چې مور یې بې‌حجابه ده، یا پلار یې د دین له ځینو ښوول شویو ارزښتونو ځان ازاد کړی دی. د دې ډول چلند له امله د دواړو خواوو ترمنځ واټن زیاتېږي؛ ښايي مور او پلار له خپل زوی څخه کرکه پیدا کړي، بیا دا کرکه هر دین‌پال کس ته وغځوي، او آن تر دې واوړي، له هر اسلامي ارزښت سره کرکه پیدا کړي.

ketabton.com - The Digital Library



په داسې حال کې چې د اولادونو او مور و پلار ترمنځ د چلند اصل نرمي، نېکي، شفقت او ښه رويه ده. کېدای شي همدا نرم، نېک، مهربان او ښه چلند د هغوی د هدايت لامل شي. څومره پلرونه د خپلو زامنو په لاس هدايت شوي، او څومره ميندې د خپلو لوڼو په لاس هدايت شوې دي. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

«مَا كَانَ الرِّفْقُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ، وَمَا نُزِعَ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا شَانَهُ» [۲۷]

ژباړه: «نرمي چې په هر څه کې وي، ښکلا ورکوي؛ او چې له هر څه څخه وايستل شي، بدرنګه کوي يې».

۲۷ (جامع الأحاديث للسيوطي).

ketabton.com - The Digital Library


## ۴۱. «زما مور بې‌حجابه ده»

زموږ په ټولنه او نورو ټولنو کې ډېر ځله داسې پېښېږي چې یو زوی تر غفلت وروسته هدایت ومومي، د جومات لاره خپله کړي او له نېکانو سره ملګری شي. بیا پوه شي چې د کور دننه حالت سم نه دی؛ د بېلګې په توګه، پلار يې ږیره نه لري او مور یې بې‌حجابه ده. نو د خپل مور او پلار پر وړاندې نه ستړې کېدونکې جګړه پیل کړي، داسې خبرې ورته واوروي چې مناسبې نه وي؛ پایله دا شي چې مور او پلار یې سخت غبرګون وښيي او له هر هغه څه سره یې کرکه څو برابره شي چې له دین‌پالو سره تړاو لري.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم د بعثت په لومړیو کې د کعبې طواف کاوه، په داسې حال کې چې شاوخوا یې تر درې سوه زیات بتان ولاړ وو. دیارلس کاله په مکه کې پاتې شو او د خپلو اصحابو په زړونو کې یې د ایمان او اخلاقو بنسټونه ټینګول. له دې سره سره ډېرو صحابه‌وو ډول ډول عذابونه وګالل؛ خو نبي کریم صلی الله علیه وسلم به منع کول چې له کفارو سره هماغسې مقابله وکړي.

آن تر هغه وروسته چې واک یې په لاس کې واخیست او عربي قبیلې ورته تابع شوې، د منافقانو له وژلو یې ډډه وکړه او د ابراهیم علیه السلام پر بنسټونو یې د کعبې له بیا رغولو هم انکار وکړ. دا هر څه ځکه وو چې د دغو کارونو منفي پایلې له هغې ګټې څخه ډېرې ستړې کېدای شوې چې د هغو پایلو په پرتله وړه ښکارېده.

ketabton.com - The Digital Library


د بعثت په لومړيو ورځو کې د کفارو د تيري ځواب نه ورکول او د بتانو نه نړول د مسلمانانو د شمېر د کموالي له امله وو؛ ځکه شوني وه چې د قريشو کفار ټول له منځه يوسي. د مديني د اسلامي دولت په پيل کې يې منافقان ځکه ونه وژل چې، لکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي وو: «څو عرب دا ونه وايي چې محمد – صلى الله عليه وسلم- خپل ملګري وژني». که داسې شوي واى، پايله به يې اسلام ته له ننوتلو څخه د خلکو وېره وه.

همدارنګه، نبي کريم صلى الله عليه وسلم د ابراهيم او اسماعيل عليهما السلام پر بنسټونو د کعبې د بيا رغولو د نه کولو لامل داسې بيان کړ: «ستا قوم لا تازه له جاهليته راوتلى دى».

له دې ټولو وروسته وايو: زموږ هدايت موندلي اولادونه د دين پالني حق لري او دا حق هم لري چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم له لارې سره مخالف کارونه رد کړي؛ خو د يوه ناروا کار بدلون بايد تر هغه ستر ناروا کار رامنځته نه کړي. امام ابن تيميه رحمه الله ويلي دي: «که د يوه منکر ردول تر هغه د ستر منکر سبب کېږي، نو ردول يې حرام دي».

هو، موږ به خپل مور او پلار ته د هغو چارو په اړه نصيحت کوو چې الله تعالى او د هغه رسول صلى الله عليه وسلم امر پرې کړى دى؛ خو په حکمت او ښې موعظې سره. هغوى ته تر ټولو غوره بلنه دا ده چې د خپل تر هدايت له مخکې حالت څخه غوره اخلاق ورسره وښيو، له نافرمانۍ او ځورولو يې ځان وساتو؛ که څه هم هغوى موږ وځوروي، يا آن د دين په حق کې بد چلند وکړي.

ketabton.com - The Digital Library


الله تعالی د مور او پلار د نېکۍ وجوب روښانوي، که څه هم هغوی د الله تعالی دښمنان وي او خپل اولاد کفر ته اړ باسي:

﴿وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا﴾ [۲۸]

ژباړه: «او که دواړه هڅه وکړي چې ته له ما سره هغه څه شریک کړې چې په اړه یې علم نه لرې، نو اطاعت یې مه کوه؛ خو په دنیا کې له دواړو سره په نېکۍ ژوند وکړه».

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«رِضَا الرَّبِّ فِي رِضَا الْوَالِدَيْنِ، وَسَخَطُهُ فِي سَخَطِهِمَا». [۲۹]

«د رب خوښي د مور او پلار په خوښۍ کې ده، او د هغه ناخوښي د هغوی په ناخوښۍ کې ده».

نو باید دې ټکي ته پام وکړو، مخکې له دې چې د بلنې د خپلو سختو لارو له امله میندې او پلرونه د دین له هغو ځرګندو او بدیهي چارو څخه کرکجن کړو.

---

۲۸ (لقمان: ۱۵)

۲۹ حدیث طبراني په صحیح سند روایت کړی؛ وګورئ: صحیح الجامع الصغیر، ۳۵۰۷.

ketabton.com - The Digital Library



## ۴۲. له حده زیاته اندازه (Overdose)

دا اوس یوه عادي پېښه ګرځېدلې چې په کوم ځای کې د یوه ځوان مړی پروت وموندل شي؛ د مرګ لامل يې د نشه يي توکو له حده زياته اندازه او ورڅخه پيدا شوې داخلي وينه بهېدنه وي. د اعتیاد په نړۍ کې دې حالت ته «Overdose» ویل کېږي.

اې په هر ځای کې روږدي انسانه! که پر همدې لاره د تګ ټينګار کوې، دا هم له هغو پايونو څخه يو دی چې ستا په تمه دي. ستا جسد به د کثافاتو په کانتينر، د ودانيزو توکو پر پاتې شونو، په پرېښودل شوي کور، دښته، د فاضلاب په کنده يا بل کوم ځای کې وغورځول شي. ايا همداسې تور برخليک غواړې؟

موږ له تاسې سره د «بشائر الخير کمېټې» په چوکاټ کې تر لسو کلونو زيات ژوند کړی دی. هره ورځ مو داسې غميزې ليدلې چې پوستکی ترې زيږېږي، او داسې پايلې چې ماشومان ترې سپين‌ږيري کېږي. کله د يوه کس پوښتنه وکړو، راته وويل شي چې د بېړنۍ څارنې (ICU) په خونه کې دی؛ بل ځل وويل شي چې په زندان يا روغتون کې دی.

اې روږدي انسانه! ايا ګومان کوې چې ستا لاره به له دغو دريو پايونو پرته بل ځای ختمه شي: مرګ، زندان يا روغتون؟ تر کومه به انتظار کوې او د نشه يي توکو د پرېښودلو پرېکړه به نه کوې؟ تر کومه به په دې عذاب کې اوسې؟ تر کومه به په وېره منډې وهې، هر حرکت او هره ساه به څارې، او هره شېبه به د پلټونکو له سيورې وېرېږې؟ خو د الله تعالی له څارنې نه وېرېږې، په هغه ورځ چې خلک د ټولو جهانونو د رب په وړاندې درېږي. څه ځواب به ورکړې، کله چې دا الهي امر وشي:

ketabton.com - The Digital Library


﴿وَقِفُوهُمْ إِنَّهُمْ مَسْئُولُونَ﴾ ۳۰

ژباړه: «هغوی ودروئ؛ بېشکه چې پوښتنه به ترې کېږي».

همدا اوس پرېکړه وکړه، پر الله تعالی توکل وکړه او خپل نوی ژوند غوره کړه. د الله تعالی له رحمته مه ناهيلی کېږه؛ که د توبې او سمې لارې ته د بېرته ستنېدو پرېکړه وکړې، د هغه رحمت تل ستا په تمه دی. مور هول ستا په تمه يو.

۳۰ (الصافات: ۲۴).

ketabton.com - The Digital Library


## ۴۳. ثابته پاتې شه او زړه نا زړه کېږه مه

د يوې قدرمنې خور ليک راته ورسېد. د ليک په پيل کې يې ويلي وو:

«قدرمن استاده! له تا څخه د پيسو يا دې ته ورته بل څه مرسته نه غواړم؛ يوازې غواړم د رواني ارام د ترلاسه کولو په برخه کې راسره مرسته وکړې. غواړم چې کله سر پر بالښت کېږدم، انديښنې راباندې درنې نه شي، سلګۍ مې ستونی بند نه کړي او د اوښکو په سمندر کې ډوبه نه شم.

زه درويشت کلنه نجلۍ يم او نه پوهېږم چې سمه لاره کومه ده. په ظاهر کې حجاب لرم؛ خو حيرانه او ورکه يم. بدي په هر ګام کې راته په کمين کې ده. هوسونه، خندا، ځوانان او رستورانتونه مې يوې خوا او بلې خوا ته کشوي. خوشالېږم، خو پوهېږم چې دا خوښي په مرګ محکومه ده؛ ځکه پای يې پښېماني ده.

کله ناکله بيا نصيحت واورم يا ديني پروګرام وګورم، زړه مې ارام شي، توري جامې واغوندم،[۳۱] له سينګار څخه لرې شم او يوازې ديني ويناوې واورم؛ خو لږ وروسته بېرته د بې‌پروايۍ نړۍ ته ستنه شم. د دواړو لارو ترمنځ منځنۍ لاره لټوم، خو نه يې پېژنم؛ ځکه اراده مې کمزورې ده. مور او پلار مې هم کمزوري دي، خير او فضيلت ته مې نه هڅوي، او په داسې چاپېريال کې راګيره يم چې له بې‌پروايۍ پرته بل څه نه پېژني.

۳۱ د غم پر مهال د تورو جامو اغوستل روا نه دي؛ خو د ليک موخه توره عبايه او تور پړونی دی.

ketabton.com - The Digital Library


له تا څخه مرسته او دعا غواړم. وروره! تاسې د بوسنیا له هغو ښځو سره مرسته کوئ چې در په در شوې دي؛ په الله قسم، زما زړه هم ورسره دی. خو ایا تر ټولو لوړې[۳۲] دا نه ده چې په همدې خپله خاوره کې خپلو خویندو او خپل ناموس ته ورسېږئ؟

د الله تعالی په دین کې زما وروره! هیله درڅخه کوم چې مرسته راسره وکړې. زه خپل ځان ستا پر غاړه امانت ږدم.

ستا خور، د الله تعالی د لارې لټوونکې».

دا لیک زموږ په ټولنه کې د بیا بیا پېښېدونکي حالت یوه بېلګه ده. زه د لیک لیکواله د دې لپاره نه ملامتوم چې د ایماني او نېغ ژوند او د بې‌قیدۍ د ژوند ترمنځ زړه نا زړه او بدلېدونکې ده؛ بلکې ټوله ملامتي زموږ پر روزنیزو، رسنیزو او قانوني تګلارو ده چې یو متناقض او زړه نا زړه نسل روزي، داسې نسل چې د الله تعالی او ژغورنې لارې ته د رسېدو طریقه نه پېژني.

قدرمنې خورې، د لیک لیکوالې! الله تعالی انسان داسې پیدا کړی چې د خیر او شر دواړو د کولو وړتیا لري، او د دواړو لارو د انتخاب وسیله یې په وجود کې ایښې ده. د قیامت په ورځ به د همدې انتخاب حساب ورکوي.

---

۳۲ دا لیک د بوسنیا د کړکېچ پر مهال رارسېدلی و.

ketabton.com - The Digital Library



له تا دا حقيقت نه پټوم چې په هغو شرايطو کې چې په ليک کې دې ياد کړي، پر «حقې لارې» ثابت پاتې کېدل له تر ټولو سختو چارو څخه دي؛ خو ناشوني نه دي. قدرمنې خورې! ته د هدايت او ثبات ټول بنسټونه لرې: حق له باطله پېژنې، د حق اورېدو ته لېواله يې او اغېز درباندې کوي، د ضايع شوو ورځو پښېماني کوې، او د سلامتۍ او رواني ارام لاره غواړې. دا ټول د هدايت بنسټونه دي.

يوازې دې ته اړتيا لرې چې پر دې لاره د ثبات وروستۍ پرېکړه وکړې، او د هغې پرېکړې له امله پېښېدونکې ملنډې، سپکاوی او اړيکې پرېکول وزغمې. دا هر څه به لنډمهالي وي. کله چې خلک پر دې لاره ستا ټينګ هوډ ووينې، ملنډې به ډېر ژر په درناوي او ستاينې بدلې شي.

بله اړينه لاره دا ده چې نېکه ملګرتيا ولټوې او له بدو ملګرو ځان لرې کړې؛ ځکه هغوی به دې د هلاکت لاره در په يادوي او درته به يې ښکلې کوي. د عبادتونو په وسيله الله تعالی ته نږدې شه، په ځانګړي ډول له هغه څخه پر حقه لاره د ثبات دعا وغواړه. زه هم له الله تعالی غواړم چې موږ پر حقه لاره ثابت وساتي.

ketabton.com - The Digital Library


## ۴۴. نږدې و چې پکښې ولوېږم

امریکا ته د خپل سفر پر مهال زموږ له هغو غوره ځوانانو سره مخ شوم چې د راتلونکي کویټ د جوړولو لپاره ځمکه کیندي. ځینو دغو ځوانانو د بریا او ماتې کیسې او هغه خطرناک پړاوونه راته بیان کړل چې په ژوند کې پرې تېر شوي وو.

له دغو ځوانانو څخه مې یو د اوهایو ایالت په ټولیډو ښار کې ولید. د هغه په سترګو او خبرو کې مې د یوه بریالي او هڅاند ځوان ځانګړنې ولیدې.

هغه راته وویل: کله چې د منځنۍ ښوونځي په پړاو کې وم، داسې ملګري مې لرل چې نشه يي توکي يې کارول. هغوی یوه ځانګړې مجلس‌خونه لرله چې هلته به یې نشه کوله، او د نشه يي توکو ډېر ډولونه یې راته وړاندې کړل؛ خو ما به نه منل. الله تعالی له نشې او له هغوی څخه وژغورلم.

ما وویل: هره ژغورنه یو لامل لري. له دغو کسانو سره له ملګرتیا سره سره، ستا د ژغورنې لامل څه و؟

هغه وویل: دوو شیانو زما په ژغورنه کې اساسي ونډه لرله. لومړی مې خپله پرېکړه او اراده وه. له ځان سره مې فکر وکړ او پوښتنه مې ترې وکړه: څه شی مې نشې ته هڅوي؟ هغوی له اندېښنو او ستونزو سره مخ دي، خو زه هېڅ ستونزه نه لرم. هغوی په زده کړه او ژوند کې پاتې راغلي، خو زه په زده کړه کې بریالی یم. له مور او پلار سره هېڅ ستونزه نه لرم او هېڅ شی راته کم نه دی؛ نو ولې نشه وکړم؟

ketabton.com - The Digital Library



هغه زیاته کړه: دویم لامل مې پلار و. کله چې خبر شو چې له دغو کسانو سره ملګرتیا لرم، له هغوی سره یې له ملګرتیا منع کړم. دا د پلار داسې ستره ښېګڼه وه چې هېڅکله به یې هېره نه کړم. هغه مهال خپه وم؛ خو اوس د پلار د هماغه دریځ له امله زرګونه ځله د خپل رب شکر ادا کوم.

دا کیسه د دې ژوند له زرګونو بریالیو کسانو سره تکرارېږي. ایا روږدي کسان به عبرت ترې واخلي؟

ketabton.com - The Digital Library


## ۴۵. هغه چا ووژله؟

دا تر یوه بریده درک کېدای شي چې ځینې ځوانان د اعتیاد په څرخ کې راګیر شي؛ خو دا چې د ګلونو په عمر ځینې نجونې په یوه محافظه‌کاره ټولنه کې د دې بلا قرباني شي، هغه څه دي چې ډېری خلک یې نه شي درک کولای.

که د نشه یي توکو نه کاروونکي لوېدلي ځوان هدف له نجونو سره په ملګرتیا کې یوازې د جنسي خوند ترلاسه کول وي، د روږدي ځوان موخه تر دې هم اوړي: له نجلۍ څخه د هغې د کورنۍ د پیسو په غلا کې ګټه اخلي، د هغې پر ملګرو نشه يي توکي وېشي او نورې نجونې دې خطرناکې نړۍ ته راکاږي.

خو ډېری خلک دا پوښتنه کوي: یوه نجلۍ څنګه د نشه يي توکو کارول پیلوي او بیا پرې روږدېږي؟

نجونې دوه ډوله دي: لومړۍ هغه ده چې ملګری یې د نشې په هغه خیالي خوند قانع کړي چې دی یې ادعا کوي؛ نو په خپله خوښه د نشه يي توکو لاره ومني. دویمه هغه ده چې ملګری یې د ځینو ګولیو پوډر په څښاک کې ورواچوي او وغولوي؛ ناڅاپه ځان روږدی او د اعتیاد د نړۍ په منځ کې ویني.

کیسه هغه مهال پیلېږي چې روږدی ځوان د مینه‌بازۍ له لارې د ځینو نجونو د راګیرولو لپاره خپله لومه وغوړوي؛ که د ټیلیفون له لارې وي، په بازارونو، رستورانتونو یا د ښوونځیو مخې ته وي، او یا له هېواده بهر د اوړي د رخصتۍ پر مهال وي.

ketabton.com - The Digital Library



کله چې نجلۍ یې په لومه کې ولوېږي، اړیکه یې ټینګه شي او دی یې له ځان سره وتلو ته قانع کړای شي، نو ښایي د ښوونځي د درسونو پر مهال یا د ښوونځي له پای وروسته ورسره ووځي؛ یا خپلې کورنۍ ته دروغ ووایي چې د ملګرې کور ته ځي؛ او یا له داسې کورنۍ سره تړاو ولري چې د نارینه او ښځې ترمنځ اړیکې هڅوي، عادي یې ګڼي او د ژوند د تجربو د ترلاسه کولو لپاره یې ګټورې بولي.

روږدی ځوان هغې نجلۍ ته ګوري او تر څه مودې اړیکې وروسته یې ډول پېژني: ایا په بشپړ ډول بې‌بنده ده، که لا یو څه حیا او ځان‌ساتنه لري؟ که له لومړي ډول څخه وي، په اسانه یې د سګرېټو په خوند قانع کوي؛ بیا یې ورو ورو پر مخ بیایي، تر دې چې په داسې لومه کې ولوېږي چې ځان ترې نه شي ژغورلای.

که له دویم ډول څخه وي او لا یو څه ډېره او حیا پکې ویني، که سګرېټ څکوي نو په سګرېټ کې چرس ورګډ کړي، یا د ځینو ګولیو پوډر ورواچوي؛ په دې توګه یې کنټرولول او خپله غوښتنه ترې پوره کول ورته اسانه شي. نجلۍ ورو ورو له دغو توکو سره عادت شي؛ بیا یې یوې بلې ګولۍ او بل نشه یي توکي ته بوځي، تر دې چې پر هیروینو روږدې شي.

تر څه مودې اعتیاد وروسته، روږدی ځوان خپلې نجلۍ ته په ډاګه ووایي چې نور ترې ستړی شوی او غواړي بلې ته ولاړ شي؛ یا نجلۍ په تصادفي توګه په دې خبره پوهه شي او عاطفي ټکان وویني. خو اوس حالت بدل شوی وي: هغه نور د پیل په څېر له ځوان سره تړلې نه وي، بلکې له نشه یي توکو سره تړلې وي.

ketabton.com - The Digital Library


ځکه چې د هغه ملګري پېژني، ټیلیفون ورته پیل کړي او نشه یي توکي ترې وغواړي. د نشې د ترلاسه کولو لپاره نوې اړیکې جوړې کړي، د هیروینو شپنی ناستې او د چرسو مجلسونه بیا بیا تکرار شي. که یوه ورځ له حده زیاته اندازه واخلي او د هغوی په مخ کې ولوېږي، ډېری روږدي کسان په داسې حالت کې د اوبو او مالګې پیچکاري ورکوي، څو که د وینې فشار یې ټیټ وي، پورته یې کړي.

خو ستونزه دا ده چې له حده زیاته اندازه کله ناکله د وینې فشار لوړوي؛ په داسې حالت کې د اوبو او مالګې پیچکاري فشار ډېر سخت لوړوي او سملاسي د مرګ لامل کېږي. که د هیروینو د پیچکارۍ له امله مړه شي، یا د اوبو د پیچکارۍ له امله، روږدي کسان وېرېږي چې پر وژلو به یې تورن شي؛ نو هڅه کوي چې له جسد څخه په هره لاره ځان خلاص کړي.

جسد د روغتون مخې ته، کندې، کثافاتو کانتینر، د ودانۍ پاتې شونو یا د برېښنا د ټرانسفارمر شاته وغورځوي. خومره دردونکې منظره ده چې د ګلونو په عمر یوه نجلۍ په کثافاتو کې پرته ووینې؛ پوستکی یې شین اوښتی وي او په غمجنه څېره کې یې وینه ډنډ شوې وي.

دلته بله پوښتنه راپورته کېږي چې روښانه ځواب غواړي: «هغې چا ووژله؟ نشه یي توکو؟ ملګرو یې؟ که هغې خپل ځان وواژه؟»

ketabton.com - The Digital Library



دا هغه څه دي چې د پلټنو په دوسيو او ورځپاڼو کې ليکل کېږي؛ خو د دې ښکلې ګل په څېر نجلۍ اصلي قاتلان مور او پلار دي. هغوی خپل روزنيز مسووليت نه دی ترسره کړی او د نارينه او ښځې ترمنځ يې د اړيکو خطر سپک ګڼلی، په دې پلمه چې: «پرېږدئ، ساعت دې تېر کړي». بيا چې نو ناروا پېښه وشي، پښېماني ګټه نه کوي.

درېيم قاتل د پوهنې وزارت دی چې د زده کړې د ټولو پړاوونو لپاره داسې لازمي روزنيز نصاب نه جوړوي چې د نشه يي توکو خطر بيان کړي. څلورم قاتل د عدليې وزارت دی چې تر اوسه يې د نشه يي توکو سوداګر په عامه ډګرونو کې پر دار نه دي ځړولي، څو ټول ترې عبرت واخلي.

مونږ له الله تعالی غواړو چې پر مړو رحم وکړي او مرګ يې هغو کسانو ته عبرت وګرځوي چې لا هم د نشه يي توکو پر کارولو او اعتياد ټينګار کوي. په کويټ، خليج، عربي او اسلامي نړۍ کې خپلو روږدو زامنو او لوڼو ته غږ کوو: ستاسې ځای به يا زندان وي، يا د مرګ غېږ. ژوند ته بېرته راشئ او د نورو انسانانو په څېر ژوند وکړئ. لا وخت شته او د الله تعالی لاس د توبې لپاره پرانيستی دی.

## ۴۶. له اعتیاده توبه کوونکې

زما د ژوند له تر ټولو خوشالو شېبو څخه یوه هغه ده چې د نشه یي توکو له اعتیاده د کوم روږدي سړي یا ښځې د توبې خبر واورم. باید یادونه وشي چې د روږدې ښځې کړاو د روږدي سړي له کړاو څخه څو برابره زیات دی، او د هغې د اعتیاد له امله رامنځته شوی تاوان یوازې هغه څوک درک کولای شي چې د هغې غمیزه یې تجربه کړې وي. له همدې امله د کومې روږدې ښځې د توبې په اورېدو ډېر خوشالیږم.

د یوې توبه کوونکې ښځې لیک مې ترلاسه کړ چې د خپلې توبې زېری یې راباندې کاوه. د لیک په هر توري کې یې رښتینولي احساسېده، او په ټینګار یې ویل چې د ایمان لاره د روږدو کسانو د توبې باوري لاره ده.

هغې لیکلي وو:

د «عالمکشوف»[۳۳] ګوټ (برخي) ته، او په ځانګړي ډول استاد عبدالحمید البلالي ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زه هغه نجلۍ یم چې د هغو وژونکو نشه یي توکو له شره مې الله عزوجل ته توبه ایستلې ده چې زما خوبونه او راتلونکی یې له منځه یوړل، او په خپلو فریبجنو خیالونو یې د تباهۍ پر لاره روانه کړم.

---

۳۳ «عالمکشوف» د هغه ګوټ نوم و چې لیکوال به په ځینو کویټي ورځپاڼو کې ورته لیکنې کولې.

ketabton.com - The Digital Library


تر دې ټولو مهمه دا ده چې هر کله د اعتياد يا نشه يي توکو په اړه کومه جمله ولولم، پر خپل عمر او د ژوند پر هره ضايع شوې دقيقه له قهر او خپگانه نږدې مرم. له خپل ځان څخه کرکه کوم او له الله تعالی غواړم چې ښښنه راته وکړي، او هغو بدو ملگرو ته د عمل بدله ورکړي چې د دې ظالم بهير پر لور يې ورټېل وهلم.

قدرمن استاده! ستا دا گوټ د چارو ډېر پټ حقيقتونه رابرسېره کوي. زه يې لوستلو ته ډېره لېواله يم. له غوړه‌مالۍ پرته وايم چې په لوستلو يې ډاډمنېږم او د کلمو له املې يې رواني ارام احساسوم.

قدرمن استاده! له تا او له هر هغه چا څخه چې د کويټ د دې روښانه راتلونکي د ځوانانو او پېغلو پروا لري، دا غوښتنه کوم چې د نشه يي توکو پرېښودونکي کس ته د «روږدي» پر ځای د «توبه کوونکي» کلمه وکاروئ. په الله تعالی او د شريفې کعبې په رب قسم، هر کله چې د «روږدي» کلمه ولولم يا يې واورم، زړه مې له درد او پښېمانۍ ټوټه ټوټه شي.

له الله تعالی څخه ښښنه غواړم، او دعا کوم چې زموږ د ټولو توبه قبوله کړي او خپل قهر پر هغو وژونکو لاسونو نازل کړي چې د نن ورځې ځوانان تباه کوي.

له اعتياده توبه کوونکې: ل. ...»

له الله تعالی غواړم چې تا او له تا سره ټولو توبه کوونکو ته ايمان، رښتيني توبه او د ايمان پر لاره ثبات درکړي؛ ځکه په ايمان سره پر اعتياد بريالي کېږو.

ketabton.com - The Digital Library


## ۴۷. زموږ عادتونه پر موږ واک چلوي

په دې ورځو کې د الکسندر لوکهارت په زړه پورې کتاب لولم چې نوم يې «POSITIVE CHANGES» دی. ليکوال پکې ۵۴۴ داسې لارې يادې کړې دي چې د ورځې په ټولو ساعتونو کې دې پرله‌پسې لاسته راوړنو ته رسوي.

په دغو لارو کې د يوې په اړه وايي: «په ياد ولرئ چې عادتونه موږ جوړوو؛ خو ډېر وخت نه تېرېږي چې په پای کې همدا عادتونه پر موږ واکمن شي».

د سګرېټو له يوه ډېر سخت روږدي ملګري څخه مې وپوښتل: «ايا کله دې د سګرېټو د پرېښودلو فکر کړی دی؟»

هغه دې پوښتنې حيران کړ او پلمه يې وکړه چې د سګرېټو پرېښودل له تر ټولو سختو چارو څخه دي.

ما وويل: ايا دا کار ناشونی دی، که شونی؟

هغه وويل: شونی دی.

ما وويل: نو ولې يې نه ازمويې؟ فلاني وازمايه او بريالی شو، بل فلاني هم وازمايه او بريالی شو. کله چې يې سګرېټ پرېښودل، پوه شول چې «د سګرېټو پرېښودل ناشوني دي» يوه ستره دروغجنه خبره وه. اصل د انسان اراده ده؛ که څوک د پرېښودلو اراده وکړي، کولای يې شي.

ketabton.com - The Digital Library



ځینې خلک، د بېلګې په توګه، د ماښام پر مهال د وریجو خوړلو عادت لري. ځینې نور هره شپه په حجره یا مجلس‌خونه کې تر ناوخته د ناستې عادت لري، او ځینې د شپې تر یوې یا دوو بجو پورې د ټلوېزیوني خپرونو په کتلو روږدي دي.

نور کسان بیا داسې بد عادتونه لري چې روغتیا، ټولنیز ژوند یا اقتصادي حالت ته یې زیان رسوي. که یې د پرېښودلو پرېکړه هم وکړي، د دغو عادتونو له بنده ځان نه شي خلاصولای؛ خو زموږ ډېری کسان هڅه کوي خپل ځان قانع کړي چې دا کار ناشونی دی.

## ۴۸. مثبت‌فکره خلک

دا د انسانانو هغه ډله ده چې په هر وخت او هر ځای کې شته. هغوی د ژوند پر خنډه، یا د ځارویو په څېر ژوند کول نه مني. تاوان په ګټه، غم په خوښۍ او کړاو په لورینه بدلوي. همدوی د ژوند جوړوونکي او د هغه د حرکت، ودې او غوړېدا اصلي لامل دي.

هغوی د خپل اوس، راتلونکي او له دې نړۍ څخه تر تللو وروسته وخت لپاره کار کوي. جسدونه یې زموږ له منځه ځي؛ خو کارونه یې دنګ پاتې کېږي او د هغوی ورکړه را په یادوي. هغوی د الله تعالی دا وینا په ښه ډول درک کوي:

﴿إِنَّا نَحْنُ نُحْيِي الْمَوْتَىٰ وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا وَآثَارَهُمْ وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ فِي إِمَامٍ مُبِينٍ﴾ [۳٤]

ژباړه: «بېشکه همدا موږ مړي ژوندي کوو، هغه څه لیکو چې مخکې یې لېږلي دي او د هغوی نښې او اغېزې هم؛ او هر څه مو په یوه روښانه کتاب کې شمېرلي دي».

له همدې امله هڅه کوي داسې ښې نښې پرېږدي چې آن تر مرګ وروسته یې هم ژوندي وساتي. هغوی تل پر ژوند داسې نښانونه پرېږدي چې ښکلا او خوښي یې زیاتوي: خیریه کارونه، اختراعات، وړاندیزونه، پوهه، یا داسې نېک اولادونه چې د خپلو پلرونو د خیر لاره روانه وساتي او هغو کارونو ته دوام ورکړي چې پلرونو یې پیل کړي وو.

---

۳٤ (یس: ۱۲).

ketabton.com - The Digital Library



زه د هغو خلکو د حال پر اورېدو خپه کېږم چې خپل ځانونه په ځنځیرونو تړي او د کړاو پر مهال له ژونده گوښه کېږي؛ حال دا چې کړاو د آدم پر هر اولاد حتمي دی. یو کس ځکه ځان گوښه کوي چې ړوند شوی دی؛ بل په کور کې گوښه او د خپلې بسترې بندي شي، ځکه د بدن یوه خوا یې فلج شوې ده؛ او بل ناهیلی شي او یوازې له دې امله بل هېواد ته کډه وکړي چې د کار او نوښت فرصت نه دی ورکړل شوی.

که ټول خلک پر همدې ډول روان شي، ژوند به ودرېږي. اې په کړاو اخته انسانه! د ژوند د فلج کېدو لامل مه کېږه. د الله تعالی پر تقدیر راضي شه، له مصیبت څخه لوړ شه، له هغه څخه یوه لاسته راوړنه جوړه کړه او غم په خوښۍ بدل کړه. په ژوند کې لا د دې ټولو لپاره پراخه ساحه شته. له هغو کسانو څخه شه چې تر مرگ وروسته هم د ودانولو په بهیر کې د خپلې ونډې او د ناهیلۍ د ماتولو له امله ژوندي پاتې کېږي.

ketabton.com - The Digital Library


## ۴۹. ناکامي د بريا لاره ده

ساينسپوه اډيسن د برېښنايي څراغ د اختراع لپاره تر زرو زياتې هڅې وکړې؛ خو هر ځل ناکام شو. يوه خبريال، چې ملنډې يې پرې وهلې او د هڅو پر دوام يې د هغه له ټينګار څخه حيران و، کله چې لا د لارې په نيمايي کې و ترې وپوښتل: «تر پنځه سوه زياتې هڅې دې وکړې، خو بريالى نه شوې؛ ايا دا ناکامي د دې لامل نه شوه چې خپلې هڅې پرېږدې؟»

اډيسن ځواب ورکړ: «زه ناکام شوى نه يم؛ بلکې د رڼا د ترلاسه کولو لپاره مې پنځه سوه ناسمې لارې زده کړې دي».

له دې مرکې وروسته يې خپلې هڅې روانې وساتلې، تر زرو واوښتې او په پاى کې زموږ د معاصرې نړۍ په يوه ستره اختراع کې بريالى شو.

څومره ډېر کسان شته چې ځينې پروژې پيل کړي؛ خو له لومړۍ ناکامۍ سره ودرېږي، په ناهيلۍ او له بريا څخه د نااميدۍ په څرخ کې راګير شي؛ که د سوداګرۍ په ډګر کې وي، که د رسنيو، ټولنيزو اړيکو، خيريه چارو يا نورو برخو کې.

ټام پيټرز په خپل نوي کتاب «ازاده اداره؛ په نويمه لسيزه کې د اداري هرم پاى» کې وايي: «خپلې ناکامۍ هڅې زياتې کړه؛ هر څومره چې ډېر ناکامېږې، هومره بريا ته نږدې کېږې».

پر الله تعالى او د هغه پر قدرت باور، بيا پر خپل ځان او خپلو ځانګړو وړتياوو باور، د هرې پروژې د بريا لاره ده چې پيلوې يې. له ناکامۍ پرته بريا نشته.

ketabton.com - The Digital Library


## ۵۰. همدوی بریالي کېږي

د امریکا «ییل» پوهنتون د هغو محصلانو د شمېر په اړه څېړنه وکړه چې خپل روښانه هدفونه یې لیکلي او د ترلاسه کولو لپاره یې پلانونه جوړ کړي وو. څېړنې وموندله چې د پوهنتون د وروستي کال درې سلنه محصلانو دا کار کړی و.

شل کاله وروسته څېړونکو له هماغو درې سلنه محصلانو سره اړیکه ونیوله، څو د هغوی مالي او ټولنيز حالت وڅېړي. ځرګنده شوه چې دغو درې سلنه کسانو، چې خپل هدفونه یې لیکلي وو، دومره مالي عاید ترلاسه کړی و چې د پاتې اووه‌نوي سلنه کسانو له ټول عاید سره برابر و.

الله سبحانه وتعالی، کله چې موږ پیدا کړو، راته یې څرګنده کړه چې زموږ د هر یوه عمر محدود دی، هېڅوک به په دې دنیا کې تل پاتې نه وي او هېڅوک به له مرګ وروسته بېرته دنیا ته نه راګرځي. نو وخت زموږ په ژوند کې تر ټولو ارزښتناک شی دی. که له وخت څخه تر ټولو غوره ګټه وانه خلو، تېر به شي او زموږ انتظار به ونه کړي؛ تر دې چې ناڅاپه له دې نړۍ څخه د تګ شیبه راورسېږي.

د دې ژوند بریالي کسان په دې حقیقت پوهېږي؛ له همدې امله خپل ژوند پلانوي او تل لاسته راوړنې لري. بریالي کسان د خپلو اولادونو، خپل ځان او هغو ادارو لپاره پلان جوړوي چې پکې کار کوي. هر کال پوهېږي چې له خپلو اولادونو سره کوم کارونه ترسره کول غواړي: لامبو ور زده کول، یوه ژبه ور زده کول، د قرآن کریم د څو برخو حفظ ور کول، یا د ژوند کوم مهارت ور زده کول.

ketabton.com - The Digital Library


د خپل ځان لپاره هم پلان جوړوي: څومره شتمني راټوله کړي، څومره پوهه او فرهنګي وده ترلاسه کړي، او داسې نور.

خو ناکام کسان هر څه زمانې ته پرېږدي چې لوبې پرې وکړي، او غواړي له اسمانه ورته سره زر یا سپین زر ووریږي. مګر د قرآن کریم ثابت حقیقت وایي:

﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ﴾ [۳۵]

ژباړه: «بېشکه الله د یوه قوم حالت تر هغه نه بدلوي، څو هغوی هغه څه بدل نه کړي چې په خپلو ځانونو کې دي».

---

۳۵ (الرعد: ۱۱)

ketabton.com - The Digital Library



## ۵۱. حقیقي ړوندوالی

یو امریکایي متل وایي: « There are none blind as those who will not see»؛ یعنې: «له هغو کسانو څخه بل سخت ړوند نشته چې لیدل نه غواړي».

همدا په رښتیا حقیقي ړوندوالی دی. په خلکو کې یوه داسې ډله شته چې له عیبونو ډکه ده؛ خو نه غواړي خپل عیبونه وویني. د کمال په وهم کې ژوند کوي، او له همدې امله په خپلو تېروتنو، ظلم، سختزړیتوب، حماقت او زیان کې دوام ورکوي او ډېر خلک له لاسه ورکوي. الله تعالی د ډېرو داسې خلکو په اړه فرمایي:

﴿قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا ۝ الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا﴾[36]

ژباړه: «ووایه: ایا تاسو ته د هغو کسانو خبر درکړو چې د عملونو له پلوه تر ټولو ډېر زیانمن دي؟ هغوی چې په دنیوي ژوند کې یې ټولې هڅې ضایع شوې دي، حال دا چې هغوی گومان کوي چې گواکې خورا ښه کارونه کوي».

هغوی له سمې لارې اوښتي، له حق څخه لرې دي او تر هډوکي پورې په گناه کې ډوب دي؛ خو بیا هم گومان کوي چې له تېروتنو پاک او د اخلاقو په لوړه څوکه کې دي.

---

۳۶ (الکهف: ۱۰۳-۱۰۴).

ketabton.com - The Digital Library


له همدې امله ډېره سخته ده چې هغوی د هغو عیبونو پر حقیقت قانع شي چې نفسونه یې ترې ډک دي، یا د خپلو ناوړه اخلاقو، په پرېکړو کې د څرګند کږوالي او ناسمو کړنو په اړه حقیقت ومني. بلکې هغوی ړوندوالی په نورو کېویني، نه په خپل ځان کې، او په زړه کې په رښتیا باور لري چې همدوی پر حق دي.

الله تعالی د هغوی په اړه فرمايي:

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ﴾ [٣٧]

ژباړه: «او کله چې ورته وویل شي: په ځمکه کې فساد مه کوئ، وايي: موږ خو یوازې اصلاح کوونکي یو».

او خالق جل جلاله رښتیا ویلي دي:

﴿فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ﴾ [٣٨]

ژباړه: «ځکه په حقیقت کې سترګې نه ړندېږي، بلکې هغه زړونه ړندېږي چې په سینو کې دي».

ستا په اند دا متل به پر څومره خلکو صدق کوي؟ او څومره کسان داسې اخلاقي جرئت لري چې په خپلو تېروتنو او عیبونو اعتراف وکړي او بیا له سره د سمې لارې پر لور روان شي؟

---

٣٧ (البقرة: ١٢).

٣٨ (الحج: ٤٦).

ketabton.com - The Digital Library


شک نشته چې د ټولنې پر ډېرو طبقو دا متل صدق کوي، او يوازې لږ کسان له دې ډول ړوندوالي څخه خلاص دي.

په هره ټولنه کې چې د خپلو عيبونو ليدونکي خلک ډېر شي، د هغې ټولنې پرمختګ هم زياتېږي؛ ځکه هغه ټولنه تېروتنه نه مني او تل يې د سمولو هڅه کوي.

طبيعي ده چې دا ډول حقيقي ړوندوالی په وروسته پاتې ټولنو کې ډېر وي؛ هلته ولسونه د تېروتنو او ګناهونو مشران ستايي، بلکې هغوی تر خالق هم ډېر تقديسوي.

ketabton.com - The Digital Library


## ۵۲. کمال‌غوښتونکي

خالد بن صفوان له يوې داسې ښځې څخه، چې د ودونو منځګړې (خطّابه) وه، وغوښتل چې د ده لپاره يوه مېرمن پيدا کړي.

هغې ورته وويل: «ځانګړنې يې راته بيان کړه؟»

هغه وويل: «داسې پېغله غواړم چې د وادەليدلې ښځې په څېر وي، يا داسې وادەليدلې ښځه چې د پېغلې په څېر وي؛ له نږدې خوږه او له لرې باوقاره وي. پخوا په نعمت کې اوسېدلې وي، بيا پرې تنګلاسي (فقر) راغلې وي؛ نو د نعمت ادب او د اړتيا عاجزي دواړه ورسره وي. کله چې سره يوځای شو، د دنيا د خلکو په څېر واوسو، او کله چې سره جلا شو، د آخرت د خلکو په څېر واوسو».

هغې وويل: «ستا لپاره مې پيدا کړه».

هغه وويل: «چېرته ده؟»

هغې وويل: «د جنت په تر ټولو لوړه ملګرتيا کې؛ نو د هغې لپاره عمل وکړه». [۳۹]

---

۳۹ (العقد الفريد، ۶/۱۰۷)

ketabton.com - The Digital Library


ځیني ځوانان د «کمال‌غوښتني» د عقدې له امله ډېر ځنډوي. غواړي چې نجلۍ په ظاهره د ښکلا د ملکې ځانګړنې ولري او په باطن کې د صحابیاتو رضي الله عنهن اخلاق؛ نو هره نجلۍ چې ورته وړاندې شي، یو عیب پکې پیدا کوي. داسې کس ته که د یوسف علیه السلام د ښکلا او د محمد صلی الله علیه وسلم د لور فاطمې رضی الله عنها د اخلاقو په څېر ځانګړنې لرونکې ښځه هم ورشي، بیا به یې هم رد کړي؛ ځکه عقده او نیمګړتیا په ده کې ده، نه په نورو کې.

دغو ځوانانو ته پکار ده پوه شي چې له الله سبحانه وتعالی پرته هېڅ کامل نشته، او په انسانانو کې نسبي کمال هم تر ډېر لږ، لا لږ دی. داسې انسان نه شي موندل کېدای چې هېڅ عیب ونه لري. نو کله چې ځوانان د واده پرېکړه کوي، باید د مطلوبو ځانګړنو لپاره معیارونه او لومړیتوبونه وټاکي؛ په سر کې یې اخلاق او دین دي. د ښکلې نجلۍ په ټاکلو کې هم کومه ستونزه نشته؛ ځکه « الله تعالی ښکلی دی او ښکلا خوښوي »، خو یوازې ښکلا د انتخاب پرېکنده معیار نه ده. په منلو وړ ښکلا بسنه وکړه چې ورسره ستر اخلاق وي او له داسې کورنۍ څخه وي چې د هغې په اړه له ښو اخلاقو او نیک‌لارۍ پرته بل څه نه وي پېژندل شوي.

د دې پرېکړې هر ډول ځنډ د ځوانانو په ګټه نه دی؛ ځکه انسان چې عمر یې لوړېږي، د اولاد د پیدا کولو توان یې کمېږي او د ماشومانو د روزنې وړتیا یې هم راکمېږي. او پوه شئ چې له الله تعالی پرته هېڅ کامل نشته.

ketabton.com - The Digital Library


## ۵۳. د شخصيت ځواک

قوي شخصيت داسې تعريفېږي: «په يوه انساني ډله کې د يوه کس د اغېز ځواک، څو د هغې ادارې ورسپارل شوي هدفونه پوره کړي؛ د هغو شخصي ځانګړنو په مټ چې د دې اغېز وړتيا ورکوي».

د ادارې په برخه کې ډېرو څېړونکو پر دغو ځانګړنو بحث کړی او د شمېر په زياتوالي او کموالي کې يې اختلاف کړی؛ خو ډېری يې پر لاندې بنسټيزو ځانګړنو سره يوه خوله دي:

١. ژوره فرهنګي پوهه.

٢. اوږده تجربه.

٣. انساني اخلاق؛ لکه پراخ زړه، د بل نظر زغمل، بردباري او د چا نه سپکاوی.

۴. مشوره؛ عرب وايي: «د تېنګې پرېکړې پيل مشوره ده».

۵. د مخاطبينو د رواني حالتونو پېژندنه.

٦. د قناعت ورکولو ځواک.

دغه څېړونکي پر هغو ځانګړنو هم بحث کوي چې شخصيت کمزوری کوي، خو خاوند يې ګومان کوي چې همدا د قوي شخصيت د ترلاسه کولو لاره ده. د دغو ځانګړنو په سر کې «غوسه» راځي، او ورپسې چيغې، سخت پارېدنه او د ټولو وړانديزونو همېشنی ردول دي. رسول الله صلی الله عليه وسلم د دې وهم خاوندانو ته ځواب ورکوي او فرمايي:

ketabton.com - The Digital Library


«لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ، إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ». [٤٠]

«زورور هغه نه دی چې خلک په غېږه کې راپرځوي؛ بلکې زورور هغه دی چې د غوسې پر مهال پر خپل نفس واک ولري».

پر ځان واکمن پاتې کېدل د قوي شخصيت له تر ټولو څرګندو ځانګړنو څخه دي. کله چې د هغو مشرانو ژوندليکونه لولو چې خلک يې خوښوي، وينو چې د غوسې پر مهال پر ځان واک ساتل د هغوی له تر ټولو څرګندو ځانګړنو څخه دي.

د امام احمد بن حنبل رحمه الله په ژوندليک کې راغلي چې يو سړی راغی او د امام ابو حنيفه رحمه الله په اړه يې ترې پوښتنه وکړه. امام احمد خپل لاس وخوځاوه؛ پوښتونکي ګومان وکړ چې دا د امام ابو حنيفه سپکاوی دی، نو هغه ورته وويل: «د امام ابو حنيفه بولې تر دې غوره دي چې ټوله ځمکه ستا په څېر کسانو ډکه وي.» امام احمد ورته يوه کلمه هم ځواب نه کړه، پرې يې ښود او لاړ.

هماغه سړی د دويمې ورځې له سهار لږ مخکې، پر خپلې خبرې پښېمانه، امام احمد ته راغی او د هغې خبرې بښنه يې ترې وغوښته. امام احمد ورته وويل: «زما پښې لا له هماغه ځايه نه وې خوځېدلې، چې ما ته بښلی وې». همداسې پر ځان واک ساتل کيږي، او همداسې قوي شخصيت وي. [٤١]

---

٤٠ دا حديث امام احمد په صحيح سند روايت کړی؛ وګورئ: صحيح الجامع الصغير، ٥٣٧٥.

٤١ مناقب الإمام أحمد، مخ ٢٢٢.

## ۵۴. تر ټولو نږدې هنداريې ته وګوره

سټيفن ايسکو په انټرنېټ کې د «Cyber Quotation» په وېب‌پاڼه کې خپله په زړه پورې مقاله د «شخصي بريا لپاره ١٢ ګامونه» تر سرليک لاندې ليکلې ده.

هغه د دغو ګامونو په لومړي سر کې ليکي: «تر ټولو نږدې هنداري ته وګوره؛ هغه کس چې ته يې وينې او دی درته ګوري، ستا د بريا يوازينی مسؤول هماغه دی. موسکی شه؛ بل داسې څوک نشته چې ستا د بريا لامل وي، يا د ناکامۍ پر مهال ملامتي پرې واچوې. بريالي خلک د هر هغه څه بشپړ مسؤوليت پر غاړه اخلي چې کوي يې».

زموږ په ټولنه کې ډېر داسې کسان ژوند کوي چې د خپلو ټولو ناکاميو او ماتې پړه پر نورو اچوي. که بل څوک پيدا نه کړي چې ملامتي پرې واچوي، نو مسؤوليت «بخت، واسطې او پېريانو» ته ور اړوي؛ خو په ډېرو حالاتو کې پړه پر ظالم مسؤول، کينه‌کښ خپلوان او فلانۍ جادوګرې اچوي.

د «سټيفن» د تعريف له مخې د ناکامو خلکو بېلګې په ټولنه کې ډېرې دي او د ژوند ټول اړخونه رانغاړي: له سياسي ژونده نيولې، تر هنري او ورزشي، بيا تر اقتصادي، روزنيز او امنيتي ژوند، او د دغو لويو برخو ټولې څانګې.

زموږ ډېری کسان خپله ناکامي پر نورو ور تړي؛ ډېر، ډېر لږ کسان دومره جرئت لري چې د تر ټولو نږدې هنداري مخې ته ودرېږي او په خپلو سترګو د خپلې ناکامۍ يا بريا حقيقي مسؤول ووينې، بيا خپله لار سمه کړي، تېروتنې اصلاح کړي، ناکامي په بريا، کړاو په لورينه او منفي ټکي په مثبتو بدل کړي. دا کسان د خلکو يوه وړه ډله ده.

ketabton.com - The Digital Library


## ۵۵. «ستا شا ستا خپل نوک ګروي»

له تر ټولو ښکلو او پیاوړو کویټي متلونو څخه یو دا دی: «ما یحك ظهیرك إلا ظفیرك»؛ یعنې: «ستا شا ستا له خپل نوک پرته بل څوک نه شي ګرولای.» له دې سره برابر عربي متل دی: «ما حك جلدك مثل ظفرك»؛ یعنې: «ستا پوستکی ستا د خپل نوک په څېر بل څه نه شي ګرولای».

د دې متل ستر ارزښت د هغه له ښکلې پیغامه راولاړېږي چې خلک هڅوي په هر څه کې پر خپل ځان تکیه وکړي او پر نورو یوازې په هغو چارو کې تکیه وکړي چې پخپله یې ترسره کول ناشوني وي.

پر دې ځمکه داسې څوک نشته چې د یوې ستونزې یا اړتیا احساس دې د هغې د خاوند په اندازه وکړي. له همدې امله، کله چې د اړوند کس پر ځای بل څوک کار ترسره کوي، د هغه کار لپاره لېوالتیا هم راکمېږي.

پر نورو د تکیې تر ټولو خطرناک اړخ دا دی چې په انسان کې ډېرې خطرناکې او بدې ځانګړنې راټوکېږي؛ لکه «لټي، ځنډول، سبا ته پرېښودل، د مهمو کارونو په سرته رسولو کې ځنډ، له نورو وروسته پاتې کېدل او په ټولنیز ژوند کې ناکامي»؛ او کېدای شي آن د نشه یي توکو اعتیاد ته یې ورسوي.

ketabton.com - The Digital Library


پر نورو د تکيې پيل د انسان له ماشومتوبه کېږي؛ هغه مهال چې مور او پلار يې پر خپل ځان له تکيې کولو محروموي او هر څه د هغه پر ځای کوي: «خواړه، جامې، زده کړه، د کوټو ترتيب، د خوړو او جامو ټاکنه او نور کارونه.» ځينې ميندې او پلرونه له خپلو اولادونو سره تر ډېر عمره همدې چلند ته دوام ورکوي، تر دې چې دا اولاد نږدې د يوه فلج انسان په څېر شي او هېڅ کار نه شي کولای.

که ته هم له هغو کسانو څخه يې چې  الله تعالی په دې ناروغۍ اخته کړی يې، نو ژر تر ژره ترې ځان خلاص کړه، مخکې له دې چې درکې پياوړې شي او ستا پاتې وړتياوې هم له منځه يوسي. لاره يې دا ده چې په هر څه کې پر خپل ځان تکيه وکړې؛ ځکه ستا د خپل کښت او کروندې تر مېوو بل څه نه ډېر ښکلي دي او نه ډېر خوندور.

ketabton.com - The Digital Library


## ٥٦. «زما بخت نشته»

ډاکټر هاريسن ايليوټ په خپل کتاب «الموسوعة النفسية» (مخ ۷۲) کې وايي: «ډېر کسان هغه تګلاره خپلوي چې له مسؤوليت څخه په تېښته د ځان توجيه کول ورته ويل کيږي. که دا ومني چې کومه نيمګړتيا لري، په ناخوښۍ يې مني؛ او د دې پر ځای چې په زړورتيا له خپلې نيمګړتيا سره مخامخ شي او مناسبه حل لاره ورته ومومي، وينې چې پړه يې پر وراثت، پر هغې ناروغۍ چې پخوا پرې اخته شوی و، د فرصتونو پر نشتون، يا پر داسې شرايطو اچوي چې د ده په واک کې نه وي، او يا پر بل څه».

د الله سبحانه وتعالی له عدل څخه دا ده چې د بريا فرصتونه يې ټولو ته برابر کړي دي. ځينې کسان د بريا اسباب په کار اچوي، خنډونو ته پروا نه کوي، بلکې په پرله‌پسې مبارزه کې يې ننګوي؛ کله خنډونه پرې برلاسي شي او کله دی پرې برلاسی شي، تر دې چې په پای کې يې بشپړ مات کړي. له خپلو ناکاميو ګټه اخلي او په بريا يې بدلوي. ځينې نور بيا په دې بسنه کوي چې خنډونه ووينې، د هغوی مخې ته ژړا او فرياد وکړي او د خپلې ناکامۍ مسؤوليت او لاملونه پر نورو واچوي.

ډاکټر هاريسن ډېر ښه کړي چې په ژوند کې يې د ناکامو خلکو تر ټولو مهمې پلمې يادې کړې او د ټولو پلمو لړليک يې په يوې جملې کې راټول کړی دی: «مسؤوليت پر نورو اچول او خپل ځان له نيمګړتيا او تقصير څخه پاک ګڼل».

خو زموږ په چاپېريال کې ځينې داسې پلمې هم شته چې هاريسن د ناکامو خلکو د لاملونو په لړليک کې نه دي يادې کړې. ډېر کسان د خپلې ناکامۍ د توجيه لپاره وايي: «زه بخت نه لرم» يا «زه واسطه نه لرم».

ketabton.com - The Digital Library


د بریا لاره اسانه لاره نه ده؛ تر هغې مخکې هڅه او مبارزه، خوله او صبر، زغم او سختي شته؛ خو پای یې عزت او ښکلا، ارامي او بریا ده.

څوک چې په دې ژوند کې له ناکامۍ سره مخ دی، باید په یاد ولري چې پر الله تعالی تر توکل وروسته د بریا پر لاره لومړی گام پر خپل ځان تکیه کول او پر نورو تکیه پرېښودل دي. د عربو دا وینا دې هم په یاد ولري: «ما حك جلدك مثل ظفرك»؛ یعنې: «ستا پوستکی ستا د خپل نوک په څېر بل څه نه شي گرولای.» نو ژړا، د بد بخت له لاسه فریاد او له نورو سره حسد دې پرېږدي، او همدا اوس دې د خپل هدف د ترلاسه کولو لپاره د خنډونو په لرې کولو پیل وکړي.

ketabton.com - The Digital Library


## پایلیک

زما ګرانه زویه!

زما ګرانې لورې!

هیله لرم چې د دغو پیغامونو له لوستلو وروسته به دا لیکنې ستا لپاره د رڼا مشال او د دې ژوند د ډېرو رازونو د پرانیستلو کیلي شي؛ د بریا او غوره بدلون انګېزه درکړي، او د داسې پرېکړې په کولو کې مرسته درسره وکړي چې ته مشر شې، نه دا چې نور دې رهبري کړي؛ ژوند جوړ کړې؛ په خیر کې سرلاری شې، نه داسې لکۍ چې د هر نارې وهونکي او د شر په هر ډنډوره‌چي پسې روانه وي.

راپاځه! تر هغه مه ناهیلی کېږه چې په رګونو کې دې وینه روانه وي. خپله ناکامي په بریا بدله کړه، او له همدې شېبې پرېکړه وکړه چې یو بل انسان شې؛ داسې انسان چې د لارې په توګه یوازې بریا پېژني.

۲۰۰۳/۹/۲۰م

**د اسلامي کتاب د ۲۸م نندارتون ډالۍ - د عامه اړیکو او رسنیو اداره، د ټولنیزې اصلاح ټولنه - کویټ، ۱۴۲۴هـ - ۲۰۰۳م.**

# فهرست



| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| — | منّنه او ستاینه | |
| — | سریزه | |
| ۱ | زه له تا سره مینه لرم | ٦ |
| ۲ | واه، څومره ښکلي دي! | ۹ |
| ۳ | اې تنکۍ پېغلې، ځان وساته! | ۱۳ |
| ۴ | ایا ته ناپوهه يې؟ | ۱۵ |
| ۵ | وژونکی ټیلیفون | ۱۷ |
| ٦ | عابد او «عشق‌بازه نجلۍ» | ۲۱ |
| ۷ | بې‌ادبي | ۲۷ |
| ۸ | رښتیني مینه انتظار کوي | ۳۰ |
| ۹ | هغه ته څه ووایم؟ | ۳۳ |
| ۱۰ | زما خوښه ده؛ زه ازاد یم | ۳٦ |
| ۱۱ | په زړه پورې خبرې اترې | ۳۸ |
| ۱۲ | ګوابښ که حسد؟ | ۴۲ |
| ۱۳ | د ناورین پر لور | ۴۵ |

ketabton.com - The Digital Library



| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱۴ | راشه؛ خوند دلته دی! | ۴۷ |
| ۱۵ | «روا» زهر | ۴۹ |
| ۱٦ | د قهوې یوه پیاله او یو سګرېټ | ۵۱ |
| ۱۷ | «یوازې د دې لپاره چې له هغوی سره ځان برابره کړي» | ۵۳ |
| ۱۸ | په دې وخت کې بهر څه کوئ؟ | ۵۷ |
| ۱۹ | «غواړم سندره واورم» | ۵۹ |
| ۲۰ | سخت زړه‌تنګی احساسوم | ٦۲ |
| ۲۱ | خورې! حجاب مه څیروه | ٦۵ |
| ۲۲ | د وخت له تېرېدو مخکې | ٦۹ |
| ۲۳ | لرې سفر | ۷۳ |
| ۲۴ | ورک شوی ښځینه‌توب | ۸۱ |
| ۲۵ | ږیره او حجاب | ۸۳ |
| ۲٦ | د ازموینې ورکوونکو لپاره لارښوونې | ۸٦ |
| ۲۷ | د سمې مطالعې لارې | ۸۹ |
| ۲۸ | زه... خوشحاله نه یم | ۹۲ |
| ۲۹ | پام مو وي | ۹۵ |

ketabton.com - The Digital Library



| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۳۰ | نارینه‌نما ښځې | ۹۷ |
| ۳۱ | د ځان‌وژنې پدیده | ۹۹ |
| ۳۲ | ایا له ژونده همداسې وځې؟ | ۱۰۲ |
| ۳۳ | د برانډ عقده | ۱۰۵ |
| ۳۴ | «الله ماته هدایت نه دی کړی» | ۱۰۷ |
| ۳۵ | هیڅکله به واده ونه کړم | ۱۱۰ |
| ۳۶ | زموږ په کور کې یوه تنکۍ پیغله ده | ۱۱۲ |
| ۳۷ | Click here (دلته کلیک وکړئ) | ۱۱۴ |
| ۳۸ | انټرنېټ او جرم | ۱۱۶ |
| ۳۹ | تروه لیمو | ۱۱۹ |
| ۴۰ | په دنیا کې له دواړو سره په نیکۍ ژوند وکړه | ۱۲۱ |
| ۴۱ | «زما مور بې‌حجابه ده» | ۱۲۴ |
| ۴۲ | له حده زیاته اندازه (Overdose) | ۱۲۷ |
| ۴۳ | ثابته پاتې شه او زړه نا زړه کېږه مه | ۱۲۹ |
| ۴۴ | نږدې و چې ولوېږم | ۱۳۳ |
| ۴۵ | هغې چا ووژله؟ | ۱۳۵ |

ketabton.com - The Digital Library



| مخ | سرلیک | ګڼه |
|---|---|---|
| ۱۳۹ | له اعتیاده توبه کوونکي | ۴٦ |
| ۱۴۲ | زموږ عادتونه پر موږ واک چلوي | ۴۷ |
| ۱۴۴ | مثبت‌فکره خلک | ۴۸ |
| ۱۴٦ | ناکامي د بریا لاره ده | ۴۹ |
| ۱۴۸ | همدوی بریالي کېږي | ۵۰ |
| ۱۵۰ | حقیقي ړوندوالی | ۵۱ |
| ۱۵۳ | کمال‌غوښتونکي | ۵۲ |
| ۱۵۵ | د شخصیت ځواک | ۵۳ |
| ۱۵۸ | تر ټولو نږدې هنداري ته وګوره | ۵۴ |
| ۱٦۰ | «ستا شا ستا خپل نوک ګرولي» | ۵۵ |
| ۱٦۲ | «زما بخت نشته» | ۵٦ |
| ۱٦۴ | پایلیک | — |

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*